کابل

۱۹۶

THE LIBRARY OF
CONGRESS
SERIAL RECORD
APR 2 5 1945
COPY
INT'L EXCHANGE

وئې وایاست :

(۱) دیښتون شاعرانو کره کتنې او تنقیدونه

(۲) ریښا کاران (۳) او سنی ادب

(٤) ملی هندا ره

د وطن مینه

ستا د عشق له وینو ډك شوه ځگرونه ستا په لاره کښې بایلی زلمی سرونه
تا ته را سمه زړگی زما فارغ شی بې له تامی اند ېښنې دزړه مارونه
که هر څومی د دنیا ملکونه ډېر شی زما څخه هېر نشی داستا ښکلی باغونه
که تمامه دنیا یو خوا ته بل خوا یې زما خو خوښ دی ستا خالی تش ډگرونه

احمدشاه به دغه ستا قدر هېر نه کا
که و نیسی د تمام جهان ملکونه

(اعلیحضرت احمدشاه بابا)

(۱٤) کال جدی ۱۳۲۳ (۱۰) گڼه

کابل

ادبی ، اجتماعی ، تاریخی

میاشتنۍ مصوره مجله

چلوونکی : کل پاچا «الفت» دپښتو ټولنې مېصر

او دصحافت مدیر

پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ

تلگرافی پته : کابل : پښتوټولنه

ټول لیکونه ع، ص عبدالحی خان « حبیبی » دپښتو ټولنې کفیل او د ادبیاتو دفا کولتې

رئیس ته کېږی

اشـــــــتراک

کابل : ۲٤ افغانی

دننه مېنه : ۲٦ «

دباندی : ۱ سترلنگ پوند

دښوونځیوزده کوونکی ته ۱۲ افغانی

ددې ګڼې لیکونکی

لیك	لیکونکی	مخ
دپښتو شاعرانو کره کتنی او تنقیدونه	ښاغلی «حبیبی»	۱
ریاکاران	« «الفت»	۷
غوره سندری		۱۰
دمینی اور	مرحوم «مخلص»	۱٤
دمزارګلونه	ښاغلی سیدبها ؤالدین	«
بی تعبیریم	« «بینوم»	«
غزل	« «دردمند»	۱۵
منصف شه	« « جانان»	«
غلط	له طلوع افغانه څخه	«
علم او پوهه	ښاغلی «مصلح»	۱٦
دملیتو لوړنه	له طلوع افغانه څخه	«
غزل	ښاغلی «غریب»	۱۷
ریاکار انسان	« «الفت»	«
صحیح پیژندنه	« «	«
دسیندیه غاړه	«سیدبها ؤالدینخان	۱۸
دګلو غل	له انیس څخه	۱۹
شبنم	« « «	«
دتاګور سندری	د ښاغلی «سیفی» ترجمه	۲۰
دګهیز پرتم	« « «حبیبی» «	۲۲
لمړی وبر	« « « «	۲۳
زما زړه	« « «پروانه» «	«
ژبه	« « «خوږمن» «	۲٤
دتاریخی ګرامر تعریف	« « «رشتیا» «	۲۸
دافسانی ارتقا	« « «سیفی» «	۳۰
دادبیاتو تاریخ څنګه لیکل کیږی	« « «تره کی» «	۳۳
معرفة الافغانی	« «حبیبی»	۳٤
کور، کاله، کره	« «رشتین»	۳۷
دادبیاتو فاکولته	ښاغلی خبرلوڅ	۳۹
موزون خوراك	د « «سیفی» ترجمه	٤۲
دتاریخ فلسفه	« « «واسعی» «	٤٦
دافغانستان پخوانی تاریخ	« «کهزاد»	٤۸
علامهٔ حمیدالدین فراهی	« «ح»	٤۹
توکی تکالی	دصحافت څانګه	۵۰
ملی هنداره	ښاغلی «نوری»	۵۱
عکس (۱) قطعه		

دپښتو ادب د تاریخ یو څو پاڼی:

دپښتنو شاعرانو کره کتني او تنقیدونه

ښاغلي حبیبي

کره کتنه او تنقید د انساني فطرت یوه ښه او مفیده ممیزه ده ، له هغه وخته چه د انسان سترګی پر نړۍ سپخېدلی دی ، د کره کولو ډېر ګټور مظاهر په بشري ټولنه کښې لیدل کېږي .

د څېړنی او پلټنی فطري حس د هر انسان په خټه کښې پروت دی ، او هم دغه حس دی ، چه د بشر د څېړنی پر میدان ډېر فلسفي افکار او علمي حقایق ځلېدلی او په هر عصر کښې د فکر او سد خاوندانو د بشري معلوماتو په ډېر و لو او ارتولو کښې ښه او څرګند خدمتونه کړی دی .

د کره کولو او تنقید د ښه حس سرچینه هم د څېړنی د غریزي څخه دا بهیږي ، کم وخت چه د انسان فطرت د پلټنی او څېړنی تقاضا وکړي ، نو له دې چاري سره کره کتنه هم ملګرې وي .

په حقیقت کښې دغه کره کتنه ده ، چه انساني علوم او پوهنې ئې پر یوه حال او د خمود او جمود په ډګر کښې نه دی پرېښي ، او په هر عصر او په هر زمانه کښې انسان ته د څېړنی پرارت میدان د کره کولو په سترګه ، ډېر نوي علمي حقایق ښوولی ، او د انساني پوهنې په مواج دریاب کښې نوي ولې او سیندونه ورتوي کړي دي .

له هغه وخته چه انسان د یوه ابتدائي موجود په ډول پر دې نیمګړې دنیا راوپاڅېد ، دی د لوی څښتن د قدرت په مظاهرو کښې په فکر او چرت کښېووت دې فکر کولو دی وپاڅاوه چه د موجوداتو په حقایقو کښې د پلټنی له خوا داخل شي لمړۍ پلا ، دده معلومات ډېر بسیط او ابتدایي وه ، کلمه به ئې د لمر پرستش کاوه ، کله به ئې سپوږمۍ او باد او تالنده او اور او نور طبیعي مظاهر ارباب انواع ګڼل ، مګر هغه فکر او سد چه لوی خالق دده په ماغز و کښې ایښی وو په دغو پلټنو نشو قانع ، شاوخوائي وکتله ، او تر ټولو ئې لوړ او لوی خالق وموند ، او هم دا فکر دده سره وو ، چه د «وحدانیت» پلوشې پر و ځلېدې ؛ او یوه قادر متعال ته ئې د بندګۍ او عبادت سر کښته کړ .

دغسی نور ابتدائي معلومات او پوهنې هم سره یو ځای شوې ، انسانانو ټولو ته دغور په سترګه وکتل ، غلط او بې اساسه مواد ئې پرېښوول ، هر شی نه ئې په کره نظر وکاته ، څو چه د تنقید له پلوه علوم او فنون ټول مثبت حال ته ورسېده ، او لکه اوس لیدل کېږي ، دا سلسله جاري ده ، او دغسی به هم جاري وي . الی ماشاء الله .

د ژوندانه په ټولو اړخو او خواو کښې دا کیفیت جاري دی ، او ځکه چه (ادب) هم د بشري ژوندانه یو ټینګ رکن او محکم اساس دی ، نو طبعاً تر دغه حکم لاندی دی . تاسی وګورئ : ژبی په هر عصر کښې تحول کوي ، اوږی را اوږی ، نوی اشکال او صور مومی سوچه او کره کېږي . هغه څه چه ز مونږ نیکو نو زرکاله دمخه ویل اوس ئې مونږ نه وایو ، هغه فکر چه په ادبي نړۍ کښې دوی دمخه کاوه او س ئې لږ آثار او نخښې پاته دی .

داولی ؟ له دې جهته چه د انسان د کره کولو نظر ډېر تیز او غایر دی ، او دا فطري حس ټول شیان کره کوي ، سو چه او د پاتېد ووړ موادئې ساتي ، نور غورځوي او له منځه ئې باسي .

که د دنیا د ادب تاریخ ته ځیر شو ، په ټولو آدابو کښې دا فطري قانون او سنت الهي جاري دی او تل د کره کولو سترګی ځیري دی .

په اوسني عصر کښې ادبي تنقید (لټریري کریټک)

دعلم الادب یوه هسی مشهوره او مهمه څانګه ده ، چه دادب زده کوونکی ته ئی وینه او لوستنه لازمی ده ، او ځانته مخصوص فن دی، چه قواعد او اصول ئې خورا ډېر او زیات دی .

پخواهم په ادب کښې د انتقاد دروح و ، او شاعرانو به ځینی کره کتنی درلودې چه په پښتو ادب کښې هم له ابتداء څخه دغسی آثار لیدل کیږی ، اوهر شاعر دنورو کلام ته ځیر کیږی، او کره کوی ئې ، یعنی په تنقیدی نظر ورته ګوری.

خوشحال خان په پښتو ادب کښې لمړی سړی دی ، چه د تنقید له پلوه ئې اشعار ډېر خوازه دی، دی د یوه صداقت طرفدار دی ، چه هغه ئې په شعر کښې ښه ښکاری ، پر ځان ، پر نورو ، پر اوضاعو ، پر اخلاقو سخت انتقاد کوی ، او ژبه ئې په دې کار کښې ډېره تېره ده ، پخپله وایی :

ځما ژبه نه ده اور ده

ګزارونه د ټوپك کا

خوشحال خان دانتقاد او زیږه ویلو له پلوه لکه دعربی بشار داسی دی، دده له ژبی څوك په آسانه نه خلاصیږی ، دخپل عصر په ډېرو شیانو پوری ملنډی وهی ، په ادبی انتقاد کښې هم دغسی ګړندی دی .

ترده دمخه چه کوم مشهور شعراء تیر شوی دی په نقاد نظر ئې آثار او اشعار وینی ، اووایی :

دمیرزا دېوان می ومانده په ګوډی

مسخره می ارزانی خوشیکی زمند کړ

دده دانتقاد تله ډېره حساسه او ذره سنجه ده، متقدمین په ښه ډول په تللای شی، او ددوی ادبی وزن معلوموی، بیا ځانته هم په هغه نظر ګوری ، او په قرنو قرنو زمانه دیوه پاخه شاعر او ادیب دراتللو لپاره ټاکی ، لکه چه وایی :

چه لاف وهی د شعر

نن په دادوری دی ډېر

خدای دی نکاچه به وایم

حال د ویو تېر وبېر

څوك پاوی څوك نیم پاوی دی

« قلندر » پکښې نیم سیر

د موږه په حساب دی

هیڅ می ندی « واصل » هېر

بل « دولت » فقیر درې پاوه

زه ترې څو سر شاهی تېر

چه په سرای کښې به پیدا شی

پس له قرنه پوره سېر

عبدالحمید مهمند چه په پښتو کښې په موشکاف مشهور دی ، دپښتو دهندی سبك لوی غړی دی ، دی دادب پرډګر نقاد او کره کتونکی سړی دی، او هم دشعر او شاعری لپاره ځانته لار لری ، دده په عقیده شعر او شاعری « موشکافی » او ذره سنجی ده ، او ځکه چه په نورو شاعرانو کښې دا مزیت نه وینی، سخت انتقاد پر کوی، بلکه اکثر شاعران هم شاعران نه بولی ، دشاه ګدای په مقدمه کښې وایی :

نه دی کار دهر نااهل بوالهوس

چه قدم ږدی ددې ناوی په جوس

دقلم چاوده سینه ګوره دوه نیمه

هغه پل ږده دسره سخن په سیمه

څودوینو ددریاب مرجو نهانشی

مشرف به ددې در په رنها نشی

دوینا او شعر مقام هومره جګوی ، چه سړی ته ئې خاته مشکل ښکاری ، بیانو پر پخوانو تنقید کوی، دوی دمیدان حریفان نه ګڼی او وایی :

چه بازی په تېره تېغ کا دخبری

وښکې ډېرو پښتنو خپلی ډبری

یو حریف پکښې پیدا ددمیدان نشو

یو ظریف پکښې پیدا سخندان نشو

واړه وینم بوالهوس په دا میدان کی

تشی لوبی کاعبث په دا میدان کی

یوه ګوی د ګفتګو نه دی اخستی

ګفتګو درنګ وبو نه دی اخستی

نه ئې کړې په پښتو نوې نغمه ده

نه ئې ایښې په فارسی ژبه تغمه ده

لکه وړکی په کنجکو هوسېږی

نادیده په لږه چارغره موسېږی

«حمید» په دې مثنوی کښې د تنقید پر لار په خورا بیړه تللی دی ، اولکه چه د ځینو استادانو حق ئې هم د خپل شعر په نشه کښې پامال کړی دی ، خوشحال خان او رحمان بابا یقیناً د شعر په دنیا کښې تر ده ډېر حق لری ، مگر «حمید» دلته هسی جولان کوی ، چه د کوم حقدار حق په ستر گو نه وینی . او داسی ښکاری ، چه فقط ځان د دې میدان شهسوار گڼی ، او «ظریف سخندان» هم فقط ځان بولی وبس .

تر حمید لا بیا هم کاظم خان شیدا ښه دی ، داسړی هم ډېر موشگاف او د شوار پسند شاعر دی ، په پښتو کښې د پاړسو د سبك هند تلازمات او پیچلی عبارات ننه یستلی دی ، دی پنډ دیوان لری ، او د پښتو ژبه ئې د خپلو شاعرانه آمالو په تلفیقاتو لړلې ده ، په انتقاد کښې تر خه ژبه لری ، زیږه وائی . او د هر چا نکو هش کا مثلاً :

چه په د اژ به گو یادی — د دې فن سخن سرا دی
که عالم وی یا جاهل وی — که ناقص وی یا کامل وی
چه اشعار وته ئی گوری — خود ځما تر شعر پوری
هر کلام ئې نامو زون دی — چه نقصان ئې د قانون دی
حواله چه په تقطیع شی — گهی طعن گاه تشنیع شی
د کلام چه وزن نه وی — پر د نظم اطلاق څه وی ؟
قباحت پکښی لوی دادی — ودا نا ته هویدا دی
چه سره له دې نقصانه — داچا روگڼی آسانه
هر قایل پر اقدام وکا — په دا فن کښې کلام وکا
د پښتو شعر ذلیل شه — د هر چا قول دلیل شه
پښتانه چه شعر اه دی — له دی طرزه معرا دی
چه په لا فو دا شعار دی — په معنا د اشعار عار دی
نا واقف د سلیقې دی — نا بلد د طریقې دی
عندلیب وایی وځانته — راشی دا زیبا بوستانته
نشیمن ئې دا رنگ باغ شی — هم آهنگ د سیاه زاغ شی
گل پریشان کاله آهنگه — بیا غنچه کاندی دلتنگه

په دې ډول «شیدا» په خپلو حریفانو ملنډی وهی ، مگر کور ئې ودان وروسته چه د انصاف میدان ته راځی ، دغونی تنزل کوی ، او وایی :

په دا فن کښې څو اشخاص دی — ډېر د موږ خاندان خاص دی
یو میرزا ، دولت ، واصل هم — ښه کلام لری حاصل م
د پښتو شعر معلوم و — په معنا کښې کا لمعدوم و
چه قلم په لاس د خان شو(۱) — مرتب ئې لوی دیوان شو
تصانیف ئی فراوان شول — مستند د درست افغان شول
هر شاعر چه د افغان دی — زیره چین د خان د خوان دی
خان ممتاز د تمام روه دی — بل استاد د دې گروه دی

«شیدا» هسی پر حریفانو انتقاد کوی ، او په تند ویلو د دوی زړونه خوړینوی ، ښایی چه «یونس» دغه وینا وی ارو یدلی وی ، چه په ځواب کښې ویلل دی :

حقیقت ئې ویونس وته څرگند دی
ډېر غرور دی په خپل شعر ختك نه کا

پیر محمد کاکړ د پښتو شعر یو پیاوړی استاد دی ، دی چه خپلو پخوانو شاعرانو ته گوری ، په ادبی قضاوت او انتقاد کښې ډېر ځېر کیږی ، د ده فنی حواس لکه چه ښه تیز وه ، چه د هر چا حق ئې ښه ورکړی دی د رحمان بابا په خصوص کښې وایی :

که هر څو وایی نازك شاعران شعر
ولی دوی گڼی معجز د رحمان شعر
سوز گداز د محبت ئې مگر زیات وو
چه سوزان ئی هسی شان کړ بیان شعر
تر مصراع ئی جار شه لاړ د مرغلرو
په څه تار ئی آویخته کړ یکسان شعر

وروسته د خوشحال خان حق داسی ادا کوی ، او د انتقاد پر ډگر تر رشتیا ویلو نه تېریږی .

تر په شعر کښې هم سیال د خوشحال نشته
که څه درشت دی دا د ده سخندان شعر
که څوك بحر مواج وایی ورته ښائی
په دیوان که ئی مینده شی هر شان شعر
لکه شعر دی د ده په پښتو نخوا کښې
بل به کم وی په داوخت د افغان شعر

وگوری ، د رحمان بابا شعر ئی به «سوز او گداز» وستایه ، د خوشحال شعر ئی «بحر مواج» اما «درشت» وگانه ، دواړه هم دغسی دی .

---

(۱) له خان څخه مقصد خوشحال خان دی .

بیانو دنورو د شعر فضا وت کوی اووا یی :

بیارنگین شعر بیان عبد القادر کړ

داشرف دی هم تردهنه سوزان شعر

پس لهدویهموشگاف عبدالحمید دی

چهئیدی ښه نازك ، نکته دان شعر

دعبد القادر شعر ته «رنگین» ویل اوداشر فخان داترده «سو زان» بلل هم خوشی الفاظ ندی . خوك چهپه پښتو ادب کښې مطالعه لری ، د دغو الفاظو تقدیر کولای شی !

بیانو دمیرزا په خصوص کښې ځنگه حقیقی حکمیت کوی ، هلته چه وایی :

دمیر زاشعر به جوړوو لی د ریغه

پهوحشی الفاظوده کړ و یران شعر

میرزا یقیناً دغسی کړیدی او وحشی کلمات ئی هسی په شعر کښې کوته کړ ی دی چهخو ندئې وربد کړی دی .

پیرمحمد دځان په باره کښې پهپته خوله ندی پاته اولکه چهحق هملری ، پهمعا صرینو کښې ځان استا د بولی لکه چه وایی :

چهانصاف زه پیرمحمد کړم لافی نکړم

پههم عصرو کی می خوښدی دځان شعر

میرزاحنان قندهاری ، چهدحمید دمکتب پیا و ړی شاگرد دی ، په ادبی کره کتنه کښې هم بی برخی نهوو ، دیچه د حمید دسبك ملگر وو طبعاً ئی خپله ر ویهخو ښو له ، ځکه نوحمید ته په شا عرا نو کښې لوړ مقام ور کوی ، اود «ناسفته مرغلرو پیودونکی» ئی بولی ، نور شعرا هم یادوی . مگر پهنورو الفا ظو :

شا عران دپښتنو د پر دی ترسل

خوبه کړم درته معلو م زه په و یل

یومیرزا میرخان دولت د علم کان و

د سلوك شعر ئی کړ ی دی ا فضل

دلته حنان د میرزا او دولت حق ښه ور کو ی او سلو گی شاعر ان ئی گنی ، و رو سته و ایی :

بل ا خوند میا دا د عشق په میو مست و و

ښه شیر ین الفا ظ ویلی دی وا صل

بل رحمان سړ بنی د پښتو ر د ی

د پښتو بی غز ل په د ی یو تر بل

دخوشحال ختك ویل کل نصیحت دی

په ظا هر ئی مسخر ی بو له بلکل

بل عبدالقادر شاعر د خوشحال زوی

ښه کتاب ئی دی جوړ کړی لکه گل

بل حمید موشگاف دخیال په شعر

څه به وایم نا سفته در ئی پیپل

علی خان اخوندزاده هم ښهشاعروو

ښه آبد ار دری له ژ بی تو یول

ملاحسن اخو ندښهپیرپه تلو کان کی

په و یلو کښې د شعر د پر ا کمل

داخوند ملاپیر محمد نظم کهواوری

هر گفتا ر ئی دی به مثل د بلبل

جان محمد حا فظ کا کړپهنعت ومدح

سیال ئی نهو پهپښتو کښې په و یل

تردی وروسته خپل معا صر شمس الد ین ته په تنقیدی کتنه ځیر کیږی ، اومتکلف شاعر ئې گنی :

اوس زمو نږ دزمانی ملاشمس الدین دی

په تکلیف جو ړ و ل مد ا م غز ل

امابل معاصر چهصدیق اخوند زاده دی ، ستائی ئی ، اودفن پوه ئی گنی :

اوس صدیق اخوند زاده ښهشعروایی

ډېر ښه پوه دی د بیتو په نښلو ل

ملا جمعه پهشاعری کښې ډېر استادوو

په هر بیت سره ئی ز ړ و نهسو لول

دعیسی [illegible] شعر که واوری

ا مرین په باندی وایی تل تر تل

دسکوت مهر پرخوله کښېږده حنانه

څه غرض لر ي دخلقو په ښوو ل ؟

اوس پهراسو پخپله ملاشمس الدین کا کړ ته چهدحنان لهخواپه تکلف مطعون شوی دی ، امادی لکهچه حنان ویلی دی ، هومره پهدی بلاندی اخته ، پخپله د حنان سبك دحمیدپه پیروی څهنهڅه تکلف لری ، ځکه دتلازم او استعاراتو لپاره اکثراً دژبی خوږ توب اوروانی بایلی .

شمس الدین چه دپیر محمد پیرواو شاگرد دی لهخپله استاده دعذوبت اوسلاست درس اخلی ، دده تنقیدی نظرهم ښه دی، مثلا :

که څوك ونیسی په لاس میزان دشعر
په عروض کا سنجیده بیان د شعر
و به نه رسی په شعر له رحمانه
که هرڅو کوی هوس افغان د شعر

دلته چه رحمان باباته ترټولو لوره درجه ور کوی رشتیا وایی، ځکه چه دا کثرو له خوا هم دده مقام منلی شوی دی، وروسته وایی :

پس له ده نور موشگاف عبدالحمیدوی
بار یکی ئې د کلام ده ځان دشعر
درست دیوان ئې له نوخطو گفتگوی کا
هم ئې واخست له نوخطو شان دشعر
ښه مضبوط شعر بیان عبدالقادر کړ
ځکه دی په پښتانه کښې کان دشعر
په غزل کښې ئې لنږپست وبلند نشته
برابر ئې دی تمام سامان دشعر
علی خان په رنگین شعر که خبر شی
هر غزل ئې دی تنها دیوان دشعر
نه رسېږی دچا لاس دده ترفکره
هسی شان ئې کړ بلند ایوان دشعر

وگوری شمس الدین دهرچا مرتبه په بېل ډول معلوموی، حمید باریك بین اومو شگاف بولی، دعبد القادر شعرته په متانت اودر وندوالی قایل دی علی خان رنگین بیان بولی، اوداټول هم دده له نقطهٔ نظره صحیح دی، اوتر یوی اندازې مونږهم حق ور کوو، وروسته چه پر خوشحال خان را ځی، دده ادبی تعبیر ډېر خوږ دی :

دخوشحال خټك پرشعر نظر وکړه
بیاڅه کوی په یوه تار کاروان دشعر

گویا خوشحال خان په ادبی دنیا کښې هو مره قدرت لری، چه دشعر کاروان په نری تارڅکولای شی او دا مرتبه هم دده له شانه سره ښایی .

وروسته دمیرزا او نورو په خصوص کښې هسی رأی ښکاره کوی، او کره وزته گوری .

د فقیر میرزا پر شعر ویل نشته
بل به نه وی هسی شان د کان دشعر
په ردیف کښې برابر دی ولی دریغه
بې معنی الفاظ ئې کړی نقصان دشعر
قلندر او دمیرا دیوان موجز دی
منتخب ئې څو غزل عیان د شعر
بل شاعر عبد الرحیم د بخارا دی
چه ئې نه وو په ردیف پایان دشعر
پیر محمد کاکړ په شعر کښې نامدارو
یو وړ قبر لره ده ارمان د شعر
که دو اړو شاعرانو حال بیان کړی
نکړی څوك پرشمس الدین گمان دشعر

دمیرزا شعرته د کان ویل ، اوپه بې معنا الفاظو ورانول رشتیانی تعبیر دی، ولی چه میرزا یقیناً دغسی کړی دی . قلندر اومیر اموجز اشعار لری اوعبدالرحیم هم دونی ډېر شعرونه ویلی دی، چه پای نلری، اما که نور مزایا پکښې وغواړو لږ به وی!

دپیر محمد په خصوص کښې شمس الدین ژر فیصله کوی اوښایی چه دا ایجاز قصدی اوارادی وی، اود لوم لایم څخه بېریدلی وی، که نه وی پیر محمد ډېر حق لری اویوازی ئې داصفت نه دی، چه قبرلره ئې دشعر ارمان وړی دی ، بلکه په ژوندانه کښې قیمت دار اشعار هم ویلی اومونږته ئې پریښی دی :

په وروستنیو شعراو کښې عبدالله محزون قندهاری هم دشعر اوتر منځ حکمیت کوی، پخپله دی لکه حنان دحمید دمکتب شاگرد دی ، اوخپل استاد عبدالحمید ته ډېر دزړه اخلاص لری ، اوډېر ډېر ئې ستائی لکه چه وایی :

دعبدالحمید دژبی څه تعریف کړم
مو نده نشی په پښتو کښې بله ژبه

مگر دنوروشعراوو یادونه هم کوی ، او دوی ستائی یا تنقید پر کوی لکه :

یو څو کسه شاعران چه دپښتو دی
ته ئې یادکړه گوندی زړه شی په خوشتره

دحمیدموشگاف خیال وته‌هوښ کړه
گوندی شی دده په‌جذب تیز نظره
دمیرزا حنان دشعرنکتی زده کړه
معلومیزی دی پرډیرو باندی غوره
درحمان له شعره بوی دمعجزی لحی
مرید ژر کا ندی له پیره برابره
بل رحمت‌داوی کتاب‌لری د لکشه
گمان نکړم چه‌بې‌خو کتاب‌لری‌دفتره
شمس‌الدین اخندزاده‌دکلچاباتدی
دقلم په شان ئې ژبه ده دوه سره
بل محمد کرم اخند وز ما استاد وو
. . . . . .
صدیق صدق لحان له‌وایی‌یم د ښهر
دا نور واړه اعرابیان بولی دلبره
ملا میران که‌بیا و گوری بلا وایی
وای بهتر یم تر حمید په خو هره
پختگی د شعر نه شی بې له علمه
فیض‌الله ر نگه امی نه و و له سره
داخندملا پیرمحمد هم ښه کتاب‌دی
ډیر دقیق‌غزل لر ی لکه گو هره.
د عبد الکریم غزل می ار وید لی
زړه د بیخه پر یکوی لکه خنجره
دعبدالله تنقیدی نظر هم پوخ دی ، حمید مو
شگاف اوحنان نکته‌شناس‌غوره شاعر ، اورحمان بابا
دمعجز کلام خاوند ، اورحمت ددلکش دفتر خښتن ،
اوشمس الدین ددوه سری ژبی لرونکی بولی.

صدیق اخندزاده لحکه چه‌دقندهار په ښار کښې
او سیدی ، نوئې ښاروال او مدنی شا عر گڼی ،
دملامیران لافی شایی نه‌منی ، وایی‌خوشی‌بلاوی وایی
ملامحمدپیرددقیقو غزلیاتوخښتن بولی ، اودعبدالکریم
غزلیات دزړو رپیونکی گڼی !
په‌دې ډول په پښتوادب‌کښې د شاعرانوبوله بله
ستاینی اوتنقیدونه‌پرغوره‌باب‌دی،اولحکه چه هر شاعر
له فنی حواسو اوادبی مشاعرو څخه یوه برخه لری
نودده تنقیدی کاته هم دغور او لوستلو وړدی !
په حقیقت کښې هغه فنی طبیعت او ادبی مزاج
چه شاعرئې لری ، رنگونه اوډیر ډولونه لری ،
نوهرشاعر دخپل طبیعت اومزاج له اقتضا سره لحینی
اشعار او سندری خوښوی ، او لحینی نه خوښوی !
داحاسه طبعاً انتقادی‌روح اودکړه کتنی خواهښت
پیدا کوی ،نولحکه زمونږ پښتنو شاعرانو هم لحینی
ادباء په‌ښه سترگه لیدلی ،اولحینی ئې غندلی دی .
ددې فصل کتنه مونږته داخبره هم ښکاره کوی
چه‌پښتانه شعراء وچ کلک اوتش شا عران نه وه ،
بلکه‌دوی‌په‌خپل‌فنی طبیعت کښې‌دانتقاد قوه هم‌درلوده
نه یم خبر چه داخلور یخه دچاده، خو یوه قندهاری
شاعر ویلې ده اوښایی چه صدیق اخند زا ده وی،
او دتنقید یوه فکاهی نمونه ده :
په پښتو کښې‌یاخوشحال،رحمان،حمیددی
که ته‌ز بر سخن‌ساز غو ا ړې بل نشته
اوس ملامیران خو وایی چه زه هم یم
که‌ته ده غوندی .... غواړې بل نشته


اجتماعیات

ریاکاران

د کاغذ په گل بلبلی نه ټولیږی
بی میوی دی باغ وبڼ دریاکار

گل پاچا « الفت »

ریاکار یوازې هغه نه دی چه په ډېرو نفلونو ځان ستړی کړی او بی له دینه چه خلقو ته ځان ښئی په زړه کښې ئې دعبادت سره هیڅ مینه نه وی ، هغه څوك چه له خپل کار او وظیفی سره اصلی علاقه نلری او یوازی دخپل آمریا ځینی نورو کسانو دغولولو د پاره خپل ځان د کار شین ټاکو ښئی داهم ریاکاری ده خو دومره خبره ده چه هغه له خدای سره اودی له خلقو سره پخپل گمان چل اوټگی کوی - ډېر کسان شته چه په مجلسونو کښې له ډېر کارنه شکایتونه کوی او ځان داسی ښئی چه ټول کارونه همدی کوی او دنیادده په ښکرولاړه ده دغه راز خلق هم اکثراً ریاکاروی او په حقیقت کښې هیڅ نه کوی . ځینی نور داراز اشخاص هم شته هر ځای په یوه مخصوص وضعیت چه یو عالم درد او تاثرور سره ملگری وی اجتماعی بحثونه شروع کړی او داخر گندوی چه یوازی همدی دوطنخواهی او وظیفه شناسی او پاك نفسی غوره نمونه ده او بس ، هر څوك گمان کوی چه که دغسې صحیح اشخاص او با حرارته ځلمیان زیات شی ټول کارونه به ښه شی او هر څه به ترسره شی مگر خدای خو خبر دی چه دده په زړه کښې بې دځان له مینی نور هیڅ نه وی او غیر له شخصی اغراضو او مطالبو نور څه نه پیژنی ، داهم ریاکاران دی او ددې عصر ریاکاری همدغه شی دی

په هر وخت کښې یو ملت او مملکت ځینی شیان ښه گڼی او په ښه سترگ ورته گوری چه هغه په هغه وخت کښې فضایل گڼل کېږی ، نو هر څوك چه هغه فضیلتونه لری یا ور سره علاقه لری جامعه هغو اشخاصو ته په ښه نظر گوری او روزی یی ، داراز فضایل او ښېگڼی چه جامعه ئې له اشخاصو څخه غواړی ارومرولږ څه مشکل کار هم وی او هر څوك ئې نشی کولی نوله یوی خوا دغه اشکال وله بلی خوا دیوی اجتماع ترغیب او خواهش په هغو کسانو کښې چه ددغو فضایلو حاصلو لو ته فطرتاً او قلباً حاضر نه وی دریاکاری او منافقت فکر پیدا کړی او ځینی کسان مجبور شی چه ځان په هماغه رنگ جمعیت او ټولنی ته وښئی چه هغوی ئې خوښوی

اوپه ښه نظرورته گوری ، دا کار تر بوې اندازی
پورې اسان هم ایسی او چلندهم لری ځکه چه انسان سره
له ډېر عمیق او دقیق فکره ظاهر بین هم دی او یو ډول
سادگی هم پکښې شته ، په جمعیت کښې د دقیق او عمیق
فکر خاوندان هم ډېر لږ وی نو اکثریت دهغو کسانو وی
چه هرچا او هر شی ته له ورا اوله لرې گوری .
ددی ټولو خبرو په اثر کښې نتیجه داشی چه مخلص اشخاص
او هغه کسان چه دعقیدې له مخی اجتماعی فضایل پیژنی
ډېر لږ او نادر وی مگر ریاکاران زښت ډېر پیداشی
او مظاهره کوونکی دمخلصینو ځای ونیسی .
دغه راز کسان چه میدان ته راواوزی او موقع (ځایونه)
ونیسی هلته کارونه په حقیقی ډول نه اجرا کېږی او هر څه
یو نمایشی صورت لری په دغسی ځایونو کښې جدیت
او فعالیت هم دا معنا نلری چه سړی ډېر کارو کړی
یا یو کار په ښه ډول اجرا کړی بلکه هغه څوك جدی
او فعال ایسی چه په مظاهراتو او ریاکاری کښې مړنی
وی ، دا راز کسان چه لکه اوربښتی په توره شپه کښې
الوزی او خلق داورد شجری گمان پرې کوی یوازی
همدغه مره رڼا لری چه خپل ځان خلقو ته وښئی او بس ،
یعنی هېڅکله داسی نه کېږی چه کومه تیاره خونه رڼا کړی
یا څوك ورځنی خپله ډیوه ولگوی .
دا حال تر هغه وخته په یوه مملکت کښې دوام کوی چه
دهغوی توره شپه سباشی او اجتماعی شعور خپلې سترگې
ښې پوره وغړوی ، یعنی خلق لکه هلکان په تشو خبرو
ونه غولېږی او هرچا ته یا هر شی ته په آنی او سرسری
نظر ونه گوری .

دغه دریاکاری دوره چه په کوم وطن
راشی او حقایق لا ښه نه وی پېژندل شوی سړی
غل او کاروانی نه پیژنی او له لاس وپښو ، دماغ او
نورو اعضاؤ څخه ژبه ډېر کار کوی ، سړی چه په
ځینو ادارو یا لارو او کوڅو کښې گرزی او په
ریاکارانو پسی سترگی غړوی ډېری عجیبی نمونې وینی
او داسی ایسی چه دا مرض دمنی له ریزش نه هم عام
دی ډېر خلق دی چه پخپلو کورو کښې له خپلو ملگرو
او اشنایانو ، دوستانو او خپلوانو سره ددروغو قصې

کوی او په دغو قصو کښې خپل ځان هغوی ته داسی ښکاره
کوی چه دهوا دلوی لوی خلق ده ته په درنه سترگه گوری
او دی دهغوی په نظر کښې یو مخصوص مقام لری ، دغه
راز کسان که دغسې خبری ونکړی او ځان په بل ډول
چا ته ښکاره نه کاندی څوك ئې بیا سلام هم نه علیك
کوی او هیڅ قدر ورته نه پاته کېږی ، ډېر زامن شته چه
په لارو او کوڅو کښې له خپلو ملگرو او همزولو سره بل
ډول ایسی مگر دپلار مخکښې بخنی بل څوك وی او بل شان
خوی لری ځکه چه د پلار په مخ کښې هم بې ریاژوندون
گران بلکه غیر ممکن دی ، ډېر لاس لاندی خلق وینو
چه د ځینو کسانو په حضور کښې ځان ډېر مطیع او مخلص
ښکاره کوی مگر پسی شابه ورپسی سل خبری کوی ،
نو که ووایو چه انسان فطرتاً یو ریاکار مخلوق دی
چه یوازی له خپل ځان سره یعنی په زړه کښې یو راز وی
مگر خلقو ته ځان بل راز ښئی څه ډېره مبالغه به نه وی
ځکه چه انسان په اصل خلقت کښې داسی پیدا شوی چه
هم ځینی تیټ خواهشات او حیوانی شهوات لری هم یو
شعور خدای ورکړی چه ښه او بد پرې پېژنی او د خپلو
نقایصو احساس کوی نو دی مجبور دی چه خپل معایب
پټ کړی او ځان بل شان وښئی ، علاوه پدی دا اجتماعی
مخلوق له یوی ټولنی سره ژوندون او معامله لری نو
باید خپل ځان ټولنی ته ښه معرفی کړی او په دغسی ځان
ښودنه ورځنی ښه استفاده وکړی ، د دغسی ملاحظاتو
په اثر کښې سړی ویلی شی چه هره ریاکاری بده نه ده
او داسی نشی کېدی چه انسان له ریا نه بیخی ځان خلاص
کاندی ، ډېر ځله داسی پیښېږی چه په یوه مجلس کښې
یو شی بدگڼل کېږی او هغه ښه وی سړی دانشی کولی
چه هغوی پوه کړی او عقیده ئې وگرزوی که دی خپله
عقیده بل راز ښکاره کړی او مخالفت وکړی ډېر ضرر
وینی په دغسی مواقعو کښې خپل مخالفت پټول او چپوالی
سره خپل ځان موافق ښودل ریا ده مگر بده نه ده خپل
فضایل او ممیزات ښودل او ښکاره کول هم که په یوه ښه
ښه صورت وی جایز بلکه ښه او مفید کار دی که یو معلم
یا عالم د تعلیم او تدریس په ذریعه خپل علمی اقتدار او
لیاقت خلقو ته ښئی دغه راز اظهار او ښودنه که څه هم د

انوی معنی په لحاظ ریا بلل کیږی مگر ریا نه ده همدا رنگه هغه ملت خواهان او وطن غوښتونکی چه عملاً دغه عالی عشق او مینه د خدمت او ایثار او فدائیت په رڼا کښې خلقو ته ښئی دغه راز حقیقی او واقعی مظاهرات ډېر ښه او د تقدیر وړ دی کومه ریا چه حقیقتاً ریا بلل کیږی او زیان لری هغه عبارت دی له هغو مظاهراتو او لحان ښودنی څخه چه د خلقو غولول او ستر گی تړل پکښې مقصد وی لکه چه لحینی ډېر خلق ئې په مختلفو صحنو کښې کوی او دیوه جمعیت په ستر گو کښې خاوری اچوی .

په ډېرو مجالسو کښې گورو چه هماغه کسان خیانت او خیانت کارانو ته ډېر بد وائی چه پخپله پکښې له هر چانه ډېره برخه لری ، همدغه راز بدې او رشوت هم هماغه اشخاص ډېر بد بولی چه پخپله ئې خوری ، له منافقت نه هم هماغه خوک ډېر سر تکوی چه په دغه مرض پخپله اخته وی یعنی اکثراً داسې پېښېږی چه هر خوک هماغه عیب ډېر بد گڼی چه دی ئې پخپله لری او هماغه صفت ستائی او د عوه ئې کوی چه دی ئې نلری .

دلته زه هم په لحان وېرېږم چه دریا په موضوع کښې څه لیکل ریاکاری نشی او همدغه شی را باندې باعث شوی نه وی ، له دغسې قولی او لسانی ریاکاری نه چه واوړو د عمل په ساحه کښې هم په خو ډوله ریا او ډېر ریاکاران لیدلی شو چه خوک په یو راز او خوک په بل راز خپل لحان جدی او کاریگر ښکاره کوی مگر د کار هیڅ بته نه معلومېږی تاسې به لحینی نارا سته مزدور کاران لیدلی وی چه د نگران ستر گو ته گوری او په هماغه شیبه کار کوی چه خوک ورته گوری ، دغسې چه په دغه طایفه کښې د چالیدنه او کتل تاثیر لری په نورو طبقاتو کښې هم له ډېرو خلقو سره د کار کولو فکر دو مره نشته لکه چه د کار ښودنې خیال ور سره دی لکه چه په لحینو ادارو کښې بعضی مامورین او کاتبان ټوله ورځ په قصو او خبرو تېروی مگر په هغه وخت کښې چه یو آمر په ادارو گرزی نو خپل سر په کار باندې دومره ټیټ کړی چه که هغه څو دقیقی د ده دمېز په مخکښې ودرېږی هم دی ئې نه وینی او نه ورته گوری .

د دغسې ریاکاری اصلی علت دادی چه دغه راز آمران او کارغوښتونکی خپل لاس لاندې مامورته گوری چه په کار بوخت دی او که نه ، نو که چېرې دمېز په سر یو کاتب چاته شخصی خطا یا درخصتی رقعه لیکی هغه هم په کار کښې حسابېږی او ددې جدیت ښئی ، مگر که سړی کارگوری چه شویدی او که نه ؟ او دهیچا کار چه د کولو په وخت کښې چانه وی لیدلی پټ پاته نشی خوک د غسی ریاکاری ته نه مجبور ېږی او نه دغسی چمو نه کوی نو ددې مرض اساسی چاره همداده چه یوازی حرکاتو ته و نه گورو بلکه نتیجې او د کار کم و کیف ته وگورو لحکه چه خوک چه هرڅه وینی او هرڅه خوښوی خلق هماغه ورښئی او په هر څه چه نظر جلبېږی هماغه شی میدان ته راوزی .

مونږ ښائی دغسې ډېر امراض ولرو چه باید اساسی علاج ئې وشی او علتو نو ته ئې متوجه شو ، ډېر نقایص به وی چه مونږ ئې په نور و کښې گورو او هغه په حقیقت کښې مونږ ته عایدوی ، که مونږ او تاسې ظاهر بین نشو خوک ریاکاری نشی کولی او نه ئې کوی ، نو ریاکاری په حقیقت کښې زما د ظاهر بینی عکس دی چه په بل کښې ئې گورم او بد ورته وایم ، که خوک غواړی چه یو سړی په بل رنگ ونه وینی رنگی عینکی دې له ستر گو لیری کړی او هر څه دې پخپلو ستر گو گوری .

پخوانی ادب:

غوره سندری

(۱)

که څوك لاس له سوده وکاږی زیان نشته
په ملنګ باندې فلنګ او تاوان نشته

جدائی له اشنائی نه پیدا کیږی
نا آشنا لره هیڅ غم د هجران نشته

د وفا خریدا ران دی بل خوا د رومی
د امتاع د زمانې په دکان نشته

هغه یار به زه و کومی خوا ته غواړم
چه ئی هیچېر ته منزل او مکان نشته

چه هم قدر لری هم زلفې هم سرې شونډې
دغه هسی شان آفتاب په آسمان نشته

عشق عاشق لره یو هسی ګلستان دی
چه وباغ وته ئې لار د خزان نشته

عاشقان په عشق کښې واړه سلطانان دی
په داښهر کښې نیستګار او ناتوان نشته

که مجنون غوندې په عشق کښې څوك صادق وی
دلیلی په دروازه کښې دربان نشته

❀ ❀ ❀

(۲)

تر هغه حده په هور ته بد سړی شوم
چه د درست جهان په ستر ګو کښې اغزی شوم

دنیا واړه سره زیست اوروزګار کاندې
خو بوزه په دغه بار کښې کوږ لرګی شوم

تمامی جهان لمن راخخه نغاړی
سپین زړو کی مې اغوستی تورکودی شوم

هیڅ حاجت د نصیب نشته و هنر ته
غزاو شوه که مهمند که داؤ د زی شوم

د نوح زوی هم د نیك نیکه نمسی و
ګنه زه هم د یو نیك نیکه نمسی شوم

کل وسواس له احتیاطه پیدا کیږی
زه له ډیری هوښیاری نه لیونی شوم

(رحمان بابا)

(٣)

گرم خو نه یم که له در ده سره ښو رم
نور به ډ کې پیا لې اخلی زه به گورم

لا له زار به شگفته په هغه ملك شی
چه باران د د واړو ستر گو باندې وورم

وائی زړه له مانه وژ غوره که ښه کړی
کشکی ستاله لاسه خلاص شی زه ئې ژغورم

ځان به در کړم مچه را کړه ښه سو داده
که ئې ته په بها پېرې زه ئې پلورم

په دا راز به هر بې نیاز کله خبر ېږی
چه خوشحال راته دعا کازه ئې زورم

❀ ❀ ❀

(٤)

زه چه خپل قدم دعشق په خو نی راه ږدم
هر زمان له تنه سر لکه گیاه ږدم

د جمال خو بی دی ز یا ته تر آ فتاب ده
د نظر د پا ره نوم در با ندې ماه ږدم

د رسته شپه چه ستا له غمه سر ه تا وشم
هر سحر په افلا کو نو با ندې آه ږدم

که ته تېغ دجفا و کا ږې و ما ته
ستا و تېغ و ته به سر لکه گیاه ږدم

که مې چېری لاس او واك در ورسېږی
په سپین مخ به دې دغاښ نخښی سیاه ږدم

بېچاره خو شحال چه ستاد ور گدای شو
ځکه زه ور با ندی نوم د باد شاه ږدم

(خوشحال خان خټك)

❀ ❀ ❀

(٥)

هېڅ مې نز د ه محبت که او ر د ی دا
په او رسو زم په رضا که زور دی دا

داد عشق لا علا ج ر نځ دی نه پو هېږ م
که بی دمه بی او دې منگو ر دی دا

چه مې نشته همخوا به ښکلې په خوا کښې
نه دی کور په حقیقت کښې گور دی دا

هېڅ دعشق په سیاه رو یی ونه شر مېږی
د ژو ند و ن د کښېد ې انځور دی دا

چه رېبی مې بی صر فې دزړ گی و لی
کنږ ې ورو ځی دی دیار که لور دی دا

چه په تله د سرو ما ل را څخه نه ځی
په رښتبا د تور و ستر گو تو ر دی دا

چه ئې زه له بله غمه په امان کړم
د عشق غم دی که زما غمخور دی دا

چه مې و لیده حمید دعشق په کار کښې
لېو نی دمجنو ن کشر ور ور دی دا

(حمید ماشوخېل)

❀ ❀ ❀

(٦)

یار مې ساقی شو په میخا نه کښې
شراب ئې را کړه په پیما نه کښې

حد به جا ری کا محتسب څه رنگ
چه عقل نه و ی په مستا نه کښې

پر غا ړه ژا ړ م د مطر با نو
تا در با ب یم په ترا نه کښې

عشق مې غنا کړه دزړه حاصله
جدائی اور ده دا شنایانو
او به د صبر ور لره بویه
بیمار پخپله د ځان طبیب شی
دا فاسد فکر د پیر محمد دی

گنج مې پیدا شو په ویرانه کښې
زه غریب خوښیم په بیگانه کښې
اور چه لگیږی په کاشانه کښې
چه غمخور نه وی په زمانه کښې
چه وفا غواړی په جانانه کښې

(پیر محمد کاکړ)

❀ ❀ ❀

(۷)

مرده دل لره له ذوقه خبر نشته
د دلبر صفت دخوږ زړو نو ملهم دی
زمانه که فرزندان راوړی بیشماره
له جبینه ئې آفتاب په شغله کم دی
ستا جمال په عاشقانو سپین سبا کړ

په نهاد کښې ئې د مینی اثر نشته
د بې درد د عشق په علم نظر نشته
تر تا غوره بل د دهر پسر نشته
هغه تاب لکه دده دی دنمر نشته
دغافل د شپی د هجر سحر نشته

(یونس)

❀ ❀ ❀

(۸)

هر چه زړه ئې بند دزلفو په کمندوی
چه په عشق کښې سرنگون شی ستاله غمه
و شکر و یا نبات ته کله گوری
له هغو زلفو به هر کله بېرېږم
چه ساکن ور پکښې داخوار گل محمد دی

همېشه به په غمو نو کښې خرسند وی
هم هغه به په عالم کښې سربلند وی
هر سړی چه خبر دارد عشق په خوند وی
چه سل زړو نه ئې نیولی په هر بند وی
هم هغه به په نامه رود ایلمند وی

(گل محمد دهلمند)

❀ ❀ ❀

(۹)

بې د یار له اندیښنې اندېښنه مکړه
میکدې لره ورځه تر تقوی تېر شه
خزینې د دنیا ټولې بې بقا دی
گلرخان د دنیا ډېر دی په جهان کښې
څو ژوندی یې پر دنیا عبد الرحیم !

بې شها پر کور بل څوك مېلمنه مکړه
په ریا سره خرقه پشمینه مکړه
په سینه کښې دی د نیا خزینه مکړه
د هر چا مینه پر زړه پر سینه مکړه
که څوك بد درسره کړی ته کینه مکړه

(عبد الرحیم هوتك)

(۱۰)

دو فا طمع به نه کوی له تا څوك — چه خبر وی ستا له جو ره له جفا څوك
یو ښه باغ دی ددنیا فلك بی مراده — فرصت نه کاندي چه وکا تماشا څوك
غنچه نشته چه خزان ئی فنا نه کا — دز ړه غوټه به که خلاصه په صحرا څوك
ډېر نازك دګلو ښاخ دی پرې بېر یږم — چه لاس اوږدور باندی نه کاندي بیجا څوك
بې ملګر و سر انجام د کار و نشسته — بې بلده کله غلا کاندی تنها څوك
له کرمه ئې پر حال پو ښتنه بو یه — چه دا ستا کو څه له ضعفه کړی ما واڅوك

دا محال دی چه غریب سړی پا چا شی
زه حنان څوك ستا د لبو تمنا څوك ؟

(میرزا حنان قندهاری)

❀ ❀ ❀

(۱۱)

چه ما لك لکه آفتاب د سیم و زر یې — هر سبا ولی و لاړ د بل په در یې ؟
شفاعت می څوك د شمع په شان نکا — ته خواهان لکه ګلګیر ځما د سر یې
خپل دامن به کړی ګلګون د چا په قتل — نن چه بیا لکه غنچه بسته کمر یې
د سیلاب په دوش روان لکه حباب شوې — اې ځما کوره تر ما آواره تر یې
ته په دا قامت زیبا او سبز رنګه — بیا د چا د باغ سر سبز صنو بر یې
ځکه سر نکړې سختی کښې فریاد چا ته — د همت په ارتفاع لکه تور غر یې

«شیدا» ته هغه تو تی په هند د طبعی
چه قانع د خپل کلام په ګل شکر یې

❀ ❀ ❀

(۱۲)

ستا چشمان چه په ادا سره بالا شی — تور بانه دی ګویا غشی په هوا شی
سبز خط دی هسی ګرد په یاقوت راغی — لکه جام د زمرد ستا په لب را شی
ستا د خط سبزه جلوه د تور و زلفو — لکه شین تو تی په لومه مبتلا شی
د حنا د رنګ په طور سلامت وی — که دی لاندی د ګل برګ تر نازك پا شی
په خپل حسن پوری و خاندی ګلونه — که ګذر دی په چمن لکه صبا شی
د مرآت په جوی جوهر د ګلو ښاخ کا — چه بهار ستا د رخسار عکس نما شی

«شیدا» خان به دی کا میر د شاعرانو
که مزار و ته ئې عرض د تا انشا شی

(شیدا خټك)

دمینی اور

چه دمینی اور می بل شو په گوگل کښې
بیله یار ئې چاره نه وینم په بل کښې

هسې زړه وړی په کتو دشو خوستر گو
لکه باز چه مرغه نیسی په منگل کښې

دا سپین غاښ دیار دخولې دی نه یوهېږم
که ژلی را اور بدلې ده په گل کښې

چه لاسونه می په خواست کړه ورته پورته
په ډېر فهرئې رامات کړه په خنگل کښې

زړه په غم کړم لکه زمنځه غاښی غاښی
گندی تېره می اشنا کړی په کاکل کښې

د جهان په خوشحالی به څه پروا کړم
ما چه خوندمینده د اوښکو توئېدل کښې

زه مخلص یوازی پروت راسره نشته
بل ملگری بیله غمه په بورجل کښې

(مرحوم مخلص)

دمزار گلونه

ښاغلی سید بهاء الدین
د استقلال دښو ونځی متعلم

په ارزو به توري خاورې د دیدار شم
لحوا نیمرگ به د خپل عمر په بهار شم

سره گلان به مې له خاورو کړی سرپورته
زه به تاته جلوه گر په لاله زار شم

گل مې مه اوله زه ستا دعشق شهید یم
ارمانجن وم چه شین ستا دتلو په لار شم

که گذر چېرې زما په خاورو وکړې
یانې یانې به دې بیا په ښو تار شم

سر لوئی به د اسمان په ستورو کړمه
که مې وتښې په زلفو یادې هار شم

که وصال مې دی نصیب نشو ژوندو نکښې
گوندې گل شم چه لایق ستا د مزار شم

چه می راغلې په مزار گلونه ټول کړه
چرته نه چه خوشې مراوی تار په تار شم

بی تعبیر یم

ښاغلی بېنوم

نه فقیر او نه امیر یم
نه خوشحال او نه زهیر یم

نه یم وزی او نه موړ
نه یم ړوند او نه بصیر یم

نه یم جوړ او نه ناجوړ
نه جاهل او نه خبیر یم

نه عاشق او نه معشوق
نه اقوال او نه تحریر یم

نه بلبل یم او نه گل
نه آزاد او نه اسیر یم

نه می پښه د بل په بند
نه دبل په پښه ځنځیر یم

نه یوسف نه زلیخا یم
نه مرید نه د چا پیر یم

نه پادشاه نه رعیت
نه د دوی تر مینځ وزیر یم

چه دا ستا په زړه کښې گرزی
د دی ټولو بی نظیر یم

په مقام کښې دوحدت زه
بی مثال او بی تعبیر یم

ته بېنوم می گوری چېرته
زه په گور خالی ضمیر یم

غزل

ښاغلی دردمند:

که معشوقی گرزوی شمع دخپل څنگه سره
نو د سرو یره هرگز نشته د پتنگه سره

ددواړو ستر گو په برېښنا کښې دی لوی شوی یمه
زه آموخته یم ستاد سرو شونډوله جنگه سره

ستاد ښو غشی ساتم دزړه په کور کښې صنم
دومره تور برېښ څله کوی دخوار ملنگه سره

دمخ په لمرمی وریتوی برېښوی توری راته
مرگ دچړو می دی منلی د پالنگه سره

ستا دوصال په تمه ناست یمه په لوړه تیږه
قسمت می کړی ده مبشته دلوړ کړنگه سره

(له اتفاق اسلام څخه)

منصف شه

ښاغلی حاجی محمد شریف خان (جانان)

چه زه تل در سره ژاړم ستا پر غاړه
ته پر څه وچوې زما په خوله کښې ناړه

زما پرتا باندی پیرزومال وثروت دی
ستا پر مانده پیرزویوه خونجاړه

زه وام گرد عمر له ما څه آزار مشې
ته وائې که می دروڅر خېده داړه

زه وام زه دی نه بد وایم نه غیبت کړم
ته می خوښ یې په نقصان وپه مرگ واړه

زه ښکنځل ولغاز ستا دخپلوی بولم
ته دعا و صفت زما بد گڼې د واړه

زما خوښ ستا سړ یتوب انسانیت دی
ته واکله به دی عقل شی ویجاړه

زه وام زوروړه دبدی عوض نیکی کړه
ته وازما ناصح وای نرسه دوستان نغاړه

زه وام مال درب پلار کښې ښه صرف کړه
ته وا دغه دی د ښمن پیسه می ولاړه

زه وام ندی شې زهیر په لمر و سیوری
ته وا لوټ دی شه کورو وزې ترا هاړه

که دی دغه دمنفی خو اوی نیو لی
(جانان) وایی پر خپل ځان باندی وژاړه

غلط

سړ یتوب که په کالووی خو غلط
انسان توب که په رو پووی خو غلط

چه دزړه او دخولی لارئې یوه نه وی
که دچا دوستی په درو، وی خو غلط

که خبره په نر می قراری نه وی
نصیحت چه په سو ټو وی خو غلط

که څوك گټه خوری دمال شته په انصاف کښې
چه سو دا په قسمو وی خو غلط

په بو ځای کښې چه رتبه خدای چاته ور کړه
که ئې چرت دځان لید و وی خو غلط

که په علم ئې عمل او خوې ښه نه شی
که ملا په کتا بو وی خو غلط

که په فقر کښې صابر او قانع نه وی
که خپل رزق په بد غوښتو وی خو غلط

چه قلم په بدنیت لاس ته کړی جانانه
که په نثر که بیتو وی خو غلط

(له طلوع افغان څخه)

علم او پوهه

ښاغلی صلاح الدین « مصلح »

دوطن په وړاندی تلو چه دی خوشال څوک
دی مېړه چه به لری دا رنګه خیال څوک

ترقی په علم وفن سره کېدی شی
عزتمند لیدلی چادی بې کمال څوک

په تیاره کوټه کښې کله څه لیدی شی
تر څو نه لری په مخ کښې بل مثال څوک

ټولو خلکو په نظر کښې عزتمند دی
چه مخ رونړی دی دعلم په جمال څوک

دلوړ تیا هکه مانۍ کښې به تل ناست وی
چه لری ښکلی وزرونه د کمال څوک

پاک الله یې په مقصد کښې تل کامیاب کړی
چه په زړه د ترقۍ لری مال څوک

که همت او کمال د واړه سره یو شی
هغه توان ته به ونه لری مجال څوک

د(مصلح) د شعر په خوند به هله پوه شی
چه دخپل ځان سره وکړی انفصال څوک

د مینو لوړنه

ښاغلی رشاد

په صفا د پاکی مینی محبت ږو
په صهباد تجرد او حدت ږو

په قلقل د صراحی، په جوش د میو
د ساقیانو دلبر یزه جام په ست ږو

په جذبه د تبسم په سحر د ستر ګو
د خوبانو په جمال او ملاحت ږو

دپټن په سر بازی، د شم په سولو
درښتینو په اخلاص او صداقت ږو

په سودا دعاشقۍ، په درد د هجر
د نیاز مینو رفیقانو په فرقت ږو

په جنون دمینتوب، په رنځ د زړونو
په فراق کښې د عاشق په مسکنت ږو

په تخنک د استقبال! په خوب د وصل
دبېوزلو پر د یسانو په غربت ږو

په زلماد زلمیتوب، په ناز د ښکلیو
د مینو زړو په سوز او په رقت ږو

په نشاط دوړ کتوب، په ذوق د مینی
د کوچنینی په حیات او په غفلت ږو

د چو نېو په نغمو، د بڼ په غولی
د سره ګل په ښکلیتوب او لطافت ږو

دزعفران په خوشبویی په عطرد مشکو
د نسیم په لطف د ګلو په نکهت ږو

په هوا د نو بهار، د یار په حسن
د نو خطو ناز نینو په صحبت ږو

د سبزو په انبساط، په بریښ دپرخو
په ښکلا په نندارو د طبیعت ږو

په وړانګو د ځلاند امر، په موج د وږمی
د غوټیو په خندا په طراوت ږو

دلالی دزړه په داغ، په څېرو ګرالبو
د نرګس په انتظار او په حیرت ږو

چه ئې سر په لاس اخېستې وی په عشق کښې
د هغو پاکو مېړونو په همت ږو

چه به ستاله ګریوانه لاس وانه خلم
زمانی ستاد ګیروانه په برکت ږو

اور وم به درته سری او ښکی تر ستر ګو
ددې سرو او ښکو به تاوا و حرارت ږو

چه می روح دمحبت په رموز پوه کړی
ستاد ځان په عشق دعشق په سرایت ږو

د جمال په تجلاؤ می زړه روڼ کړی
ستاد نور په تجلو دعشق په پت ږو

راله را کړی د صفا د صدق جامونه
ددې میو په صفا په طهارت ږو

په نصیب می سوز وساز عشق وګداز کړی
په ځلا په توښ داور د محبت ږو

لږ خو ما وته د رحم په نظر ګوره
ستا په خپل فضل و کرم او مرحمت ږو

د(رشاد) زړه له اغیارو څخه پریکړی
ستا د پاکو مینانو په حرمت ږو

(له طلوع افغان څخه)

غزل

ښاغلی عبدالعلی خان (غریب)

لیونی سر په صحرا یم دیوانه
یم پر دو، خپلو نه وخته بیگانه

چه په سیند دوصل سر پوری ډوب نشم
مړ ښت نه مې شی په جام په پیمانه

موړ به نشمه هر گز په یو جام باندی
تر څو نشمه ډېره په میخانه

که مطلو به شمعه مخی له می راشی
ځان پری سېز مه په شان د پروانه

پړه په ما مه وایه ای مخلوقه واوره
په رښتیا می یار ممتاز دی یگانه

زه غریب کچکول په لاس ورته ولاړ یم
دیدن غواړمه د خیر په بهانه

ریاکار انسان

گل پاچا «الفت»

تا د کوم فرعون د ظلم سحر مات کړ
چه په لاس کښې گرزوی ښکلې امسا

د کاغذ په گل بلبلې نه ټولېږی
راشه پرېږده نور کارونه دریا

اور لړونی غوندې سوی او تک تورئې
امید مه لره د خپلې زرغونتیا

ښه اوبد، حق وناحق چه معلوم نشی
توره شپه ده ورته مه وایه سبا

چه له نو که تر کوټیه ټول غرض دی
دانسان په نوم یادېږی څه بلا؟

خپله گټه او ضرر خیر و شر بولی
د انسان د قضاوت دغه معنا

انسان څوك دی؟ زه ئې دومره پېژنمه
چه حیوان نه بېلوی ځان په وینا

حق ناحق کړی باطل حق کړی په ویلو
نوم پرې کښېږدی د روا او ناروا

عقل څه دی، منطق څه دی، حکمت څه دی؟
غولول د یوه بل په هغه دا

کله خوښ، کله غمجن، کله حیران شم
دا د نیا ده د غمونو تماشا

په حرامو، ناروا سړی ته ورشی
«څه لولی او بې حیاده دا دنیا»

صحیح پېژندنه

بی تمیزه خدایږو ستر گی دجهان دی
کنه ډېر لېوان په ښه د انسان دی

د صورت حجاب نه اپلو چه گورم
شلمې خېټی د پخې غلې کندوان دی

په خوله کاندې ښې خوږې خوږې خبرې
ما لیدلی ددی عصر مینا گان دی

په ناطق حیوان تعریف چه دانسان کړی
په خبرو غو لیدلی هلکان دی

د هر عصر منطق بېل دی پوهه بېله
ډېر ړانده شته چه دتېر وخت بینایان دی

راشه وغړوه ستر گی ځان بیدار کړه
چه انسان پرې پېژانده شی نورشیان دی

چه په بدو نیك گمان خو شبینی بولی
که زما اوری، همدغه نادانان دی

حقیقت چه کاندی څوك له پښو لاندې
که مېږی هم ازار نکړی ظالمان دی

چه بی درده په خوله آه وفریاد کاندی
ددی عصر همدغه ریاکاران دی

چه واړه ئی غو لوی په هغه دغه
که په برېتو لاس وهی هم صغیران دی

(گل پاچا الفت)

دسیند په غاړه

ښاغلی سید بهاؤ الدین خان
د استقلال د ښوونځی متعلم

تادخپل جال جال پوړنۍ ترشازه ولیدم چه دسیند په غاړه ولاړوم .....

خپل منګی دی په تلوار په پستوشګو کښېښود ...

تاخپل مخ راواړاوه .... مګر افسوس چه توری زلفی دی په مخ راخوری شوی اوستا رنګین رخسارئې زمانه پناکړ ....

دویښتانو توره پرده دې له مخه لیری کړه او خماری سترګی دی ورو ورو داسمان سرو لمنو ته واړولی ....

هوزماښه یادېږی چه ستاپه ښوکی دملغلرو په شان اوښکی پیلی شوی وی ..

آه .... داسمان سرو کنار و تاته هغه و خت دریاد کړ چه هر مازیګر به ماا وتا د دې سرسبزو غرونو په لمنو ګڼو ځنګلو کښې ددی مست سیند په غاړه عاشقانه رازونیاز کاوه اویابه مو ددې سیند غم انګیزه زمزمه ارویده .... او کله به مو دلمراخرینو شغلوته کاته چه دلوړو لوړو غرو په سرو دجګو جګو نښترونه په تلوار غاړی چاپېرولی او تښتېدلی به ....

طبیعت او کاینات به ورو ورو خاموشه کیده مرغی به یوه یوه الوتله خپلو ځالوته به ئې ځان رساوه هیلیو به دسیند په غاړه سرونه دڅانګو نولاندی کړه.

اودشپی زلفی به ورو ورو داسمان په مخ راخوریدلی.

وږمی به ورو ورو په الوتلو شروع وکړ.... خپلی زلفانی به دی دنسیم لاس ته سپارلې وی اوهغه بېباکه به پری څومره مستانه لوبی کولی ...

دمغرب دلوړو کونډونو په سر به دماښام ستوری وځلید زه او ته به لا هغه شان کله چوپ ناست او اریان اریان به مویو تربله کاته اویابه مو ورو ورو خبری کولې چه حتی وړې وړی مرغی هم زمونږ خبری وانه وری ...

دراتلونکی سعادت په تصور به مو ځان خوشالاوه..

مونږ به هم دځالی دجوړولو تهداب .. دخیال په دنیا کښې ایښوده اودمرغو نیکبختی به مو دځان دپاره غوښته. .. مګرافسوس !! .... دهغو ورځو په یادغیر دمبهم اوغم انګیز خیاله نورڅه نه دی پاته ... ستا دعشق دهغه پرشور ښار په ځای ستادمبهم خیال نړیدلی دیوالونه تر اوسه ولاړ دی ... ته در سم او رواج په زنځیرونو وتړلې شوې .. په قفس کښې واچولې شوې چه اوس ستازړګی دپنجېرې دمرغه په شان اوتراوتر دانګونه وهی اومایوسانه ترپکی کوی .

منګی دی په لپو لپود کاوه سرې سرې څپې چه دما زیګر افق پرې سرې شغلې شیندلې په مستی مستی دی دمخی نه تیریدلې اوستاسورپلوئې خوځاوه.

دافق دې رنګینی تابلوته تاهم کاته اوماهم..

مګرزما اوستا فرق داو: ماګمان کاوه چه دافق سوررنګ زما دزخمی زړه دوینو انعکاس دی ...

ستاداخیال وچه ستادسور مخ انعکاس دی ، چه زما په لیدلو دحیا اوشرمه سور شوی و .

د گلو غل

د گل په لوری په بلبل. او په بو را پسی ځم

د دنیا غل مې مه کړه د گلو غلا پسې ځم

د گلو باغ سمسور و ، د گلزار ننداروته به هر سحر خلق راتلل ، مالیار شایسته او رنگینې گېډۍ خریدا رانوته وړاندی کولې ، د باغ له دروازې نه درنگ وبوی قافله وتله ، د پسرلی ښایسته تحفه په ډېر قدر کورونوته وړل کېده ، پېغلی جونه په دغه ښکلی سوغات ډېرې خوشحالېدلی .

یو خوارمین چه بی له مینې او محبته ئی نور هېڅ نلرل همدغه آرزو ورسره وه چه یوه دسته تازه گلان خپلی محبوبې ته وړاندی کړی او د هغې او ربل او گرېوان پرې ښایستی شی ، په همدغه نیت له کوره بهرشو مگر حیران و ، چه څه و کړی ؟ او کوم باغ ته ولاړ شی ؟ خیراتی گلان پیدا کېږی نه ، د گلو سوال او گدائی رواج نه دی ، مالیار د پور او قرض عادت نلری .

... ورو سته تر ډېر وفکرو د گلو غلا ته اړ کېږی او د باغ لورته ځی مگر په دغه وخت کښې باغوان ته هم څوك وائی چه کوم سړی هره ورځ د باغ گلونه په پټه راوړی او په بازار کښې ئی خرخوی ، نو په همدغه شپه باغوان ټوله شپه د گلانو پېره کوی او لکه د بهار وزمه د گلو له بوټو تاوېږی د سحر سپېدې لانه دی چاودې ، د گلزار سکوت لاهماغسې باقی دی چه دوه تنه له بېلو بېلو لارو باغ ته را ننووزی او د گلو په شکولو لاس پوری کوی ، باغوان له خپلو ملگرو سره پټ پټ راځی او دواړه په باغ کښې نیسی چه یو د گلو او بل په حقیقت کښې د پیسو غل دی یو د بلبلانو د ډلی او بل د مرداری کارغه دی ، یو د عشق او مینی په تحریك او بل د حرص په لمسون راغلی دی ، مگر باغوان دواړو ته په یوه ستر گه گوری او یو راز سزاور کوی ، ځکه چه دواړه د یوه شی غله دی او د یوه گلزار گلونه پټوی ، دواړه د بل حق ته گوتی ور وړی او په یوه نامه یادېږی .

هو !! دواړه غله دی او دواړه گناهگار بلل کېږی مگر هغه څوك چه د دواړو په حال احوال ښه خبر دی او ښه ئی پېژنی ښائی چه یوه ته عفوه او بل ته قهر وکړی .

❀ ❀ ❀

شبنم

هغه ناقراری چه له ماسره ملگری ده هېڅکله ماته اجازه نه را کوی چه د گل په ښایسته پاڼو یا د هوا په نرم او لطیف بستر کښې ارام و کړم - کلونه او پېړۍ تېرې شوې ، باغونه سمسور او خزان شوه په عمرو عمرو د ځمکی او اسمان تر مینځ ښکته پورته و گرزېدم او لکه د مر غلرو امیل د هر گلزار په غاړه کښې ولوېدم ، مگر په دغه یو حال هم زه راضی نشوم او نه هغه ناقراری له ما څخه ولاړه چه پدی ځمکه اوله دی اسمان لاندی ئی کور دی .

د دی سرو او زېړو گلو هره پاڼه مې بوی کړه د هری غوټی په زړه کښې می ځای ونیو ، د شنو بوټو د پاسه پرېوتم مگر یوه شېبه لانه وه تېره چه له ټولو سره می خدای پامانی و کړه او بېرته هواته والوتم زما تله لکه دویالو او سیندو تگ داسی نه دی او نه لکه باران زمارا تگ څوك لبدلی شی - زه لکه روح د تلو په وخت کښې نه لیدل کېږم او نه می ر اتگ څوك وینی ، زمانندا ره یوازې په هغه وخت کښې کېږی چه د یوه گل په پاڼو یا په شنو بوټو کښې ځای ونیسم - که زه کله ستاله ستر گو پنا کېږم او ته می نه وینی نو ته دا گمان مه کوه چه زه به بیخی نه یم او محوه شوی به یم ، ته یقین ولره چه زه به سباته بیا د یوه بوټی په پاڼو کښې وځلېږم او ته به می په یوه بله جامه کښې ووینی - ته پدی پوه شه چه ستالیدل او نه لیدل زما په هست و بود کښې څه تاثیر نلری نو ته یوازې د خپلو لیدو په دایره کښې مه بندېږه .

(له انیس څخه - الفت)

دنور وادب:

دتاگور سندري

کوم خلک چه داغواړی چه په خبرو خبرو کښې ستا حقیقت مونږ ته ښکاره اوظاهر کړی ؛ هغوی پخپله دخبرو په غولۍ کښې نښتی دی ؛ اوهغوی داغواړی چه مونږ هم دخبرو په جالونو کښې و نښلوی ! دوی دیو بل په خبره نه پوهېږی ! اوڅومره چه هغوی غواړی چه په واضح ډول سره مونږ پوه کړی او مونږ ته دغه مطلب په واضح ډول ښکاره کړی هم په هغه اندازه ددوی دخبرو او تقریرونو طومارو نه او ږدېږی ! او کومو خکلو چه خبری پری ایښی دی او ستا بدلی وائی ؛ د هغوی دبدلو د سرونو سره دهر چا زړونه همنوا او ملګری شوی انګازه ئې پورته کړې ده ! دوی که په خبر پوه شی اویا پوه نشی په دې کارو سرونه نه ګرځوی - د دوی دزړونو دردونه ستا پښی اوقدمونه مچوی !

❀ ❀ ❀

ورځ خلاصه شوه ! ای خدایه ! زما د سترګو څخه دادلمر پریواته درنګینی منظرې پرده پورته کړه دتیا رې سینه دازلی نورمقام دی ! بس هم له دغه ځایه خپل حجاب پورته کړه ! چه ټولی خبری راټولی کړې ئی په نتیجه کښې دټولو مطلب یوشی ؛ دچپ والی په زړه کښې دحقیقت چیغی دی ! بس همدغه حقیقت وروشانته ما ته زما په غوږ کښې ووایه !

ددې خبری هېڅ پوښتنه نشته چه زه په خبره پوه شوم او که یه ؛ هغې خبری زه لاهو کړم ؛ خبره خوداده !

چه دسها ردرڼا څخه زما دواړه سترګې ډکې دی ؛ اودا ازلی سرورزه هزه ورځ په بېل رنګ اوبڼه کښې وینم ! اوهودا څوک دی چه زه ورته ګورم؟ زما سترګو دی په ښه شان سره ندی لیدلی ؛ دا ځکه ورڅخه زه ویرېږم! زه په دې نه پوهېږم چه داټول شیان هیڅ نه دی په کوم وخت کښې چه زه دغفلت دخوب څخه راویښ شم ؛ زما شونډی به مسکی اوزما خوله به دخندا څخه ډکه وی ! اوهغه څوک به ما په خپله غېږ کښې پورته کړی چه زما دخوب په وخت کښې ئی زمادژوندانه زانګو خوځوله

« پرو باهی نی »

❀ ❀ ❀

زه تل دنوو سرونو په څرک کښې دنوو ایجادونو فکر کوم ؛ اوپه نوو پلټنو کښې بوخت یم ! همدا سبب دی چه دنسیم په ازادو بهاند وڅپو کښې زمادساز سرونه خپله انګازه نشی پورته کولی ! اوهم له دی کبله داسمان په چپه اودنور څخه په ډکه فضا کښې زما بدلی نااشنا اونامانوسی اواجنبي غوندی معلومېږی ! اوزه دخپل ژوندانه په لیار کښې ځای په ځای تیند کونه خورم ! زه چه هر څومره ډېر زیار باسم همدغه زما زیار په ما باندی بارېږی او زما پېټی درنیږی ! زه په دی هم نه پوهېږم چه په خپلو بدلو کښې څه وایم ؟ اوله دې کبله ستا دسر سره خپله بدله نشم برابر ولی .

« کهی یا »

❀ ❀ ❀

داواز ملګری !

په هغه وخت کښې زه په خپل لاندیستون بیده پروت وم چه ناڅاپه راباندی چاږغ وکړ! نړۍ په دغه وخت کښې دخپلو ستورو په رڼا کښې چپه ولاړه وه! اودځمکی په مخ دتیارې توری لښکرې پرتی وې ! زما دوستانو ماته وویل وروره چېرته ځې؟ په دې تپه تیاره کښې لیار نشې موندلای! ماورته وویل زه ددې خبرو هېڅ پروانه لرم ماڅخه داډیوه ده، اوددې په روڼا کښې به لیار پیدا کړم اوپه هغه لیار باندی به ځم! چه څومره به دغه ډیوه ډېره

ښه بلېدله او ډېره رڼا به ئې کوله هم په هغه اندازه به ئې زما سترګی برېښولی ! او د دغه ډیوی رڼا چه به د تیاری سره ګډېدله ، له دغه ګډون څخه به عجیبه او نا آشنا شکلونه پیدا کیدل چه په دغو شکلونو به زه غولېدلم ! او نا آشنا شکلونه به راته ښکاره کیدل ، او د رڼا او تیاری د ګډون دغه طلسم ته زه حیران پاته شوم !

دغه طلسم زه ړوند کړم ! زما د ډیوی اورد بادله کبله په رېږ دیدو شو ! او په پښو می اغزی ولاړل ! په دغه وخت کښې می ناڅاپه دیوی لویی ونی په ښاخو سرو لګیداو ټکر مې ورسره وخوړ ! او ډیوه می دلاسه ولوېدله او مړه شوه ! په دغه وخت کښې زه په دی خبره پوه شوم چه مالیار ور که کړیده او بی لیاری په شړو روان یم ! توره تیاره شپه وه ! زما سترګی داوښکو ډکی شوې ، او په چیغو چیغو می په ژړا پیل وکړ ! او سر می ټیټ کړ او په ټیټ سر می دا عرض و کړ چه اوس زه ډیر ستومانه شوی یم او د لیاری د پلټلو طاقت را کښې ندی پاته شوی !

که ګورم یو سړی په ما پسی وروسته غلی غلی را روان دی !

هم دا زما د آواز ملګری و . « پروبا هی نی »

❀ ❀ ❀

د رهبانیت نجات زما نجات نه ی !

زه تل د نړۍ په دې د خوشحالیو څخه ډکو بې شمیره بند شو نو کښې د آزا دۍ خوند لټوم !

په دې خاکی نړې کښې زه بیا بیا خپل خاورین کنډول د ژوندانه داو بو (اب حیات) څخه ډکوم او بیرته ئې تشوم !

ته دا کور د خپل عبادتګاه غوندی په خپله ډېوه رڼا ساته ـ لکه چه هغه دا خپله نړۍ د اسمان په ستورو رڼا کړې او رڼا ساتلی ده !

د خپلو حواسو ورونه پوری او بند و ساته !

او دا زما کارنه دی چه په خپلو پښو کښې د سختو ریاضتونو درنی زولنی واچوم !

کومه خوشحالی او مسرت چه مونږ ته د سترګو په نظارو : نغمو ـ او خو شبویه وږمو کښې را کړشوی دی ؛ اې خدایه ! ستا خوشحالی او رضا به هم په دغو شیانو کښې چیرته وی ! او زما دا عشق به زما په دې نیاز مندی کښې خپل کمال ته و رسېږی ؟

د رهبانیت نجات زما نجات ندی ! « توئی بیدیا »

❀ ❀ ❀

د نور عظمت ؟

زه د خپل زړه خوشحالی څنګه په ژبه ادا کړم ! د سهار وخت دی او زما زړه له ډېری خوشحالی څخه نا څی ! اوس زه دا مطلب په خپله نغمه کښې څه رنګه ادا کړم چه هغه کوم نعمت دی چه ماته را کړشوی دی زه نن د نور په عظمت کښې ساه اخلم ! ما نن د خپل زړه شهنشاه د خپل زړه په خلوت خانه کښې د بی نظیره حسن او بی مثله خوشحالی په عالم کښې لیدلی دی ! او په دغه چپ محفل کښې ماد هغه سره خبری کړی دی ! لیکن په دی نه پوهېږم چه هغه به ماته کتلی وی او که یه ؟ او د هغه د ګل د تنکو غوټو غوندی ښکلی ګوتی به پرما لګېدلی وی او که یه ؟ دا خبری زما د فکر څخه وتلی دی ! او له ډېری خوشحالی څخه می دغه شیان هیر شوی دی ؟ ماته اوس دا خبره معلومه نه ده چه څه وشوه ! او یوازی دومره پوه شوی یم چه په دغه وخت کښې زما د سترګو څخه د خوشحالی رڼا څڅیدله ! او زما په آب حیات باندی خړوب شوی سترګی د ګلانو په شان غوړېدلی وی ! او هری خواته چه به می کتل دا خبره به می محسوسوله چه ما کوم شی موندلی دی ـ لیکن دا خبره زه په ژبه نشم ویلی چه ما څه موندلی دی ! دا څه سبب دی چه فضا نن له ډېری خوشحالی څخه دوجد په سیند کښې لاهو ده ؟ هغه څوک دی چه دا شین اسمان ئی په خپله هستی او وجود معمور کړی دی ؟ ما خپل ځان هغه ته سپارلی دی ! او زما جسم د هغه په نور روڼ شوی دی ! هم دا سبب دی چه د سهار رنګینی و ړانګی زما د جسم له ذراتو سره ګډی او یو ځای شوی دی ! او ما د زړه دا خلاصه خپل ځان پر هغه نثار کړی دی زما وجود د هغه په ذراتو کښې ورک شوی دی او کومی خواته چه ګورم هغی خواته ماته خپل خوشحاله روح ښکاره کیږی ! زما لرغون مسعود او زما وروسته ژوند مبارک دی ؛ « کهی یا »

(د سیفی ترجمه)

چینی اشعار :

دگهیز پرتم

دگهیځ پرتم پرما باندی پرېووت ،
سپین او ارغوانی اوشنه اوسره گلان پیکه شول.
زه ناآرامه یم .

❀ ❀ ❀

په شنو زر غونو وښو کښې دیوه شی کښهار دی،
ماداسی وگڼله چه دده دپښو کړپی دی ، چه زه ئې
اروم، هلته چه یو ملخ ځزهار لری .

❀ ❀ ❀

زه هغه وخت غره ته وختم ، چه سپوږمۍ برېښېده
نو مادی ولید چه پر جنوبی لارتی ،
زما دزړه دده لوړتیاته کښته کښته کېدی .

❀ ❀ ❀

شپه څنگه ځی ؟

شپه څنگه ځی ؟
نیمه شپه لااوس راځی .
لاندی په غولی کښې مشال روڼ او ځلاند دی ،
زه له لیری دډاله ډبهار اروم .

❀ ❀ ❀

شپه څنگه ځی ؟
تراوسه لاشپه نده تللې .
زه دبوغۍ ږغ اروم ، چه له پاسه راځی .
اومشال پیکه پیکه کېږی کښتی ته ځی.

❀ ❀ ❀

شپه څنگه ځی ؟
شپه ولاړه اوتېره شوه .
مشال دگهیځ په رڼا کښې دودېږی ، د اژدهار
بیرغ په لمر کښې رېږی .

❀ ❀ ❀

خپل با دارته گورم

دغه کډو لاتراوسه ډېر پاڼی لری . او پر دې
گودر باندی اوږدغځېدلی دی .
زه خپل بادارته انتظار کوم .

❀ ❀ ❀

داگو در تر غاړو پوری یو میل ولاړ دی ،
چوغکه دخپلی مادې سره چونگېږی .
خو زما بادار ځنډېدلی دی
ماڼو لاتراوسه سراولاسونه ښوروی ، اودنورو
یون هم پای ته ر سېږی ، خو زه دخپل ملگری
انتظار کوم .

(دچینی شی کنگ څخه چه په (۵۰۰ع) کښې
کښل شوی دی ، دهیلن وا ډیل ترجمه ،
اوله انگلیسی « دنړۍ دشعر انتخاب »
څخه دحبیبی ترجمه)

لړی ویر

ها ، زماورور بیرته راته راوبولی ،
زه یوازی لوبی نشوای کولای ،
دو بی دګلانو اوغلا وزوسره راځی
زماورور چیری ولاړ ؟

❀ ❀ ❀

بو را الوزی اوبرېښی :
کم وخت چه دلمرله وړانګو څخه تیر یږی
چه داتښتی زه ئی په وروسته پسی نشم تلای ،
ها ، زماورور بیرته راوبولی ..

❀ ❀ ❀

هغه ګلان ځنګلی شوه ، چه مو
دخپل بڼ پرونو چاپیر کرلی وه
زمونږ تاك هم دخپلو کوروسره مړاوی دی
ها ، دی بیرته راته راوبولی . !

❀ ❀ ❀

«ښکلی وړوکې ! هغه زمانارې نشی اروېدلای
دی به بیاتاته رانشی .
هغه خوله چه بو وارپه پسر کښې وخاندی
بیا پرمځکه نه لیدله کېږی . »

❀ ❀ ❀

«دګل په څېر لنډاودخوښی ډك ، روښانه ژوندون ،
دغسی هغه ته ور کړشوی وو .
ځه ـ زما کوچنو ټی ! یوازی لوبی وکړه .
ستا ورور په جنت کښې دی ! »

❀ ❀ ❀

«ده چه مرغی او ګلان پرېښوول ،
نو به زمونږ رابلل ابته وی ؟
دد وبی اوږده اوږده فصلونه به تېر شی
خودی به بیرته رانشی ؟

❀ ❀ ❀

او ، په دې لمر څرك کښې ، په دې شنېلو کښې به
زمونږ ټول اپوټه توب اوزکلېدنه ترکله راسره وی ؟
ها ، زما ورور به کله لوبی را سره وکړی ،
چه پرمالاډېر ګران شی ! »
(انګلیسی مسز هیمنس) (۱۷۹۳ ـ ۱۸۳۵ع)

(دحبیبی ترجمه)

❀ ❀ ❀

دروبرت منتسکیو اثر :

دښاغلی «پروانه» ترجمه :

زما زړه

زما زړه ډاډه ، محفوظه او هوسا ځای دی ،
چه هیڅ یوه خاطره پکښې نه زړېږی او نه مشتبه کېږی .
زه پکښې داسی خاطری لرم چه زما تر فکر
قوی دی او ما خبروی چه انسان مخکښې له دېنه
چه فکر کولو سره آشناشی ، عشق سره بلدوی .

❀ ❀ ❀

زمازړه یو خزان وهلی بوستان دی اودسورګل
دمړاوی بوټونه چه تل تازه اوغوړیدلی ښکاری ډك دی ...
منګر کله چه سړی دهغو دښه عطرودبویولو دپاره
هغوی ته نژدی کېږی ، ګوری چه دګلو په ځای
له بوټو څخه وینی څاڅی .

❀ ❀ ❀

زما زړه یو کټوری دی چه غم اودر د و نه ئی
تل دحرمان اوناامیندی له تریخواوزهرناکواوښکونه ډکوی
اوهر څوك چه ئې خپلوشونډوته ور نژدی کړی ،
او څنګه چه ځانته د چښلوجرئت ور کړی ، نوسمدلاسه
خپل ستونی کښې تریخوالی حسوی .

❀ ❀ ❀

زمازړه له برمه ډکه مانۍ ده ، مګرپه غم لړلی ده
« نور په ۲٤ مخ »

ژبني پوهنې

ژبه

(۲)

لیکونکی : و اندریس د پاریس د پوهنتون ژب پوهاند

دښاغلی «خوږ من» ترجمه :

د کڼو او گونگو خلکو داشاراتو اوحرکاتو دژبی اساس هم په سماعی ژبه ایښوول شوی دی اوهم ددې حرکاتو او اشاراتو په اثر کښې مونږ معذورو اشخاصو ته دمروجی ژبی قواعد ورزده کوو اوپه دې صورت به هغوی ته دیو بل سره دمخابری او مفاهمی او ارتباط قابلیت ور کوو او ددې کار په اثر هغوی پدی خبره قدرت پیدا کولی شی چه هغوی دارویدونکو او لوستونکو خلکو آثارولوستلی شی . یو حس دبل حس په ځای استعمال کړی او دوی دعلامو په ذریعه دارتباط او مفاهمی قابلیت ور کوود کڼواو گونگیانو مسئله مونږ دې خبری ته را بولی چه دژ بی له نقطهٔ نظره څخه په اصل او مبدا اود علاماتو په استعمال اواستخدام کښې فکراوتعمق و کړو .

مونږ داپوښتنه کولای شو چه آیاژبه یومستحصل حقیقت او دتعلیم او تر بیې څخه یوپیدا شوی شی دی یاددې پرخلاف یوفطری اواحتیاری اومیلی شی دی ؟ پدې نکته کښې نور مال اطفال مونږ ته مرتب معلومات په لاس نشی را کولی ځکه چه دتولدله وخته هغوی دخارجی نړی- څخه خبروی - پخواله دې چه هغوی آواز و کړی ، دخپلی اروېدونکی قوې په اثر دخپل ماحول سره مربوط پاته کېږی اوله هغه وخته چه خبری کوی خپل ځان په جامعه کښې دتنستې او بودی په شان گډاومخلوط وینی ،ددې په عکس په کڼواو گونگو اشخاصو کښې باید دمفاهمې او الفاظو دعلاماتو دپېژندلو یوه قوه پیدا کړله شی . اوهر کله چه هغوی دخبرو اترو اووینا ژبه نشی یادولی نوله دې کبله ددې ضعف په اثر دناطقو اشخاصو د هغو تاثیراتو

« پاته د ۲۳ مخ »

چه دهغی په فضا کښې هغه حرمان چه تسلیت ته نه رسیږی ورو، ورو گرزی او دهغه دپښو ږغ او آهنگو نو- سره گډېږی ...

❀ ❀ ❀

زما زړه یو محراب دی چه دهغه په مقابل ، دگهیځ دگلونو خندا ، اودنوی غوړېدلې غوټی تبسم اودسهار دږلی ژړا او دپسرلی دمرغانو ،روح تازه کوونکی نغمې اوپه پای کښې دیوه عمریادونی زنگنونه وهلی دی پرتی دی .

زمازړه دهغه متروك شوی غرودڅو کوپه شان دی چه دلمر دلویدلو نه وروسته هم دهغه پلو شوښه راغلی کوی او برسیره پردی زما زړه دعشق دلمر دلو یدلو نه بیا وروسته د مرگ ترر سیدلو پوری هم د هغه وړانگی ساتی ...

زمازړه یوه هنداره ده، که چیری تیری شوی زمانی وغواړی چه دخپل ملکوتی مخ ننداره پکښې وکړی تل لږې روڼې اوبه دخپل شمایل دانعکاس د پاره په هغه کښې مومی ...

څخه چه نور مال اطفال دابتدا او لمړی وخت څخه د هغوی تر نفوذ لاندی راځی دوی نشی را تللی . لیکن کانړه او گونګ اشخاص لیدل کتل کولی شی او هغوی دخپلو سترگو په ذریعه دا کولی شی چه داستفادې او ژبی داستعمال صورت زده کړی او د سترگو دلاری هغویته ددغو شیانو تعلیم ور کړشی . دې دپاره چه دطرح شوی پوښتنی ځواب وویل شو . د اخیره لازمه ده چه ددغه راز افرادودماغونه تریو دا راز تعمق لاندی ونیول شی چه د خپل تولدی ضعف په اثر بالکل دخارجی نړۍ څخه منقطع شوی وی . یادا چه دتودله وخته بالکل دانسانانو سره دتماس او ارتباط څخه محروم شوی وی . او هر کله چه دغه وروستنی مفروضه یو مزخرفه مفروضه ده نو له دې کبله نشی عملی کیدلی . دا ځکه چه دا کار به څوك څه رنگه وکړایشی چه انسانان تبعید کړی اودخپلو خواهشاتو اوحواسو داستعمال څخه ئې داسی منع کړی ، چه دهغوی دماغونه د خپل فعالیت او کار څخه داسی معطل پاته شی لکه چه یو انسان په یوه تیاره خونه کښې بند پاته اود خارجی ارتباط څخه بالکل محروم او بالکل یوازی وی .

مونږ ټول دهغی تجربی څخه چه دمصر پاچا سامتیکوس عملی کړه او « هرود وتس » توضیح کړه خبر یو . دمصر پاچا غوښتل چه په دی خبره پوه شی چه آیا فرجیانیان نسبت دمصر خلکو ته په نسل کښې پخوانی دی که یه - ددې مقصد د پاره هغه د وه کوچنیان د پیدا کیدلو له وخته یو دار از طرز تربیه کړی وه چه هغوی یوه ژبه هم نه وه اروېدلې تر څو میاشتو وروسته چه دغه تجربه عملی شوه داخبره ښکاره شوه چه په کوم وخت کښې چه دغه کوچنیانو دغذا تقاضا وکړه د « بیکوس » کلمه ئې چه دفریجیانو په ژبه کښې د ډوډۍ نوم دی استعمال کړه . سامتیکوس د دغه پوزته تجربی څخه دا استنباط وکړ چه فریجیان نسبت مصری ژبی ته پخوانی دی برسېره پر دی باید دا وویل شی چه په انسان کښې قوه ناطقه او ژبه فطری اوذاتی دی ، که دسامتیکوس تجربه په رښتیا عملی شوی وی نو ریه دې صورت کښې دهغه په ښه اراده کښې د اشتباه ځای نشته . سره ددې په لمړی نظر ځینی تجربی ډېری جامع معلومېږی دا تجربی په هغو اشخاصو عملی کېږی چه په یوه وخت کښې نړۍ ته کانړه او ډانده راغلی او پیدا شوی وی - او په دې صورت دهغوی مخابره او ارتباط دخارجی نړۍ سره بالکل منقطع شوی وی . د مثال په ډول یدی موضوع کښې د « ماری هورتن » فرانسوی میرمنی . او هلن کید امریکائی میرمنی کیسه دتوجه وړده . خصوصاً دهلن کید موضوع ډېره زیاته خوږه ده . دې میرمنی تر دې اندازې پوری کافی معلومات حاصل کړی و ، چه په ډېرو ژبو کښې ئې فلسفی او ادبی اثار لیکلی او لوستلای شوای او له دې کبله چه ددې لیک او تحریر دماحول درومانتیکی رنګ آمیزی دتاثراتو څخه عاری و ، په دغه تحریر کښې دتوجه وړا وخوږه نکات لیدل کېږی .

دهلن کید ژبه دروزنی او تعلیم نتیجه وه . ددې په خصوص کښې خپور شوی کتاب ددې دتعلیماتو دزد کړی دپاره دبی نتیجی زیارونو توضیح کوی - تر دې اندازې چه تر ډېرو زیارونو او کوښښونو وروسته دیوی اشارې او علامی په قیمت پوه شوه او ددغو زیارونو په څرك کښې ئې دومره وکړی شو چه په دغه قیمت ځان پوه کړای شی - او په دغه ورځ هغه پرده چه تر دغه وخته پوری ئې نړۍ ددې له مخ څخه پټه کړې وه ددې دسترگو څخه پورته او څېری شوه او هغه جال ورته ښکاره شو چه الفاظ او اشیائې دیوبل سره مربوط او یو ځای کړی وه .

لیکن ددغه پورته ذکر شوی منظرې مفاد په یو فرد پوری ځکه تعلق لری چه هلن کید د طبیعی ژوندون تر حالاتو دباندی واوددې مسئله څخه مستثنی لیدله کېږی .

په داسی صورت چه دا بد مرغه نجلۍ داشاراتو په مطلب پوهیدله ؛ اولنو انسانانو چه به خبری کولی داشاراتو دپوهیدلو لیاقت به ئې نه درلود . د ژبی نشونما او وده په یو دار از معذور او مستثنی او فوق العاده فرد کښې چه دهغه ارتباط دخارجی او نوری نړۍ سره بالکل منقطع وی مونږ ته دژبی دارتقاء

په خصوص کښې په یوه داراز جمعیت کښې چه د نورمال انسانانو څخه ئې تشکیل موندلی وی هیڅ فکر او نظریه نشی را کولی.

داد اجتماع سینه ده چه ژبه یکښې تشکیل مومی او هم په دې اساس مبنی ده چه په کوم وخت کښې چه انسانانو په خپل منځ کښې دیو بل سره دارتباط او مخابرې ضرورت او اړتیا حس کړه د دغه ضرورت د احساس په څرک کښې ژبه میدان ته راووتله. ژبه دیو شمیر هغو انسانانو د تماس نتیجه ده چه حسی اعضاء لری او دیو بل سره په خپلو مناسباتو کښې د طبیعی وسایلو څخه استفاده کوی او په کوم ځای کښې چه د خپل مقصد د اظهار او ښکاره کولو دپاره الفاظ نه لری په دغه صورت کښې د حرکاتو اشارا تو څخه کار اخلی او که دغه شیان هم کفایت ونکړی شی نو په دغه صورت کښې د مخ د وضعیت څخه کار اخلی. په دې موضوع کښې به ښه او غوره تجربه داوی چه د متیکوس په تعقیب دوه یا زیات کوچنیان چه بالکل د تعلیمی منابعو او د ژبی د طبیعت څخه خبر نه وی د دقت لاندې ونیول شی. د هر نسل او کورنۍ څخه چه وی هغوی دا کولی شی چه د خپلې ارثی توجه په مرسته د ځان دپاره ژبه پیدا کړی او دا ژبه وفریګیانو او یا فریجیانو ژبه نه وی. احتیاج په داسی ډول چه اجتناب نه ورځنی کیږی حتماً اعضا په کار اچوی او ممکنه ده چه ژبه هم په لمړی سر کښې ابتداءً په دې ډول میدان ته راوتلې وی په دې صورت نو ژبه یو اجتماعی حقیقت دی او په ښکاره ډول د اجتماعی تماس نتیجه ده.

ژبه د هغی ډیرې قوی عقیدې نوم دی چه ټولنی یو د بل سره تړی او د ژبی ترقی او تکامل هم د اجتماعی ګروپ په موجودیت پوری تړلی دی.

ژبی په هغه وخت کښې دیو اجتماعی حقیقت بڼه پیدا کړه چه د انسان د ماغ د هغی د استعمال دپاره په پوره ډول وده کړی او آماده شوی و. دا پورته حقیقت یوازی د ژبی په مسئله کښې صحت نه لری بلکه د بشر په ټولو اختراعاتو کښې هم دا طرز لیدل کیږی، اکثراً دا پوښتنه کیږی چه آیا په اصل او مبداء کښې د بشر ژبه یوه وه او که ډیری؟ لیکن په حقیقت کښې دغه پوښتنه ځکه مهمه پوښتنه نه ده چه هر کله دماغی وده او ترقی د خپل کمال یوې ټاکلی نقطې ته ورسیږی نو په دغه وخت کښې یخپله نوی نوی انکشافات له هری خوا په یو وخت کښې ځانونه ښکاره کوی. د مثال په ډول مونږ فرض کړل چه محصلین په هوا کښې دی او لړلړ را کښته کیږی. البته د دوی دغه را کښته کیدل لکه په منی کښې د پخو میوو غوندی طبعاً لیدل کیږی.

د پسیکو لوژی له نقطهٔ نظر څخه د ژبنی یو منی لمړنی اقدام عبارت دیو سمبول (رمزی علامی) د ټاکلو څخه دی دیوی اشاری دپاره: دا دیسکو لوژی عملیه د انسانانو ژبه له حیوانانو څخه جلا کوی دا غلطه خبره ده چه مونږ دا دواړی ژبی دیوی بلی څخه بیلی او جلا وګڼو او دا ووایو چه وروستنی ډیره طبیعی ده؛ او لمړی ذکر شوی ژبه مصنوعی او مرسومی ده، د بشر ژبه د حیواناتو د ژبی په نسبت لږه طبیعی نه ده بلکه نسبتاً ځکه ډیره جګه ده چه هر کله انسان دیوی معلومی برخی علاماتو په مرسته معلومات ورکولی شی دا هم کولی شی چه د خپل رسم او رواج په اثر هغی ته تغیر ورکړی ځکه نو کوم اختلاف چه د انسان او حیوان په ژبه کښې موجود دی هغه عبارت د علامی او یا اشاری د طبیعت د تقدیر څخه دی. سپی- بیزو ګانی مرغان - ځانونه د خپل جنس او نوعیت په ذریعه پوهوی - هغوی داراز آوازونه حرکات او اشارات او سرودونه لری چه هر یو په خپلو ټاکل شوو فزیکی وضعیتونو په وېره او خپګان، لوږه او لیوالیا دلالت کوی. د حیواناتو ځینی آوازونه د هغوی په طبیعتونو دا سی سم او برابر وی چه انسان د هغه آواز څخه د یوی انسانی ژبی په جمله ترجمه او تعبیر لای شی.

سره د دې حیوانات د جملو په ذریعه تعبیر نشی کولی- او نه دا کولی شی چه د خپلو آوازونو په ترکیبی عناصرو کښې تغیر او تبدیل راولی لیکن کلمات چه په جمله کښې عبارت د جانشینو عناصرو څخه دی تبدیلولی شو. حیوانات د کلام څخه هیڅ راز معلومات نشی اخستلی. بر سیره پردی کلمه که او از وی او که

اشاره هیڅ کوم معین قیمت نه لری . له دی کبله ئی په رسم ورواج کښې هم تعین نشی کیدلی . دحیوانانو ژبه دتغیر یا ترقی گنجایش نه لری . هیڅ کوم داسی اثر او اشاره نشته چه دحیواناتو ننني اصوات ئی نسبت پخوانه مختلف شوولی وی .

کوم مارغه چه آواز کوی ددې دپاره چه هغه لاس چه دخوراك شی ئی ورته یکښې نیولی دی ځانته جلب کړی . خپل آواز د اشاری په شان نه کښې او له هغه نه هیڅ خبر نه دی . دحیواناتو ژبه په معهود شی پوری داشاری دیوراز مربوطیت اشعار کوی او ددې مقصد دپاره چه دا مربوطیت دمنځه وتلی او اشاره یا علامه دمعهود شی څخه خپل استقلال حاصل کړی یو پسیکو لوژی عمل لازم دی .. او هم دې شی دانسانی ژبی دپروزمنشاء ښکاره کړی ده .

دبشر دپسیکو لوژی دنشو ارتقاء معمی باید تر یوې اندازی پوری دانتریو لوژی یعنی دبشری تکون دعلم دحقائقو په ذریعه رو ښانه او واضحه کړشی - مونږ دافرض کولی شو چه دژبی ترقی او تکامل دانسانی دماغ دطبیعی ودی نتیجه ده ؛ سره ددې دارازیوه مفکوره مونږ دې خبری ته نه اړ کوی چه بی له کومی توطئې ددبرو کاموضع یا تمرکز دماغی ؛ معروفه نظریه ومنو دا صحیح خبره ده چه دغه پورته نظریه اوس دومره دتوجه وړ نه ده اونه ئی تردیدیه خلکو کښې رواج موندلی دی. دتکلم نویو تحقیقاتو ددغه نظریی دتعقیم او تنسیخ ادعا کړی ده . پردغه پورته نظریه مهم اعتراض عبارت له دې څخه دی چه دغه نظریه ډیره مغلقه او پیچیده مسئله بسیط ښکاره کوی. دبرو کا دا تخمین او نظریه چه نطق د کښې خوا په ذریعه وجهه کښې تمرکز مومی غلط فکر دی او خصوصا دده تعلیمات په دماغ کښې لوی او تاکلی ځایونه ښئی چه ذهنی لویو تقسیماتو سره مطابقت لری . هغه په خپله دی نظریه کښې دژبی ارتباط دفکر سره غلط تفسیر کړی و . دا غلطه خبره ده چه مونږ دماغ یوداسی شی فرض کړو چه دیو گرامر په پلان جوړ شوی او دکلام دمختلفو اجزا و دپاره مختلف شقوق لری. دبرو کا دمفکورې له کراره دنطق تول عمل په آزادانه ډول اوزیات په دماغ کښې ویشل شوی دی لکه دگنگی توب او دعصبی دسقوط دحالاتو په ریښه او بنسټ کښې چه دحادثو په اثر پیدا کیږی او دبرو کا نظریه په دغه اساس کرار لری ؛ عموماً یوه صدمه او یا یو موضعی تبدل موجود وی . لیکن گنگتیا او دحساسی ناطقې سقوط لکه چه ورنیك ئی تعریف کړی دی په عمومی ډول سره دیو دماغی عمومی نقصان متضمن وی علاوه پردې ډیر ځینی داراز عوض او تبدیلی حوادث پیښیږی چه دهغو په اثرخو اوشا گوا ندی مراکز د صدمې دمتضررینو وظائف اداکولی شی . بالاخره خارجی طبقات یا دیوالونه په یو داراز ډول ترتیب شویدی چه یوه صدمه یا تبدیلی په هغو کښې متأثره پیچیدگی او اختلال پیدا کوی - چه دغه پورته ذکر شوی اختلال تر دریمی کښې خوا وجهی پوری هم سرایت کوی .

لنده داچه که خه هم مونږ دنطق دتمرکز داصولو سره موافقه ولرو - سره ددې هم باید دهغه تفصیلات ډیر زیات تر دقت لاندی ونیول شی .

د کلوداوژه اثر

د ښاغلی «رښتیا» ترجمه

د تاریخی گرامر تعریف

(۳)

د لغاتو منشأ :

اینیمولوژی یا د اشتقاق پوهنه د گرامر هغه برخه بیانوی چه د کلماتو منشأ او مبدأ پلټی او دا پوهنه راښیی چه دا پلانی فرانسوی لغته له لاتینی څخه یا له یونانی څخه او یا له نورو ژبو څخه اخیسته شوی دی .

د ژبو لغات په مکملو قاموسو کښې قیدیږی ، لکه چه د فرانسه د لغاتو د قاموس وروستنی طبع چه د فرانسه دا کاډمی له خوا په ۱۸۷۸ ع ترتیب او خپور شوی دی د فرانسه ټول لغتونه ئې ۳۲ زره قید کړی دی ، مگر د لغتونه ورځ په ورځ ډېرېږی ، دا ډېر والی اکثراً د پردیو لغاتو د منلو له لاری وی او یا د علومونو ی اختراعاتو او اکتشافاتو له نظره د نویو علمی لغاتو د وضع له لاری وی چه ورځ په ورځ ډېرېږی ، له دې کبله نو د هری ژبی لغتونه تل په ډېرښت کښې دی او د هری ژبی د لغاتو پانگه ورځ په ورځ ډېرېږی - البته د دې لغاتو د ځینو استعمال او اعتبار به دائمی وی او د ځینو دا به موقتی وی چه د هغی مفکورې دور کېدلو په اثر چه د وی ئی منځ ته راوستلی دی له منځه وری او پرېښودل کیږی لکه اخباری مصطلحات چه په جامعه کښې د ځینو افکارو د رواج موندلو په نتیجه کښې خپرېږی او چه هغه مفکوره هېره شی دا لغتونه هم هېرېږی او خپل اعتبار بایلی (لکه په موجوده جنگ کښې د «پنځم ستون» اصطلاح یا مثلاً «د اعصابو جنگ» چه ډېر رواج ئی موندلی دی مگر ښائی یوه ورځ دا اصطلاح بېخی هېره شی او له قاموسونو څخه هم ولوېږی او یا لاقل د متروکو لغتو او اصطلاحاتو په ډله کښې ودرېږی)

اوس نو د لغاتو د څه راز والی په شا وخوا کښې لنږ تشریح درکوو ! زمونږ مثال فرانسوی ژبه ده د فرانسوی ژبی د ۳۲ زرو لغاتو څخه چه قید شوی دی که ټول هغه لغتونه چه د پردیو ژبو څخه اقتباس شوی دی او یا په عالمانه صورت له پخوانیو ژبو څخه اخیسته شوی او ټول ۲۰ زر لغتونه رسېږی کم کړو او بیا له هغو ۱۲ زرو پاتو لغتو چه د عامیانه کلمو په صورت پاتېږي که هغه لغتونه چه د ترکیب او اشتقاق په صورت له نورو لغتو پیدا شوی دی جلا کړو نور بسیط لغات چه منشأ ئی عوام دی (۴۲۰۰) لغتونه باقی پاتېږی د دې لغاتو هم لویه برخه (۳۸۰۰) لغتونه له (۴۲۰۰) له جملې څخه کېږی ؛ د فونیتیک یعنی د صوتی قوانینو سره سم له لاتین څخه اخیسته شوی او ۴۰۰ پاته لغتونه د جرمنی ژبی له منشأ (پخوانی المانی) څخه دی .

فرانسوی ژبی پخوا لمړی وار له یونانی ژبی څخه تقریباً سل کلمې اخیستی چه د لاتینی ژبی په ذریعه په هغی کښې داخلی شوی دی او د دی ژبی د بنسټ او اساس په توگه بللی شوی وی وروسته ئی په منځنیو پېړیو پنځوس نور لغتونه اخیستی دی ، مگر په اوسنی عصر کښې د یونانی ژبی بیشماره لغتونه د علمی لغاتو په برخه کښې منلی او داخل کړی دی ، چه دا نوی لغتونه د یونانی ستو (بیخو) په ذریعه د یونانی پریفکسونو او سفکسونو او ډېروختونه د یونانی ژبی د ترکیب د خپلو قوانینو پرخلاف ایجاد شوی دی او کله لا داسی هم کیږی چه یوه یونانی کلمه او له لاتینی کلمه سره یو ځای شی او نوی لغت ځینی جوړ او ایجاد کړی ، لکه بایسکل - سانتی متر او نور ...

همدارنگه فرانسوی ژبی تقریباً سل یا دوه سوه کلمی له خپلو محلی لهجو څخه لکه (نورماندی او پیکاردی او نور) او تر ۳۵۰ لغتونو ډېری ئی د خپلی داخلی او محلی له مهمی لهجی (پروانسال) « د پروانس د خلکو له ژبی » څخه استعاره کړی دی .

داقتباساتو په برخه کښې چه فرانسوی ژبې له نورو پر دیوژبو څخه کړی دالاندی تشریحات ور کولای شو د کولواله ژبې څخه (پخوانی فرانسوی) ۲۵ لغتونه- دباسك له ژبې څخه (دفرانسه جنوب او دایطالیا شمال) ۱۰ لغتونه دنوی المانی ژبې څخه- ۱۰۰ لغتونه- دهالیندی اوفلامان له ژبې څخه (فلمنگی =دبلژیك یوه برخه خلك) ۱۱۵ لغتونه- دانگلیسی څخه- ۲۵۰ لغتونه داسپانیولی څخه ۲۵۰ لغتونه- له ایطالوی څخه زر لغتونه- دپرتگالی څخه ۳۰ لغتونه دسلاوی ژبو څخه ۳۰ لغتونه دعربی ژبو څخه- ۲۴۰ لغتونه دعبرانی څخه څو کلمی- دترکی څخه ۴۰ لغتونه- دفارسی څخه ۴۰ لغتونه، دهند دمحلی لهجو څخه ۳۰ لغتونه دامریکائی ژبو څخه ۱۰۰ لغتونه- دشرق اقصی له ژبو څخه لس لغتونه اوپه پای کښې څو کلمی هم دفرانسه دبازاری ژبې څخه چه منشأ او مأخذئې نه دی څرګندشوی اواکثراً پخوانیوصوتو اوحوادثو ته تکیه کوی اوپه قاموسو کښې نه فیدپېژی، مگرهغه چه په همدې قرار دژبې دلیکنی جزء ګرزیدلی وی.

غبرګولی (دوګانه ها): دپرلخه داسی پېښیږی چه دپوی لاتینی یاخارجی کلمې څخه ددوو مغایرو علتو په اثرفرانسوی مختلف لغتونه راغلی دی، دی قسم لغتونه غبرګولی وایی، مثلاً ددې Ratio لاتینی کلمی څخه دوی فرانسوی کلمی جوړی شوی دی، یوه په عامیانه صورت چه هغه د Raison کلمه دعقل، دلیل حق اونورو په معنادی چه دعوامو له لاری یعنی دفونیتیك دقوانینو پراساس چه دصوتو یوهنه ده منځ ته راغلی دی. اوبله په عالمانه صورت چه هغه د Ration کلمه ده چه دلخیری، مقرره ترتیب، اشراق اونورو معنا ورکوی.

مرادف: بالعکس، دپری متغایری کلمی شته چه دفونیتیك دقوانینو په اثرأې متحدالادا (یورنگ تلفظ) فرانسوی کلمی جوړی کړی دی چه دژبنی پوهنی په اصطلاح «هم آوازه» باله کیږی لکه Air هوا Aire آهنگ Ere دوره یانور ... اوحتی دهمدی قوانینو په اثر کښې متحدالاملا کلمی هم پیداشوی دی چه د ژبنی پوهنی په اصطلاح ئې Homographes بولی لکه Couin دغوماشی په معنی او Cousin دکاکاد زوی په معنا یانور داسی ..

د کلماتو مفهوم- دمعانی علم: په تولو ژبو کښې دافکارو شمیر د کلماتو تر شمیر ډېر دی، ځکه نو باید یوه کلمه دځو فکرو دافادی دپاره استعمال شی او داچه یوه کلمه له یوی معنا څخه خپلی بلی معناته څنگه نقل کیږی دمعانی دعلم موضوع تشکیلوی.

دمعنا تغییرونه دافکارو دراغونډولو (ربط سره ور کولو) په ذریعه چه دځینو ډېرو دقیقو قوانینو په قرار لکه تشعشع او تسلسل او نور جوړیږی چه مشهور رو ژبه پېژندونکو لکه گرسن، دار مستتر اومیشل بریال دهغو مهم ترشمیرلی دی اوددې قوانینو اویه برخه دبلاغت دعلم ترعمده شکلو لاندی دمجاز په نامه درج دی (لکه استعاره، مجازمرسل، تعریض اونور ...) په استعاره کښې کیدای شی چه زمری دزړور انسان پرځای استعمال شی، اوپه مجاز مرسل کښې کیدای شی چه واله داوبو پرځای راوړه شی لکه چه ووایه شی: واله بهیږی یعنی اوبه بهیږی اوپه تعریض کښې دعباد کشیش پرځای راتلای شی (فرانسوی مثال دی) اوبالاخره په تنافرالتشبیه کښې پېښه د میز دپښی پرځای راوړای شو- (داهم فرانسوی مثال دی) مرادف: دمعنی ددی تغیراتو په اثر داسی پېښیږی چه مختلفی کلمی دیوه فکر افاده وکړی، دغه کلمی نومرادفی کلمی بولی هیڅ نام مرادف نشته اکثره لی ناقص مرادف وی، یعنی ددوی په منځ کښې دمعنا یو کوچنی اوباریك اختلاف موجودوی مثلاً دپاتیدلو اواوسیدلو یادارویدلواوغوږ ایستلو اونورو په منځ کښې، په هغه صورت کښې چه دوی مرادفی کلمی په تام ډول سره یوه خبره افاده کړی نو ژبه خود بخوده یوه کلمه له استعماله باسی ځکه چه بی فائده باله کیږی مثلاً په فرانسوی ژبه کښې د Chef کلمه او د Tête کلمه د واړی د (سر) په معنا استعمالیدلی، خوامړی کلمه په یورتنی معناله استعماله اوپدلی او تقریباً د (سر) په مفهوم مترو که ده (البته پخپله مجازی معنا چه (مشر) دی استعمالیږی (نوریبا)

ادبي گټني

له خارجي مطبوعاتو څخه

دافساني ارتقا

(٦)

ذښاغلي عزيز الرحمن «سيفي» ترجمه :

پخواني کامونه او کيسي - رزمي کيسي - عشقي داستانونه - منظومي رزمي او عشقي افساني دحکومت مذهبي دوره او کيسه دډرامي ابتدا - يوناني او رومي کيسي - دمشرق خوا خلکو داستانونه - منځني پيړۍ او افسانه - تراتلسمي پيړۍ پوري دارو پا دافسانو حال - دارو پا بيداري - په لمر خوا ته خوا افسانو دفرانس د انقلاب اثر - موجوده ناول

ددي پوښتني ځواب چه افسانه اول ځل او لمړي په کوم ځاي او کوم صورت پيدا شويده ؟ ډېر گران او مشکل دي، ځکه چه دافساني غوندي پخواني فن په خصوص کښې کوم قطعي ځواب زما په خيال يو ناکيدونکي او ناممکن کار دي

صرف دومره ويلي شو چه دډېرو پخوانو کامونو کوم ادبي آثار چه موندل شوي دي له هغو څخه معلوميږي چه په هغو وختو کښې هم کيسي وي دغه کيسي به يا دپخوانو مشرانو د کارنامو بيان و، چه دمبالغو څخه په ډکو قصو کښې [illegible] دد غو قصو په ذريعه به ئي غوښتله چه دخپل کام او [illegible] ځلمو کښې دخپلو پخوانو پلرونو پر پله تګ او په شجاعت او زړه ورتيا کښې دنوم ايستلو شوق او مينه پيدا کړي - او يا به ئي دقبيلي ځلمي افراد په خپلو داستانونو کښې يادول او دهغوي دعشق او ښکلي توب په داستانونو به ئي خپلي ساعت تيري کوله . او يا به دمذهب دمقدسو هستيو دژوندانه حالات وه چه مقصد به ئي ارشاد او هدايت و .

انساني فطرت يو داراز عجيبه شي دي چه ده ته دخپلو حالاتو دارويدلو څخه د نورو خلکو حالات ارويدل ډېر خوند او مزه ورکوي . په پخوانو وختو کښې چه دانسان ساده همت به ټول دتنازع للبقاء په ډګر کښې صرفيده ؛ نوله دې کبله به دوي دخپلو مشرانو دزړه ورتيا د کارنامو سره ډېره مينه درلوده او په هغو وختو کښې تر دې ښه او مهم بل کوم شي و؟

دې کيسو په انفرادي او مجموعي ډول د انسان په ترقۍ او لوړتيا کښې ډېره برخه اخيستي او په دې لبار کښې ئې دانسان سره پوره مرسته ځکه کړيده چه دپخوانو خلکو دلوړو کارنامو دارويدلو په اثر به ددوي په زړونو کښې په خپل دښمن باندي د غلبې

دحاصلولو مینه اوشوق پیدا کیده او ددغه جوش او حمیت په مرسته به دوی داسی کارونه کول چه هغه بی له دغه شی په بل هیڅ شی نشو کیدلی او امکان ئې نه درلود ، درامائن- مهابهارت ، او الیډ - کیسی به حقیقت کښې درزم او بزم نمونې دی .

پاك خدای په انسان کښې دشجاعت سره سمه سمه دعشق اومینی جذبه هم پیدا کړی ده چه دغه شی دتهذیب دارتقاء په ابتدائی مراحلو کښې ځینی وختونه ډېر وحشیانه مگر دهمیشه دپاره د یادگیرنی وړ خدمتونه کړی دی - ښه او ښکلی شی د هرچا خوښ وی او هرڅوك دا غواړی چه دغه ښکلی اوښه شی زما شی تل دهغه شی خپل لاس ته دراوستلو کوښښ کوی . ددې مخالفو او متضادو کوښښونو دټیل ماټیل اوکشمکش څخه ډېر ښه دلچسپ مواد را ټولیږی .

په نتیجه کښې دیوقوت په بریالی توب اوغلبې حاصلولو پای ته رسیږی او داواقعات دبریالی سره دیوې ډېری خوږې موضوع د جوړیدلو باعث شی اوهم په راتلونکو نسلونو کښې دا واقعات د افراط او تفریط سره په پوره ډول دفطرت څخه پورته افسانو شکل غوره او اختیار کړی لکه دلیلی مجنون ، شیرین فرهاد حسرت ناکی قصې تر اوسه پوری مونږ څخه محفوظی پرتې دی .

دوحشیانه حالت څخه دقدم اړولو نه وروسته موزون کلامی دې قصوته بل رنگ ورکړ اومهابهارت اوالیډ غوندی رزمی نظمونه میدان ته راووتل چه له هغو څخه دپخوانو اوقدیمی کتابونو موندل یونا ممکن کاردی . دحکومت په مذهبی دوره کښې دملت دولیانو ، بزرگانو اوشهیدانو مقدسی کیسی دعوامو په زړه کښې دمذهب صداقت په ښه شان سره ځایو لای اوپه دې کار کښې ډېره مرسته کولای شی .

په دې کار کښې دمذهب دمشرانو مقصد داو چه دمذهب اثر زیات اولمن ئی خپره شی لیکن دوه شیان ددوی دمقصد مخ په وړاندی تللو کښې مانع شوی و اول دلیك او خپرونو مشکلات دوهم داچه دعوامو ډېر شمېر بی سواده و.

دغو خلکو ددی دو ونو اقصو تلافی په دی ډول وکړه چه دتقدس مآبو اشخاصو حالات ئې عوامو ته دنقلونو او تمثیلونو په ذریعه وړاندی کړل . په اروپا کښې دحضرت عیسی علیه السلام اودهغه دځینو تابع دارانو دحسرت ناك انجام نه وروسته عوامو دغه رازد نصیحت څخه ډکه ننداري ډېری خوښولی ، داشی دوی خپله ډېره ښه مشغله گڼله دامشغله او تمثیلات دصناعو او باذوقه دماغونو په مرسته د ترقی دومره جگ مقام ته ورسیدل چه ددې کار په اثر په اروپا کښې د کسو دتمثیلاتو په شکل کښې خلکو ته د وړاندی کولو طریقی رواج وموند اوډېر عمومیت ئې پیدا کړ څو دناول دپیدا کیدلو تروخته ئې مسلسل دوام درلود او ددی طریقی له برکته یو رویډیز سا فو کلیز او شکسپیر غوندی ددرامه نگاری دمیدان پیاوړی پوهان میدان ته راووتل .

پخوانو یونیانو اورومیانو د کیسو خوا ته ځکه پوره توجه نه وه کړی چه یونانیان په نړۍ کښې دعلم دخپرونی دپاره راغلی وو او رومیانو د ملك دسیاست اوقوانینو جوړولو په میدان کښې قدمونه وهل سره ددې هم د یونان په پیاوړو پوهانو کښې هومریوا ځی درزمیه نگاری دنړۍ پاچانه گڼل کیده بلکه دکیسه نویسی په فن کښې ئې هم لوړ اودافتخار وړ مقام درلود اواول درجه سړی گڼل کیده - ځکه چه د « الیډ » اساس په کیسه باندی دی - اسیپ لقمان دلاتینی قام ترنن ورځی پوری ژوندی افتخاردی اوترنن ورځی پوری دهغه دنصیحت اومطلبونو څخه ډکی کیسی دنو وزد کړواو شاگردانو دپاره په کتابونو کښې لیکل شوی اودعلم اوپوهی به لیار کښې ورڅخه لوړی استفادې کېدلای شی اودهندوستان په موعظانه کیسو کښې د « بند پای [illegible] د منه » کیسی هم ددغو کتابونو او کیسو په شان دی .

دحضرت عیسی علیه السلام د مذهبی فدا کار یو ډکو کیسو مذهبی کیسو ته یو بل رنگ ورکړ دی لکه چه ددغې واقعی څخه په وروستنیو وختو کښې « تالمود » او نورونو واو زړو عهد نامو روایاتو ته

ور کړ شوې وه - ددې راز قصو مقصد ښکاره دی چه هغه عبارت دارشاد اوهدایت څخه و - د فارس په پخوانو خلکو اوعربو کښې هم دداستانو د ویلو طریقه جاری وه - فطرت پرستو عربو ته به د شپې په سپوږمۍ کښې داستانونو ار ویدل ډېر خوند ورکاوه اودفارس دپاچایانو دعیش اوعشرت په لوازمو کښې داستانونه ویل هم شامل و، او ددغو داستانو دوینا څخه به مطلب صرف د پاچا خوشحالول و - په کوم وخت کښې چه په عربو داسلام روښانه لمړ را وخوت نو په دغه وخت کښې د عربو توجه دې شیانو ته ډېره لږه شوه او داشیان د وی بالکل ممنوع ګڼل . دد وی افکار بالکل بدل شول - په کوم وخت کښې چه د وی دی فن سره شوق درلود الف لیله د عربو په دې فن کښې لوی شاهکار اوجګه نمونه وه په منځنیو پېړو کښې اروپانه یوازی نثری اونظمی افسانو کښې بوخته وه بلکه ډرامو هم په دوی کښې پوره رواج درلود تر اتلسمی پېړۍ پوری په اروپا کښې د فرضی « پیریانو - دیوانو » اودفطرت څخه دپورته انسانانو افسانو ډېر قدر درلود لیکن دصلیبی جنګونو د انقلاب نه وروسته اسلامی تهذیب په اروپائی تمدن کښې داخل شو او د دغه کار په اثر په دغه ټول بر اعظم کښې دبیدارۍ حس خپور شو کم وخت چه ترکو قسطنطنیه فتح کړه نو دغه کار دارو پایانو دپاره دعبرت یوه بله کروړه شوه - دیونان او روم پوهان ایطالیاته وتښتېدل او په دغه ځای کښې میشت شول اوله دې کبله دغه ځای د لوی علمی مرکز حیثیت پیدا کړ اوله دغه ځای څخه د بیدارۍ او اصلاح وړانګی خپرې شوې اوله دغه ځا به د پخوانو علمو نو چینی روانی اودعلم تږی زړونه پرې خړوب شول، په کوم وخت کښې چه دنپولین جنګونو ټوله اروپا وخوځوله نوددغه کار په اثر دارو پا ټول دنندا رو ځایونه وران اوبند شوه .. اوهم له دغه وخت نه دنثری افسانو عروج شروع شو او په ناټکو نو کښې به خلکو افسانی اوریدلی - ورو ورو هغه ورځ هم راغلی چه د عقل په رونما کښې خلکو ته پخوانی توهمات بابیزه ښکاره شول - هر کله چه دعلم دیوی څانګی دترقی څخه نوری څانګی هم ارومرو متأثری کېږی نوله دې کبله په کوم وخت کښې چه په خلکو کښې دامفکوره پیدا شوه چه په علومو کښې دمعقولاتو او په فنونو کښې داصلیت شته والی ضروری اولازمی شی دی نو دافسانو پخوانی طرز تبدیل ئې هم یو ضروری کار وګاڼه په دغه وخت کښې په فرانسه کښې دعوامو او پورته خلکو په منځ کښې هم لږ ډېر اختلافات اودیو بل څخه څه قدر ته نفرت پیدا شوی و، ددغه کار په اثر په فرانس کښې یو لوی انقلاب جوړ شو چه ددغه انقلاب دبیرته کیدلو سره سم دجمهو ریت اثر قائم شو او دی دجمهو ریت احساس هم په افسانو باندی پوره اغیزه وکړه - په دغه وخت کښې بنی نوع انسان اوخصوصاً دمظلومو طبقو سره په خلکو کښې دخوا خوږۍ اومینی احساس پیدا شو - او په افسانو کښې د پاچایانو ځای معمولی خلکو او دفطرت څخه دپورته واقعاتو ځای فطری واقعاتو ونیو او دغه شیان دافسانو اصلی موضوعات شول - دفطری افسانو موجدان فرانسویان ګڼل کېږی دحقائق نګارۍ هغه فنی شکل چه ن په ناولونو اولنډو کیسو کښې لیدل کېږی هغه هم ددغه مسعود آغاز انجام دی .

د ادبیاتو د تاریخ اهمیت :

ښاغلی محمد قدیر خان « تره کی »

دادبیاتو تاریخ سنگه لیکل کیژی

لکه چه وعده شوېده ښاغلی تره کی له دې عنوان لاندی یوه سلسله مضامین مونږ ته رالېږی چه د پښتو ادب ته یو ښه خدمت بلل کېږی ځکه د صحافت څانگه له دغه یوه لیکونکی څخه تشکر کوی او په ښه سترگه ورته گوری .

پښتو ټولنه ، ددې دپاره چه د پښتو ژبی په هره خوا کښې خدمت وکړی او د ژبی په ټولو تیا رواو هیرو شو وزوایا وئی پوره رڼا وغور ځوی - د خپلو نورو مفیدو او گټورو کارونو په لړ کښې غواړی چه د پښتنو شاعرانو او ادیبانو د آثارو او د واوینو او تذکرو په را ټولولو د پښتو ژبی دادبیاتو تاریخ هم تدوین کړی . لکه چه ددی ښه او مفید اثر ځینی وثایق لکه پښتانه شعراء او نور... خپاره هم شوه او ځینی د خپرید لو په شرف کښې دی لکه پټه خزانه او نور - زه د همکاری په نامه او دهغی وظیفی د ایفاد پاره چه هر پښتون دهغی په ایفا د خپلی ملی ژبی پښتو د تعمیم او ترقی په لیار کښې پری مؤظف دی غواړم چه په یو څو مقالو کښې دادبیاتو د تاریخ د تدوین په شاوخوا کښې څه ولیکم او په دی مهم کار کښې د پښتو ژبی ښاغلو پوهانو سره په دی لیار کښې که وکړی شم د خپل توان سره سم یوه جزئی مرسته وکړم او ځینو نورو هغو علاقه مندانو ته چه په دی لیار کښې ئې قلم او قدم اخستی یو نصب العین وړاندی کړم ؛ دا ښکاره او معلومه خبره ده چه په یو جمعیت او ټولنه کښې د اجتماعی ژندون د ځینو ایجاباتو په اثر ځینی بدیع افکار او حسیات پیدا کېږی چه که دغه افکار او حسیات د ژبی او قلم په ذریعه بیان کړشی نو ادبیات ورته ویل کېږی - او د ادبیاتو تاریخ عبارت د دی لسانی او قلمی آثارو او ادوارو او تطورا تو څخه دی .

که د یو کام د ادبیاتو تاریخ په ښه ډول سره جمع او تدوین کړشی او د ذکر شوی بدیعی ژوندون مراحل په هره دوره کښې واضح شی نو په دی صورت کښې دا کیدلی شی چه د دغو ادبیاتو له رویه د هغه ملت د ژوندون ټولی ریشی په هره دوره کښې وپېژنو .

دادبیاتو تاریخ هم لکه تاریخ د تیروشو وو ختو څخه بحث کوی لیکن کوم فرق چه د تاریخ او د ادبیاتو د تاریخ په منځ کښې دی هغه دادی چه کوم واقعات چه په تاریخ کښې لیدل کیږی هغه هماغه واقعات وی چه په ماضی پوری ربط لری او نن ئې بی له نوم څخه بل اثر نه لیدل کیږی لیکن کوم موضوعاتو چه دادبیاتو په تاریخ کښې ځای نیولی دی هغه د همیشه د پاره ژوندی او موجود وی .

د مثال په ډول په کوم وخت کښې چه مونږ د خوشحال خان خټک دیوان لولو په دغه وخت کښې د هغه د عزم او ځوانمردی

نور په ۳٤ مخ کښې

ادبي پېټنې:

معرفة الافغاني

یا په احمد شاهي دوره کښې د پښتو یو مهم متن

ښاغلي حبیبي

دنړۍ دکتاب پاڼې سره اوړي را اوړي، څوک ځي، څوک نوي پرنړۍ قدم زدي، په دې اړو دوړ کښې ځینې انسانان دشقاوت پرخوایون کا، او ځینې بیاهم دځان هم دنورو لپاره دسعادت وسایل تهیه کوي.

هغه وخت چه زمونږ دهیواد نوموړي امپراطور اوډېر نیک بخت سړي یعنې اعلیحضرت احمد شاه بابا

د ۳۳ مخ پاتې

او میړانې حسیات او افکار هر وخت زمونږ په خیال کښې تجسم کوي - بې له دې بل فرق هم دتاریخ او دادبیاتو د تاریخ په منځ کښې شته او هغه دادی چه یو معاصر مؤرخ چه هغه تاریخ دعلمي نقطې نظر څخه لیکي هغه دا کولی شي چه تاریخي وثائق په بې طرفانه ډول دخپل تحقیق او تدقیق لاندې ونیسي لیکن داد بیاتو مورخ دا اقتدار نلري او حتماً دشاعر او ادیب اوو یونکي دمعنوي نفوذ او اقتدار لاندې راځي او ډېر ئې ستائي.

ډېر ځله له دې کبله داخبر پېښږي چه داد بیاتو مؤرخین مختلف اذواق او مسلکونه لري او ددغه کار په اثر ځینې خلق یو شاعر ته جګ مقام ور کوي او بل مورخ هغه ته په کوم مقام قائل نوي.

نو له دې کبله د ادبیاتو مورخ په هغو آثارو کښې چه دده د تحقیق لاندې وي بې طرفه نشي پاته کیدلی او دپخوانو شاعرانو او ادیبانو په مقابل کښې دیوه منقد وضعیت پیدا کوي - یا په بل عبارت هر کله چه د ادبیاتو مورخ بې طرفه ندي نو منقد دي، له دې کبله دادبیاتو ټول تاریخ دادبي انتقاداتو یوه سلسله ده او دادبیاتو مورخین د شعر او ادب منقدین بلل کیږي. په دې ځای کښې چه د تنقید نوم منځ ته راولوید غواړو چه دخپلو معلوماتو په دائره کښې دننه دننه ددغه لفظ علمي مفهوم بیان کړو. تنقید په ټولو مواردو او خصوصاً دادبیاتو دتاریخ په زمینه کښې عبارت دشعر او ادب دنقد څخه دي خو په داسې صورت چه په ادبي نقد کښې دهغه شعر او ادب چه دتنقید لاندې دي اصلي مقام او منزلت په ډېر وضاحت سره وټاکل شي.

تر دې ځایه پورې زمونږ بحث دادبیاتو دتاریخ دماهیت په شاو خوا کښې و او په بله ګڼه کښې به په یوه بله زمینه کښې چه عبارت د ادبیاتو دتاریخ دتحقیق او دلیکلو داصولو څخه دي بحث وکړو که خدای کول.

دپښتنو دحکمداری اومشرتوب بیرغ پرهیواد اوړ کړ اودامملکت ئې دپر دوله یرغله وژغوره دلته ډېر داسی خلق وه چه دهیواد دسعادت په لار کښې زیارونه کښل ځینو توری وهلې ځینو قلم اوچت کړ ځینو هیوادودا ناوه، او ځینو به داسی هم وه چه کوم کار ئې نه وی کړی ؟

دتاریخ پاڼی لکه هنداری داسی دی هغه ښکلی اومبارکی څیری مونږ ته راښکاره کوی چه دوی خپل هیوادته څه نه څه خدمت کړی وی یائی اقلاً ښه نیت او اخلاص اوصداقت درلود.

بالعکس داسی اشخاص هم راښئی چه دوی له هیواده سره مینه نه لرله ، اویائی داسی چاری غوره کړی دی چه وطن ته ئې ضرر رسولی وی مونږ چه تاریخ لولو هم ددغه لپاره دی، چه داسی ښه او بدخلق پیژنو ، ددوی له اعمالو او اقوالو څخه عبرت واخلو ، دښو پیروی وکړو له بدو ئې ځانونه وژغورو .

په دولسمه هجری پیړی کښې زمونږ وطن ډېر وتیارو نیولی و دافشار نادرشاه یرغلونه جاری وه څو کاله پښتنو پرهرات سرونه ورکول بیایو کال قندهار په وینو لړلی و بیا په غزنی او کابل کښې هم ددې شواخون هنګامه توده وه .

تر (۱۱۶۰ه) وروسته چه احمد شاه بابا ددې هیواد دچارو ملونی پخپل غښتلی لاس کښې ونیوی نود آموله غاړو څخه بیا ترخیبر اوهراته داهیواد دامنیت او سوانی په پلو شورون شو دلته هر څوك په ځان وپوهیدل اوهرچا خپل کار ته لاس ورته کړ .

په دغو وختو کښې دکاکړو دزوب په غرو کښې یو سړی اوسیدچه څښتن دده په طبیعت کښې یو علمی او ادبی پوخ استعداد ایښی واو دپښتو نخوا دشنو بڼو یو خوشنوا بلبل ګڼل کیدی .

داسړی دخپل غښتلی طبیعت اورڼی قریحې په زور باوری اوله زوبه دقندهار ښکلی ښارته راغی ګویا بلبل و چه دغرو له ځنګلو څخه راوالوت اودارغنداو په ګڼو باغو کښې ځالی وکړه .

هغه وخت چاته دانه معلومیده چه دا خوشنوا بلبل به د پښتو دادب په زرغونه بن کښې دخپلو خوږو نغمو اونارو شورجوړ کړی هغه وخت چادانه ویل چه دا ستوری به وروسته دپښتو دادب پرهسك باندی ډېر روڼ وځلېږی !

داسړی پیر محمد نومېد : راغی په قندهار کښې میشته شو تحصیل ئې وکړ ، دلوست او زده کړی په برکت دښه علم خاوند شو ، څوچه داحمدشاه بابا په کورنی مکتب کښې په استادی وټاکل شو .

پیر محمد دشهنشاه ددربار او کورنی استادشو عزت اوحرمت ئې وموند ، داحمد شاه بابا زامنو ته ئې لوست کا ، خودپښتو په فکر کښې هم وواود خپلی ژبی ادب ته ئې دخدمت کولو شوق در لود .

زه دانشوای ویلای چه دپیر محمد مشوق څوك وو خودونی ویلای شوای ، چه پخپله شهنشاه به هم کله کله قلم اخیست ، اوپښتو اشعار به ئې لیکل وزیر شاه ولی خان بامیزی چه ددربار لوی رکن اوصدراعظم وهم ئې علما اوپوهان روزل .

نوچه زمونږ کاکړ پیر محمد په دربار کښې دستر واکمن اشعار را وریدل ، دده رڼه قریحه لاپسی صفا کېدله، اودپښتو ادب ته ئې تخنك زیاتېدی .

څه سر دی ګرزوم پیر محمد په دربا کښې ښه شاعر شو ، دپښتو شعر یودیوان ئې جوړ کړ ، اولکه شمس الدین کاکړ چه وایی ګور لره ئې هم دشعر ارمان یووړ .

ځینی خلق وایی : چه انسان مړشی ، نودده نوم نښان ، هم ور سره مری ، مګر داسی نده ، مکارم اوسیرئې تل ژوندی پاتېږی ، دقلم دخاوندانو افکار تل ژوندی وی ، اوس څوزره کاله وروسته مونږ دفلاطون او ارسطو افکار لولو ، ددوی مکارم هیڅکله نه مری !

پیر محمد هم ښایی چه په تیموری دوره کښې مړشو ، اواوس دقندهار په شمالی څنډه کښې دشاه دولی پرغاړه دلوی څښتن په رحمت کښې په تورو خاورو کښې پروت دی ، مګر داسړی هغسی لکه ستر واکمن

احمد شاه بابا چه یادېږی ، دی هم په ښویا دېږی ، او دپښتنوالی په‌دنیا کښې کورټ دده نوم او نښان نه هېرېږی !

څوپېړۍ تېری شوې ، اوس چه دلته دده په‌نامه قلم چلوم ؛ اود پښتنوالی په‌دنیا کښې دده له روحه استمداد کوم، اوپه ښه‌نامه ئې یادوم،دادده حق دی اوپر پښتنو ډېر نور حقوق لاهم لری .

دنیا تېرېدونکې ده ، هر څوك مری ، خو سخ هغه چالره چه آیندگان ئې په ښووستایی ، او دده نوم دنړۍ پر کلکه تخته په‌بدونه وی لیکلی .

پیر محمد کاکړ ددنیا په اړو دوړ کښې پخپلو علمی مشاغلو بخت و ، ستروا کمن مړشو ، پښتانه ئې به ناورین اخته شول ، وروسته دده زوی سلیمان پاچاشو ، داسلیمان دپیرمحمدشاگردو، اوس پیر محمد دپاچا استاد شو ، مگر اوس نه پاچاپاته دی ، نه استاد خو فقط هغه خویو کچنی څوپاڼی کتاب پاته دی ، چه‌پیر محمد د خپل شاگرد پاچا (سلیمان) په نامه وکیښ .

وگوری : زمانې مشر شهزاده (تیمور) له هراته راوپاڅاوه ، اوسلیمان ئې ړوند کړ پاچهی ئې ولاړه ټول ورونه هم‌مړه‌شوه ، خودپیرمحمد علمی کارنامه دسلیمان په‌نامه‌پاته‌شوه، اودهغه ناکام‌ټولواك‌نوم ئې ترقیامته ژوندی کړ، څوك‌چه‌وایی(ادب‌نحوست لری) دلته دی وگوری‌داخونحوست‌ندی،ادبی‌ژوندون‌دی.

پیر محمد دپښتو ژبی له‌لمړ نیو لیکوالو څخه دی چه‌ده ددې ژبی دلغاتو او کلماتو دټولولو فکر وکړ او دژبی‌ابتدائی گرامری اشکال‌ئی‌سره راغونډ کړل اودیوې کوچنی‌رسالې‌په‌ډول‌ئې پر ېښوول ،چه« معرفة‌الافغانی» نومېږی .

نه پوهېږم چه پیر محمد څه‌شی‌مجبور کړی وو. او کوم سایق‌ده ته‌قلم‌په‌لاس ور کړی وو، چه‌دا کتاب وکاږی ؟ خودونی ویلای شم چه دهغه وخت ملی اوعلمی‌فضاده‌ته‌رهنمائی کړې وه: یعنی‌په‌هغه وخت کښې هم دغه ملی احساس موجود وو ، اودپښتو دژوندانه فکر په‌دماغو کښې وو .

په‌هرصورت : ده دغه کوچنو ټې رساله وکښله او دپښتو اوملیت د احساس څراغ ئې ولگاوه ، چه اوس دد غې رڼې ډېوې په رڼا کښې مو نږ هم روان یو ، اوپرهغه لارځو ، چه‌دوی ئې د تللو آرزو درلوده .

تردې لنډی پېژندنی وروسته به‌اوس زه ددې کتاب اجزاء اومباحث دروښیم :

لمړی په حمد او نعمت شروع کوی ، دامنظوم مثنوی دی‌اوداسی وایی :

راشه تل د حق ثنا کړه په ثنا ژبه گویا کړه
داثنا‌په‌زړه‌کښې‌نهال‌که په‌سایه‌ئې‌خنګ‌بال‌که
که‌په‌دې ثنامشغول‌شې په‌دوه‌کونه‌به‌مقبول شې

ترڅو بیتو وروسته په نعت اوبیاداصحابو کرامو په‌ستاینه شروع کوی ، دوهم باب نعت او دریم ئې داصحابو (رض) ستاینه ده ، څلورم‌باب په‌مدح کښې دشاهزاده سلیمان دی ، چه‌دلته وایی :

پس له حمده له درو ده
شوه د شاه‌مد حه‌مقصو ده
پرعالم فیض دجو د شو
دنعمت شکر مقصودشو
د شاه تخت سلیما نی دی
عجب لطف یزدانی دی
زیب وزینت‌دی‌شاه د علم
سیال‌ئې نشته څوك‌په‌حلم
پرمیدان‌دجنگ‌هم‌شیردی
داعداء‌په‌حق شمشیر دی
صاعقه د ده د قهر
ور انوی دد ښمن ښهر
ډېر محکم ئې تخت وبخت‌دی
پردښمن‌ئې آرام کخت‌دی
لذیذعمر ئې پری تریخ کړ
پراخ جهان‌ئې باندی سیخ کړ
سر کښ خصم‌ئی‌مقهور شو
په قلعه دغم محصور شو
پښتانه ور باندی ښا دشوه
له همه غمه آ ز اد شو ه

کور، کاله، کره (۱)

ښاغلی صدیق الله خان «رشتین»

دا پورته دری واړه کلمی که څه هم په یوه معنی دی ، مګر په استعمال کښې ئی یوله بله پوره فرق موجود دی نو ځکه غواړو چه ددی کلمو د استعمال اوفرق په شاوخوا کښې بوخو کرښی ښاغلولو ستونګوته وړاندی کړو .

۱ـ کور: دا نوم د لفظی حالاتو په اعتبار دوه حالته لری : یوئی اصلی حالت دی یعنی چه په خپل اصلی صورت استعمالیږی اوبل ئی دزور حالت دی چه آخرئی مفتوح راځی اوفتحه ئی په (ه) لیکل کیږی، قاعده ئی داده : هغه وخت چه منادی واقع شی اویاور باندی (له ، تر، بی) داخل شی نو مفتوح راځی او په نورو ټولو وختو کښې په اصلی صورت استعمالیږی لکه :

ندائی حالت ـ (د، له ، تر، بی) سره ـ اصلی حالت

یه کوره! ـ له کوره راغلم ـ به کور کښې څوك نشته

داسړی بې کوره دی د کورسو داوخوړم

تر کوره پوری ځم اونور مثالونه

۲ـ کاله : دانوم د کور اعرابی صورت دی بنایی چه د کورو او په الف او «ر» ئی په «ل» بدله شوی وی او کاله ځنی جوړ شوی وی برهر صورت (کاله)

د ۳٦ مخ پاتې

دامدح پسی اوږ دیږی اودشاهز اده په دعا ختمیږی. وروسته په اصلی مقصد پیل کوی، په دې ډول:

پنځم باب: په بیان کښې دهغو الفاظو چه پادشاهان اوحاکمان اوهسی نوراهل ددیوان ئې ډیر استعمالوی.

شپږم باب: په بیان کښې دهغو الفاظو چه دانورخلق ئی وایی .

اوم باب: په بیان کښې دخوراك اودخښن اوداغوستن.

اتم باب: په بیان کښې دهغو الفاظو چه صحرا نشینان او مالداران ئی ډیر مستعملوینه اوسر کار ددوی وی.

نهم باب: په بیان کښې دالفاظو چه ښکاریان ئی مستعملوینه.

لسم باب: په بیان کښې دلغاتو اوداسماو مفرده ودی مشتمل پرشپږ فصل .

اول فصل :ـ په بیان کښې داسماو دهغو څیزونو چه په آسمان کښې دی یاقریب واسمان ته دی .

دوهم فصل: په بیان کښې دحیوانا تو چه ما سوا له مرغانو دی .

دریم فصل: په بیان کښې دمرغانو .

څلرم فصل: په بیان کښې دباقی اشیاوموجوده و .

تردغو لسو بابو وروسته یوفصل د پښتو حروف تهجی دی چه بیانو د پښتو دمخصوصو حروفو امثله هم راوړی، نوراشکال ئی زمونږ له اوسنی رسم الخط سره یوشی دی، فقط (ټ) پسله (ت) په دغه اوسنی شکل راوړی، مګر تر (ط) و روسته یوه بله (ط) زیا توی ، چه لاندی د (ټ) په ډول حلقه لری .

بیانو د کتاب خاتمه دشهزاده سلیمان په نامه په عربی لیکی، او کتاب ختموی. داوه د پښتو د یوه مهم متن معرفی چه په لنډول می و کړه. اویو داسی سړی می درمعرفی کړ، چه څو پیړی ـ ئې دمخه زمونږ دملت په لار کښې قدم ایښی دی، په پای کښې د پښتو او پښتنو الی په نامه مرحوم پیر محمد ته دعا کوم اوله خاوند بخښنه اوښه اخروی ژوندورنه غواړم .

---

(۱) لږلږمی په یاددی چه یو وخت ښاغلی خادم د (کوراو کره) په شاو خوا کښې یو څه لیکلی وو زما په فکر کښې که څه هم له هغه بحث څخه څه پاته نه دی مګر بیاهم که چاته یکښې څه تکرار یا اخستنه معلومه شی نو بښنه غواړم .

اوس یو مستقل شکل دی او مخصوصاً په ندائی، ارتباطی (۱)، فاعلی (۲) حالت کښې استعمالیږی او په نورو حالتو کښې لګی استعمال نشته لکه:

ندائی حالت - فاعلی حالت - ارتباطی حالت

په کاله کوره! - کاله حیران کړی یم - له کاله نه راغلم

چه خه وکړم کاله ته لحم د کاله اسباب می نشته

۳- کره: داهم د کور اعرابی صورت دی واوئی غورځیدلی دی او کره لحنی جوړشوی دی مګر (کره) صرف په یوحالت کښې استعمالیږی چه هغه د ظرفی اضافت حالت دی یعنی کره همیشه مضاف راځی په دی شرط چه دیوفعل دپاره ظرف واقع شوی وی لکه د سلیم کره لحم - زه به د حمید کره ناست یم او په کوم ځای کښې چه دیوفعل دپاره ظرف نه وی نوهلته نه استعمالیږی لکه داجمله چه (دادمحمود کوردی) ددی پرځای داسی نشو ویلای چه دادمحمود کره دی نومطلب دا شوچه (کره) همیشه لازم الاضافته دی په دی شرط چه دیوفعل دپاره ظرف وی.

بل (کره) له اداتو سره هم نه استعمالیږی نوځکه (کره ته لحم) ویل غلطدی.

لنډه دا: چه کوریه استعمال کښې عام دی په هر هر ځایکښې چه کاله، اوکره استعمالیږی کورهم استعمالیدی شی مګر د کره پرځای هله راتلای شی چه دارتباط ادات ورسره راشی مثلاً ددی جملو پرځای له کاله نه راغلم - کاله حیران کړی یم کاله ته لحم د کاله اسباب می نشته - د سلیم کره لحم - د محمود کره میلمه یم داسی هم ویلای شو له کوره راغلم کور حیران کړی یم - کور ته لحم د کور اسباب می نشته - د سلیم کور ته (۱) لحم د محمود په کور کښې میلمه یم

❀ ❀ ❀

او هر څه چه کاله او کره دی

نو دادواړه کلمی په استعمال کښې خاص دی

او عموماً د کور پرځای نشی استعمالیدای لکه ددې جملو پرځای د اکور د حمید دی د حمید کور لیری دی خپل کور می دلته نشته داسی ویل غلط دی: چه دا کاله یا دا کره د حمید دی د حمید کاله یا کره لیری دی

خپل کاله یا کره می دلته نشته

❀ ❀ ❀

بیا د کاله او کره په منځ کښې هم یو نسبت شته، هغه دا دی چه:

کاله د کره په نسبت عام دی

هر چیری چه کره استعمالیږی

کاله هم دارتباط د اداتو په راوړلو استعمالیدی شی لکه ددې جملو پرځای: زه نن د حمید کره میلمه یم - د سلیم کره خوک نشته.

داسی ویلای شو چه: زه نن د حمید په کاله کښې میلمه یم - د سلیم په کاله کښې خوک نشته - مګر بالعکس (کره) عموماً د کاله پرځای نه استعمالیږی مثلاً ددې جملو پرځای: کاله حیران کړی یم - کاله ته لحم - له کاله نه راغلم داسی نشو ویلای: چه کره حیران کړی یم - کره ته لحم - له کره نه راغلم.

داوه په دی باره کښې زما لنډه غوندی رأیه!!

---

(۱) ارتباطی حالت دیته وایی چه یو نوم د ارتباط د اداتو مدخول واقع شی د ارتباط لکه (له، بی تر) او نور دی.

۲- دفاعلی حالت نه مطلب دا دی چه یو نوم دمتعدی معلومی ماضی فاعل واقع شی یادهغه فعل دی دمعلومی ماضی فاعل واقع شی چه هغه حکما متعدی وی لکه خندل، ژړل او نور.

(۳) که خه هم دا استعمال کمزوری غوندی دی.

کره کتنه

په پوهنتون کښې

دادبیاتو فاکولته

ای باغو نه سخ دی ستاوی له بلبلی
چه له لاسه دی یو گر په باغ زرغون شو

ښاغلی « خبر لوڅ ».

تېره میاشت دمرکز جرا یدو داخبره نشر کړه چه وزارت معارف په پوهنتون کښې یوه نوې څانگه وپرانیته ، چه دادبیاتو پوهنځی (فاکولته) ده .

په رشتیا هم د وزارت معارف دا مهم اقدام دملی ادب دروزنی لپاره ډېر قیمتی او د قدر وړ دی ، ځکه چه له ډېره وخته دې مهمی مؤسسې ته د مملکت اړتیاوه ، او دعلم او ادب طرفداران هم په دغه انتظار کښې وه ، چه باید دهیواد د ادب دپالنی لپاره دغسی یوه وظیفه لرونکې مؤسسه موجوده وی .

له ډېره وخته پښتو ټولنه دهیواد په ادبی خدمت کښې گړندی ولاړه ده ، او تراوسه چه کوم ماثر دې مؤسسی په ملی ادب کښې زیات کړی او تکمیل کړی دی ، دقدر وړ دی ، او هم دې مؤسسی څه نه څه دپښتو ادب سره را ټول کړی ، او دکابل مجله هم هره میاشت دژبی په ادب کښې ښې ذخیرې خپروی ،، مگر زمونږ دملی ادب داحیاء او ژوندا نه لپاره یوازی دا ادبی ټولنه کافی نه ده ، داسی مؤسسی ته هم ډېر ضرورت لرو ، چه هلته زلمی ادباء وروزل شی ، او داسی قلموال به پښتو کښې تربیه شی ، چه آینده په هیواد کښې دژبی ادبی خدمتونه چمتو وی ، او هم وکړای شی ، چه دعلم او عصری ادب په رڼا کښې دژبی سیرته دوام ورکړی .

دادبیاتو دفاکولتې دتأسیس خبره چه ماوارویده ، دامی یقین شوه ، چه ددې فاکولتی زلمی زده کوونکی به دمملکت داعصری او حیاتی احتیاج په ښه ډول تر سره کړی . نو ځکه زه وزارت معارف ته خپل تبریکونه دټولو قلموالو له خوا وړاندی کوم .

دادب روزنه او پالنه د هر مملکت لپاره مخصوصاً په دې عصر کښې لمړنی احتیاج دی ، نو ځکه ټول هغه ملل چه په ژوندا نه کښې دسیالانو سره اوږه په اوږه درېدل غواړی ، پخپلو حیاتی چارو کښې ادب ته لمړی درجه ورکوی ، زمونږ د هیواد ادبی تاریخ هم ډېر روڼ او ځلان دی . نو څونی ، لوی او ښه کار گڼل کېږی ، چه مونږ خپل ادب د آینده له پاره پر عصری علمی او ادبی اساس برابر ، هسی وروزو ، چه د آینده زمانې په حوادثو کښې هم زمونږ په ښه راشی ، او هغه پخوانی ادب مو په عصری روڼه ادب کښې خوندی او محفوظ شی .

تر یوه ځایه چه مامعلومات وکړل : دفاکولتې پروگرام ددنیا دفاکولتو سره سم او موافق ټاکلی شوی ، او

د ادبیاتو د فاکولتې لمړۍ ورځ (۷) عقرب ۱۳۲۳



لمړی ډله شاګردان دښوونکو سره

ناست ، له ښی خوا ، ښاغلی ښوونکی اود ښوونی ډله :

(۱) ښاغلی محمد اعظم خان ایازی ښوونکی (۲) ښاغلی محمد کریم خان نزیهی ښوونکی (۳) ښاغلی عبدالحی خان حبیبی دفاکولتې رئیس (٤) ښاغلی سید عبدالله خان دمعارفو معین چه د فاکولتې دلمړۍ ورځی په مناسبت هلته راغلی و (٥) ښاغلی هاشم شایق ښوونکی (٦) ښاغلی عبدالروف خان بینوا ښوونکی (۷) ښاغلی امین میرزا ښوونکی (۸) ښاغلی پاینده محمد خان زهیر ښوونکی .

ولاړه: دفاکولتې زده کوونکی ، بیله (۹) سړی چه ښاغلی محراب الدین خان دفاکولتې معاون دی

زمونږ دهیواد ادبی احتیاجات ټول تر نظر لاندی نیول شوی دی ، دهیواد ادبی تاریخ او ادبی علوم او فنون ، او دشرق اوغرب مهمی ژبی ، او هم د دنیا دادب مفیداو ګټور معلومات ټول په پروګرام کښې داخل دی . هغه علوم چه له ادبیاتو سره علاقه لری اویا په ملی ادب کښې زده کوونکیو ته کومك رسولای شی ، ددې فاکولتی دروس ځینی تشکیل کېږی !

دلته چه زه ددې نوی مؤسسی دتشکیل په مناسبت خپله خوښی ښکاره کوم ، یوه نکته به هم ولیکم ، چه داډېر عمر می په زړه کښې ده ، او ښایی چه پخپله وزارت معارف هم دا اړتیا حس کړې وی ، او د فاکولتې ښاغلی ښوونکی هم ورته ملتفت وی ؛ نوی عصر مونږ ته ډېر داسی احتیاجات او ضروریات را پیدا کړل ، چه پخوا مونږ کورټ نه و ، ورته اړ ، مثلاً پخوا مونږ داوښ او آس او نوروبو ډګانو په ذریعه تګ اوراتګ کاوه ، هغه وخت چه موټر اوار به لرونکی وسایل راغلل ، سمولارو او سړکانو ته اړ شو .

دغسی هم اوس مونږ ټولو عصری علومو اوفنونو ته سخت اړیو ، او ناچاره یو ، چه هر کال د خپلو لیسو اولوړو مکتبو ډېر شاګردان ددغو علومو دزد کولو لپاره وټاکو . مګر نور ټول علوم او سائنس داسی شیان دی ، چه مونږ ئې پوهان او متخصصین هر کله له خارجه راغوښتلای شو ، او یا شاګردان ورلېږلای شو چه دوی هغه علوم اوفنون ټول په خارجی پوهنتونو کښې زده کړی ، او دشهادتنامو سره مملکت ته راشی . اما ادب داسی نه دی ، هرملت او مملکت ځانته ادب لری ، او ځانته ادبی احتیاجات لری ، نو ځکه ښائی چه هر ملت خپل ادب پخپله جوړ کړی ، او پخپله ئې وروزی ، پخپله ئې دژوندانه له مسیره سم کړی .

زمونږ ادب هم کټ مټ دغسی دی ، په دنیا کښې کوم داسی پوهنتون نشته ، چه زمونږ دملی ادب دروس پکښې لوستل کېږی ، یا د پښتو لپاره کوم پروفیسر موجود وی ، مونږ اړیو ، چه پخپله دا اساس کښېږدو او جګی جګی ادبی ماڼۍ پر بنا کړو . نو ځکه زه دې ، فاکولتې ته تر ټولو داهمیت په سترګه ګورم ، او ښائی چه دفاکولتې مسئولین او ښاغلی زده کوونکی او ښوونکی هم دې نکتې ته په ځیرو ګوری ، او په دی پوه شی ، چه دا فاکولته دهیواد ډېر دردونه علاج کوی ، او هر څونی چه دا فاکولته تقویه شی ، دمملکت ملی حیات ورسره تقویه کېږی .

او بله داخبره هم دلته دکړو وړ ده چه دا کار یعنی په فاکولته کښې دملی ادب اساس ایښوول یو سهل او آسانه کار ندی ، داوظیفه تر ټولو کارو درنه او مهمه ده ، ځکه چه دنورو علمی فاکولتو اساسونه دمخه نورو ملتو هم ټینګ کړی دی ، مثلا دساینس مسایل دټولو مللو لپاره مساوی اومثبت دی ، فقط پر هغه لاره تګ غواړی چه نور مترقی ملل پر تللی دی مګر دادب لپاره دلته نوی اساسونه ایښوول غواړی . او باید دا کار په ډېر غور او تدقیق وشی ، ځکه چه هغه اتباع او اقتضاده ، اما دلته ابداع او ابتکار کار کوی .

نوله دې جهته هم ټول هغه محترم ذوات چه په دې فاکولته کښې خدمت کوی ، مهمه او درنه او خورا ګټوره ملی وظیفه پر غاړه لری ، او دوی کولای شی ، چه پخپل زیار او دقت ، دمملکت لپاره داسی خدمت وکړی ، چه هغه ترابده ناهېرېدونکی وی او دتاریخ پر مخو تل په زرین قلم لیکلی پاته شی . بالعکس داهم ممکنه ده ، چه لږ تساهل ډېر کلی تاوانونه ورر سوی .

په پای کښې بیا ددې نوی ادبی فاکولتې له تأسیسه خوښی څرګندوم ، او ښاغلیو ښوونکیو او زده کوونکیو ته ئې توفیق غواړم ، چه دملی ادب سټه پر ټینګ اساس کښېږدی ، او دملی ادب بڼ په ډېرو ښکلیو ګلونو زرغون او ښکلی کړی . والسلام .

علمی څېړنی

د سائنس د مجلې څخه :

د ښاغلی عزیز الرحمن «سیفی» ترجمه

موزون خوراک او د هغه اهمیت

د اښکاره او ډېر و خلکو ته معلومه خبره ده چه ژوندون د روغتیا سره یو تړلی شی دی — لیکن په دې لړ کښې باید په دې هم پوه شو چه د روغتیا مطلب یوازی دا خبره نده چه انسان دی ناروغه نه وی .

بلکه د روغتیا مطلب دا دی چه د انسان جسمانی عقلی — اخلاقی - قواوی په ښه ډول په ترقی او وده کښې وی ، د دې راز روغتیا دار و مدار په موزون خوراک یوری تړلی دی — لکه څنګه چه اکثر خلک د صحت د اصلی معنی څخه خبر نه دی همدغه شان د خوراک د اهمیت او موزونیت څخه هم بی خبره دی — د غه راز خلک د خوراک په استعمال کښې داسی غلطی کوی چه سړی ورته حیران پاته کېږی - دوی د صحیح او غیر صحیح په منځ کښې فرق او تمیز نشی کولی — دوی خپله ډکول خوراک ګڼی هغه شی غذا ګڼی چه یو څو شیان د خپل منځ کښې د یو بل سره ګډ وډ کړی او ترستونی ئی کښته کړی - که څه هم دغه کار د قدرت د قانون څخه بالکل خلاف او د روغتیا د پاره ډېر مضر دی سره د دی دوی د دغه خپل جهالت او ناپوهی پروا بالکل نه کوی او هم له دې کبله دغه راز خلک تل په نوو نوو ناروغتیا ګانو اخته او روغه ورځ په ستر ګو نه وینی .

د نوی پېړی پیاوړی پوهان او د طب د نړی غښتلی د خپلو پلټنو او ډېرو تجربو په څرک کښې دې نتیجې ته رسیدلی دی چه د انسان د ناروغتیا سبب تخمیناً په سلو کښې نوی برخی د دوی د خوراک بی مناسبتی او ناموزونیت دی - او هم دا بی احتیاطی د دوی د تکلیف او ناروغتیا مهم عامل دی - دوی دا خبره هم ثابته کړې ده چه د نفسیات - نباتیات - کیمیا - په شان زمونږ په روزانه خوراک کښې د سائنس عمل هم دخیل دی .

د خوراک د موزونیت د اهمیت په خصوص کښې پیاوړو پوهانو خپل نظریات ښکاره کړی دی چه په دې لاندی کرښو کښې د ځینو پوهانو د نظریاتو لنډ مطلب لیکل کېږی .

« ابرنتی » لیکی چه په دنیا کښې تر بی ربطه خوراک او بی ځایه قهر او خپګان بل زیات مهلک او خطرناک شی نشته .

د سوئتزر لینډ پیاوړی داکتر «برچر برنیر» لیکی چه په نننی متمدن عصر کښې خلک د خوراک څکاک په باره کښې ډیره بی احتیاطی کوی او د خوراک موزونیت ته هېڅوک توجه نه کوی د هم دې ناموزونو خوراکونو په اثر ورځ په ورځ د وجودونو طاقتونه کمېږی او د دې کار په اثر په وجودونو کښې د جراثیمو د قبول ماده زیاتېږی له دغو رنځورو وجودونو څخه په خلکو کښې جراثیم خپرېږی او راز راز بد مرضونه پیدا کېږی .

یو بل پوه لیکی چه څه رنګه خوراک کوو هم هغه شان کېږو - دی د اعقیده لری لکه څه رنګه چه د کامیابی او شریفانه لوړ ژوندون د پاره طاقت اعتماد او ښه جذبات ضرور دی همدغه شان د بشر د هر فرد د پاره هغه ضرور دی چه د ښه او موزون خوراک څخه حاصلېږی کوم شی چه انسان خوری د هغه اثر پرته له نور وجود څخه پر زړه او دماغ هم لوېږی - خوراک زمونږ پر زړه او دماغ پوره اثر لری او زمونږ د زړه او دماغ په ښه والی خرابوالی کښې مهم عامل ګڼل کېږی هم له دی

کبله دیو انسان خوراك ځکاك دهغه دافعالو اواعمالو ارمستقبل پیش خیمه ګڼل کیږی .

دامنلي شوي خبره ده چه مونږ بی له خوراك څخه ژوندون نشو کولی لیکن باید له دې څخه مونږ دامطلب واخلو چه دخوراك مقصد یوازی ژوندون دی بلکه ددغه ذکر شوی جملي مطلب دا دی چه دخوراك حقیقی مطلب او غایه روغتیا اوطاقت حاصلول دی اود روغتیا اوطاقت دحاصلولو اصلی مقصد دادی چه ددغه شیانو په سبوری کښي مونږ خپل وظائف په ښه ډول سره ترسره کړی شو ؛ او که مونږ مناسب اوموزون خوراکونه وخورونو ددي کار په اثر به مونږ دناروغتیاوڅخه بچ اومصئون پاته شو اوکه ناروغه هم شونو دمرض دمنګولو څخه به په اسانتیا سره خلاص شو او په دې مطلب هم باید پوه شو چه داروګان یوه عارضی فائده لری او دارو باید ډېر سخت ضرورت په وخت کښي استعمال کړشی دالحکه چه قدرت د دارو ګانو منافی دی او په وجودونو کښي ئې بو دا را زطاقت اینبودلی دی چه هغه پخپله دمرضونو مدافعه کوی. دنوی او زاړه طب ټول پوهان دانظریه لری چه ددنیا په ټولو دارو ګانو کښي موزون خوراك ښه دارو دی بقراطلیکی لکه څرنګه چه په علاج کښي تر مرکبو دارو ګانو د مفردو دارو ګانو استعمال ښه او مفید دی همدغه شان ترمفردودارو ګانو موزون اومناسب خوراك ډېر ښه او مفیددی - په دې موضوع کښي دامریکی دسر هنری فورډ دمفصل بیان لنډ مطلب دادی چه په راتلونکو وختو کښي به ډېر زر خلك دغذا خواته پوره توجه وکړی او داعلم به یو ډېر ضروری اولازمی علم او د دی کارنتیجه به داشی چه شفاخانی اودرملتو نونه به بالکل معطل او بی قدره شیان وګڼل شی او د نړی د صفحي څخه به امراض دیو غلطتوری په شان محوه شی او خلك به دروغ اوهوسا ژوندون خاوندان شی اوخپل کارونه اووظایف به په ډېره خوشحالی اوښه شان اومطمئن زړه پای ته ورسوی برسېره پردې په نړی کښي به دامنی او امان دوره شروع شی اودانني د جراثیمو اوحو ادثو لا متناهی سلسله به بالکل ورکه شی دالحکه چه د علم الجراثیم پیا وړی په دې خصوص کښي دانظریه لری چه ددغه راز ناوړو واقعاتو سبب یوازی ناموزون اوناامناسب خوراك دی اوله کوم وخت څخه چه ناموزون اوناامناسب خوراك معدی ته ورسیږی هم له هغه وخت څخه په دماغ کښي ناوړه افکار ځای نیول شروع کړی. هر کله چه ښاغلو لوستو نکو ته د پور ته مضمون څخه لنډ ډېر دخوراك اهمیت معلوم شو اوس غواړو چه په دې لاندی کرښو کښي دخوراك اجزا او دهغو په صحیح ډول د استعمال لپاره هم بیان کړو .

دعلم الابدان پوهانو داخبره ثابته کړې ده چه زمونږ وجود دډېرو کوچنو کوچنو خلایاو څخه جوړ او تشکیل شویدی چه پخپله هغوی هم ژوندی اجسام دی او په خپله سره جوړیږی اوورانیږی که مونږ یو ډېر جزوی خیال خپل دماغ ته راولو دغه ډېر کوچنی اوجزوی کار هم دهغو په جوړیدلو اوورانیدلو کښي پوره اثر لری او دانسان هر کار حتی بیده کیدل او ویښیدل هم ددغه خلایاو په ماتیدلو اوجوړیدلو کښي پوره اثر لری اوددغو شیانو دتعمیر اومرمت اوودی دپاره تا کل شوی اومعین خوراك ضروردی. دغه خوراك دخپل کار او وظائفو په لحاظ په اووقسمونو ویشل شویدی :

(۱) پروتین دی: چه ددغه شی په اثر وجود وده کوی اودصرف شو واجزاو په ځای نوی اجزاء پیدا کیږی. لکه هر راز غوښي کبان - هګی - شیدي - مستی - پنیر - جوار مشنګ - اوهر راز دالونه (۲) کاربون هائیدریت داوبو کاربن یا کاربنی غذا چه په وجود کښي غریزی حرارت پیدا کوی او دوجود پلو اور ګونو ته دهغوي دپاره ضروری مواد رسوی اودتودو ملکونو خلك دی شی ته ډېر ضرورت لری. دغه راز مواد ډېر زر هضمیږی، لکه وریجی - غنم - اونوری غلی - ساکو دانه - پټاټی - نشاسته ګڼی - ګاڅری - لبلبو - اوهر راز میوی - ګوړه - شات - اونور خواږه شیان .

(۳) روغنیات: لکه تیل - غوړی - واز ګی - ناریل - بادام غوزان - وچی میوی - شوی . داشیان په وجود کښي غریزی

حرارت پیدا کوی او وجود څر بوی. لیکن داشیان زر نه هضمیږی او ددې شیانو دهضمولو دپاره پروتین او کاربنی غذا ضروری ده.

(٤) معدنی مالگی. چه دخوراکونو په هضمولو او دوینی او هډوکی په جوړولو کښې مرسته کوی لکه مالگه چونه. سوډه. دپوتاش مالگی. او فلسفیت او نور داشیان زمونږ په وجود کښې تقریباً په سلو کښې څلور موندل کیږی او دغاښونو او نورو هډونو په مرمت او جوړولو کښې ډېر کار کوی او په ډېر لږ مقدار په وینه او دوجود په نورو رطوبتونو او غوښه کښې موندل کیږی مگر دا دوهم کار دهر وجود دپاره دومره ضروری دی چه که دانه وی او یائی په خپل منځ کښې تناسب په پوره ډول سره نه وې نو په دې صورت کښې به دغه وجود دډېرو رنځونو سره مخامخ شی.

(٥) او به چه کیلوس ور څخه جوړ ېږی او دغذا اجزاء په دی کښې تحلیل شوی دبدن جز گرځی او هم ددی شی په مرسته وجود دجسمانی فضلاتو څخه پاکیږی.

(٦) حیاتین یا دروحینو غذا. دانا معلوم غوندی شیان دی او په ډېر لږ مقدار په تازه میوو او تازه ترکاریو او عمومی تازه خوراکونو کښې پیدا کیږی داشی دجلدی امراضو مدافعه کوی او دوجود په وده کښې مرسته کوی، او هم ددوی په مرسته وجود دنورو خوراکونو څخه ښه او صحیح استفاده کولی شی او بی له دوی، وجود دنورو خوراکونو څخه پوره او صحیح استفاده نشی کولای.

(٧) سیلولوس: دوجود دپاره ډېر زیات ضروری شی دی داشی انسان دقبض دبد او ناکاره مرض څخه ساتی او کولمی پاکی او صفاساتی هم ددې شی په مرسته په کولمو کښې یوراز حرکت پیدا کیږی چه د دغه مخصوص حرکت په اثر دخوراک پاته بیکاره فضله مخ په کښته ورو ورو وړاندی ځی او دبوله په شکل دوجود څخه خارجیږی. او د احرکت او قوت دمختلفو مېو او ترکاریو او نورو تازه شیانو په واسطه بدن ته داخلولای شی.

لیکن که ښاغلی لوستونکی ددې مضمون څخه دا مطلب واخلی چه له دغو اقسامو څخه څو اقسام راغونډ کړی و ئې خوری او داخیال رکړی چه هم می ځان موړ کړ او هم می دحرارت غریزی او دبدن دنورو قواو دزیات والی او تولید دپاره جسمانی وجود ضروریات په پوره ډول معدی ته وسپارل ددې مضمون مطلب داندی بلکه ددې مضمون مطلب دادی چه باید مونږ هغه شی وخورو چه کوم شی ته زمونږ وجود ضرورت لری.

او هغه دوجود په تعمیر او مرمت کښې پکار راځی او په وجود کښې دکار کولو دپاره حرارت او طاقت پیدا کولای شی.

او په وجود کښې معدنی مالگی او حیاتین او سیلولوس په موزون مقدار داخلولی شی او دجسم په وده کښې مرسته وکړی شی.

دخوراک دفن پوهانو دنظریاتو لنډ مطلب دادی چه ښه خوراک دهغه خوراک نوم دی چه په هغه کښې غذائیت زیات وی او ډېر زر هضم شوی او دبدن جزو گرځی او په دغه خوراک کښې هغه مرکبات وی چه دهغو څخه جسم جوړ شوی دی.

په دی موقع کښې مونږ غواړو چه په دی لاندی کرښو کښې هغه مرکبات ذکر کړو چه له هغو څخه دانسان وجود جوړ شوی دی داددی دپاره چه لوستونکو سره دغذا په انتخاب کښې مرسته وکړی.

پوهانو دخپلو پلټنو او تحقیقاتو په مرسته داخبره معلومه کړی ده چه که دیو متوسط قدی انسان دوجود وزن یو سل او پنځوس پونډه وی نو په دی صورت کښې به دهغه په وجود کښې کیمیاوی عناصر په دی تناسب وی.

او کسیجن ٩٧ پوند - ١٤ اونس

فاسفورس یو پوند ١٢ اونس ١٩ گرین

میگنشیم ٣٤٠ گرین

کاربن ٣٠ پونده

گوگر ٣ اونس - ٢٧ گرین

وسپنه ١٨٠ گرین

هائدروجن ١١ پوند ١٠ اونس

سودیم ١٢ اونس ١٩٦ گرین

نائتروجن ٢ پوند ٤ - اونس

کلورین ٢١٥ گرین

میگی نیز ٩٠ گرین

کیلسیم ٢ پوند

پوتاسیم ٢ اونس ٢٦٠ گرین

باید مونږ پخپلو خو راکو کښې د دې اجزا ومناسب مقدار شامل کړو - دپورته ذکرشوودواړو معلوماتو یعنی دغذائی اجزاو او دجسم د کیمیاوی عناصروتر پیژندلو وروسته دغذایه انتخاب کښې ډېره اساتنیا پیدا کیږی لیکن سره ددې هم باید ښاغلی لوستونکی داخبره هم تر نظر لاندی ونیسی چه که څه هم غذا صافه ښه او قوی وی لیکن سره ددې هم باید غذا ډېره سپکه اوژر هضمیدونکی وی ثقیله نه وی او باید په غذا کښې ډېر محرك شیان هم لږ وی .

لحینی خلك دا خیال لری چه بی له بډایانو نورعام خلك داشی نشی عملی کولای اوله دغو معلوماتو څخه استفاده نشی کولای که څه هم داخیال تر یوی اندازی پوری صحیح دی لیکن زما په خیال دښې غذا دپاره بډائی ضروری نده بلکه که په یوډېر معمولی شی کښې دروغنیادساتلو اوعلمی اصولو مراعات وکړشی هغه معمولی شی دوجود دپاره ددېرو هغو مرغنو اوقیمتی خوراکونو څخه چه بی دلذت او ظاهری تظاهر څخه پکښې دنو روشیانو مراعات نه وی شوی ډېر ښه او مفید وی

دشید واهمیت یومنل شوی شی دی اوددی غذایه اهمیت ټول نوی اوزاړه پوهان قایل اومتفق دی اودټولو دنظریاتو خلاصه داده چه شیدی یوه ډېره مکمله غذا ده اوپنیر اومستې هم دوهمه درجه غذا ګڼل کیږی په هګیو کښې هم دشیدو غوندی پروتینی اجزا ګډوی اوهم مکمله غذا ده .

په مختلف قسم دالونو کښې لحمی اجزاء په کافی مقدار سره موجود وی دمثال په ډول که په غوښه کښې پروتین په سلو کښې (۱۸)وی اوپه کب کښې ۱٤- اوپه هګیو کښې (۱۳) اوپه پنیر کښې (۲۸) او دغنمو په اوړو کښې (۸) اوپه شیدو کښې (٥) نو دمتر وپه دال کښې به دغه ماده په سلو کښې (۲۰)اوپه عمومی دالونو کښې به په سلو کښې تخمیناً (۲۲) وی اوکه په کومو لحایو غوښه په کافی مقدار سره نه پیدا کیږی نو خلك له دغو شیانو څخه دخپل وجود دپاره لحمی اجزاء حاصلولی شی .

په اومو تر کاریو کښې لکه مولی- ګازری تپیر - بادرنګ اوتری او تازه نوری میوې شوی حیاتین په ډېر مقدار سره موجودوی له دې کبله باید د میو واو ترکاریو خوراك نه پوره توجه وکړشی.

که څه هم اوبه خوراك نه ګڼل کیږی لیکن لکه دټولو نباتاتو په شان اوبه دانسان د ژوندون دپاره ډېر زیات ضروری شی دی اودلوږی په نسبت انسان له تندی څخه ډېر ژرمری - د ډوډی- د خوړلو څخه وروسته سمدستی اوبه څکل ښه عادت نه دی اودسهار وختی په نهر اوتش نس لږ غوندی یخی اوبه څکل ډېره فائده لری .

معدنی مالګې هم باید ډېری استعمال کړشی اوکه دغه شی په خوراکونو کښې شامل نه کړشی نو په دغه صورت کښې انسان په رازراز نارو غیواخته کیږی او هېونه ئی بالکل وده نکوی اوکه په وجود کښې اوسپنه نه وی نو په دی صورت کښې په بدن کښې وینه نه جوړیږی باید دکوچنیانو په خوراك کښې غیرمحرك شیان لکه تازه ترکاری اوغوړاومیوی اوشیدی په کافی اومناسب مقدار شامل کړشی - حکیم لوئیو شس - دا نظر یه لری چه که یوسپین زیری سړی تل په ډوډی- اوشاتو مداومت وکړی اوبل شی ورسره ګډ نه کړی نودی به بالکل نارو غه نشی .

کوم خلك چه جسمانی کارونه کوی دهغوی دپاره ډوډی- او غوړ ښه او مفید شی دی اوکوم خلك چه دماغی وظائف لری دهغوی دپاره مقوی اودماغی غذا ګانی لکه مغزیات وچی میوی او تازه میوی او کوچ اوشیدی ډېر ضروری دی.

دوجود دتازګی اوودی دپاره دخوراك دشیانو انتخاب اودهغو داجزاو د ترتیب او مقدار مراعات ډېر ضروری شی دی اوسره ددې دعمر اوقدوقامت اوموسم ، آب هوامراعات هم په کاردی - دمثال په ډول د کوچنیانو د پاره شیدې ډېر ښه شی دی اوله دی کبله چه په کوچنی والی کښې د کوچنی وجود وده کوی له دې کبله دهغه وجود دنشائسته ئی غذا ګانو څخه پروتینی غذاته ډېر ضرورت لری - اوله دې کبله چه د کوچنیانو جسم وده کوی خوراك هم ډېر خوری لکه چه دځو کلو کوچنی دځوان په نسبت نیم خوراك خوری او دځورلسو کلو کوچنی دځلمی اوپوره سړی په شان خوراك خوری. اوله دې کبله چه دځوانی دپوره کیدلو پوری دجسم دودی دوره «نورپه٤٦مخ»

دښاغلی واسعی ترجمه

دتاریخ فلسفه

(۲)

او د انسانیت په فهمولو کښې ئی رتبه

نو دغه سرایع او مختلف او ډول ډول اجتماعی قوانین چه دهر ټبر دپاره جلاجلا او گوښی گوښی راوتلی دی په تصادفی او اتفاقی صورت ندی پیدا شوی ، بلکه داسره متشابه او یووبل ته سره ورته قوانین دیوه داسی واحد فعال قانون او اصله څخه حکایت کوی چه پدغو ټولو مللو او محیطو کښې مؤثر او کار گردی ، که څه هم دقوانینو او اجتماعی نظمونو جلاوالی په اقوامو کښې چه دهر ملت اجتماعی قوانین دهغه بل ملته څخه مخالف وی ددې دلیل دې چه قوانین یولبله په حالاتو کښی سره مخالف دی ، مگر داخبره چه ملل ټوله داجتماعی قوانینو په درلوولو کښې سره متفق او هر ملت هر ومرو دځان دپاره یو اجتماعی نظم لری داڅرگندوی چه داجتماعی نظمونو اصل او مند که په ټولو مللو کښې یوه او واحده دی .

دفن او صنعت حال هم دغسې دی صنعت او فن دبشر او انسان خپل یو اختیاری کوښښ او زیار دی چه د ذهن او مفکرې دعمل او فعالیته څخه چه دجغرافی او اقلیمی وسط په تاثیر متأثر دی میدان ته راوتلی دی دغسی تجارت ، مال ، او اقتصادی حالات ټولو دیوه واحد اصل او قانون ترنو امیسولاندی ، او په تاثیر ئې متاثر دی .

دیوی ژبی آداب هم ددغه قسمه څخه دی یعنی بالذات او په اصلی اساس کښې ټوله سره یو رنگه ، او ثانیاؤ بالعرض ئې تنوع موندلی او په ډول ډول رنگونو څرگند شوې وی . مثلا یو ځای دقصو او نقلو نو په صورت او بل ځای دملی بدلو په ډول ، دلته د متلونو په لباس هلته د عشقی غزلوا و روایاتو یا دملیحو وینا او نکاتو په شکل کښی راوتلی بل ځای دهسکو خطبو او لوړلوړ وانشاء آتو او تقریر ونو په بڼه څرگند شوی وی ، چه پدغو ټولو اشکالو او مختلفو اسلوبونو کښې دقوم او ملت کورنی او دننني داخلی حال ځنی معلومیدلای شی او دهغه قوم دتمدن او تهذیب مقیاس دی او دعاقبت او دپای دورځی بیان ئې کوی چه ددې قومه څخه څه شی جوړیږی ، او وروستنی ورځ ئی راښئی او لکه او به چه تر خپل منبع نه لوړیږی دغسی یو ټبر او ملت هم نشی کولای چه دخپل دیانت تر حدود او سویه لوړ شی انسانی افراد لکه فزیولوژی ذرات او خلایا یولبله سره مرستونی او معاون او په منافعو کښې سره متبادل او دخپلو پلرو او نیکگانو او زړو پېړیو په دودونو او موروثه اخلاقو او صنایعو کښې تصرف کوی او لاس پکښې وهی . نو دانسانیت ژوند ټوله یو رنگه او وژوند دی

«پاته د ٤٥ مخ»

پای ته رسېږی نو په دې صورت کښې باید ملحمه غذا دپخوا په نسبت لږه استعمال کړی او نور ټول غذا برابر دپخوا په شان وخوری - او زاړه خلك باید دملحمو او نمکی غذا گانو خوراك کم کړی او نشائسته لوکی او خوازه خوراکونه په کافی مقدار استعمال کړی - او او به هم باید په ډېر مقدار وڅکل شی - او ښځو ته دنارینه و په نسبت باید ښه غذا ور کړ شی ، په ژمی کښې باید دووړی په نسبت گرم او طاقت زیاتوونکی غذا وخوړول شی او په دوبی کښې میوی او تازه شیان په زیات مقدار وخوړل شی .

که څه هم د خوراك دو ختونو او مقدار په خصوص کښې دبیل بیل ځای او منطقی خلك ځانته مختلف نظریات لری لیکن په دی موضوع کښې دیو ډېر پیاوړی معمر پوه نظریه داده چه باید په نیمه خیټه ډوډی وخوړل شی او په ډېره مړه خیټه خوراك ډېر مضر کار دی .

د خوراك په وخت کښې ددې کار مراعات هم ضرور دی چه باید په خوراك ډېر زیات شخوند ووهل شی او باید په خوراك کښې دغاښو کار معدی ته ونه سپارل شی .

مگر ښېګڼی او خیر ونه ئی دټو لو انسانانو سره شریک او یو مشاع ملك دی او که د انسان وحدت او په یوازی سر ژوند مشکل او گران کاردی ، تشعب او تبر په تبر ژوندون ئې بیا تر هغه گران او سخت کاردی دا ځکه چه د انسانی عواطفو، او د مصالحو او خواهشاتو اختلاف چه د افرادو تر میانځ موجود دی پدغه واسطه د افرادو تصادم سره راځی د طبیعی قواؤ او جوی او اقلیمی عواطفو تر شدت زیات دی . یعنی انسان که تبر نی ژوندو کړی د طبیعت قوی لکه واوری، بارانونه، بادونه سیلونه، غرونه دری نوری مځکنی خواری دومره زحمت نه پر تیروی او ژوند ئې نه ور تریخوی لکه د یو ځائی ژوند او د وحدت پډول حیات چه ئې عمر ور تریخوی او مشکلات ور پېښوی دا هم معلومه ده چه تر هغو څو ذات وحدت موجود او مرکز ذات وی نو د افرادو او ټولنو او جماعاتو تر میانځ تصادم او اختلاف هر و مرو راځی. او لکه د تبر په تبر د ژوند مشکلات چه مونږ وویل د وحدت تر ژوند ډېر دی دغه رنګه د انسان د وحدت او د همجیت او بربریت د عصر جګړې چه اجتماعی حالت ئې ډېر ټیټ او ټولنی ژوندون ته نه وو راغلی د هغو مللو تر جګړ و چه عصری ژوندون ئې موندلی او علوم و ثقافت او صنعت او اختراع ئې ترقی کړی وی ډېر لطیف او سپک وی. په دغه فوضویت، او د بشر پدغه ایله او ټیټه دوره کښې مونږ د نظم او انتظام نخښی وینو او که پدغه وخت کښې یعنی د تاریخ پدغه دوره کښې ناموس او نظام وجود و نلری نو به د انسان ژوند غیر د یوه تیاره او ډانده تصادفه څخه بل شی نه وی. او که ناموس او قانون په انسان کښې معدوم شی نو د ده ذو جود تصور او طبیعت په کون کښې ممکن دی ؟ او که مونږ دا تصور و کړو چه ناموس او قانون د [illegible] او [illegible] طبقاتو کښې نافذ دی او په [illegible] طبقاتو [illegible] ذ تصور و نکړو، نو به [illegible] او کون [illegible] او کمال او رسوخ پاته سی ؟ ولی یو مضطرب او بی سره او ابله عقل په یوه پوره او د بشپړ نظام په خاوند طبیعت پوری د قرار او ټینګار امکان نلری . د ځینو د اسی طبیعی و امیسو ځایول په یوه داسی عقل کښې چه هغه په یوه نظام پوری نه وی مربوط او تر یوه قانون نه وی لا ندی یو غیر معقول کاردی . او داسی نامعقول کار دی لکه د یوی غیر منظمی او غیر مفهومی ژبی آدابو ته چه څوك حروف هجا معین او وټاکی .

ددې جهته څخه د مفکرینو د مقاصدو څخه یو دا مقصد و چه په تاریخ کښې داسی یو ناموس او نظام راوباسی لکه په طبیعت کښې چه دوی ته بر ېښېدلی دی او د دغه ناموس روښانه کول عبارت د تاریخ د فلسفی څخه دی . مگر بیا هم د مفکرینو پلټنه او بحث په دی ځای کښې سو که او ورودی . او هغه هیله چه دوی ئې دلته کامیابی ته لری تر هغی هیلی چه هلته ئې لری لږده .

دا ځکه چه د انسان داد لاسه نده پوره چه د یوه داسی کون او خلقت تصور و کولای شی چه الهی مشیت او خدائی اراده دی پر نافذه او حاکمه وې او عقل دی پکښې فوضوی او د خپل سروی . او غیر له دغه رابطه څخه تواریخ یوه برخه تیت پرك او متفرق حوادث وی چه نه ناموس او علت لری، او نه ئې آخر معلوم وی چه پای ئی پر څه تمامیږی. نو له دغه جهته څخه پر سړی لازمه ده چه په تاریخ کښې هم پر یوه ناموس عقیده ولری لکه د طبیعت پر شاؤ خوا چه په یوه ناموس قایل دی دا نظریه ز مونږ پای پر دې تماموی چه مونږ د عقایدو او کلام علومو ته التجا وروړو، او دا و منو چه د کون او وجود جریانات د څښتن تعالی تر خوښه او اراده لاندی چلیږی.

د نظام او ناموس نظریه په دواړو خوا و کښې (طبیعت او تاریخ) کښې یوه ضروری او لازمی خبره ده چه په طبیعت کښې ښکاره او روښانه؛ او په تاریخ کښې پټ او په مرموز ډول څرګنده ده ، نو په طبیعت کښې یو ثابت او پر یوه مستقر حالت قوت موجود دی چه تغیر او تبدیل نه خوری او نه ستړیالری مگر په تاریخ کښې هغه قوه (علت فاعله یوه او ښتونکی او متقبله او متعارضه ارا ده ده ـ نو هغه نو امیس چه تاریخی جریاناتو ته تدویر په حاصلیږی عقلی دی او طبیعی نه دی. اقناعی دی ارغامی نه دی او نو امیس په تاریخ کښې دوه قسمه دی، جاذبه، او دافعه دا خبره چه مونږ ته د ځینو دولتو په حیات کښې تذبذب را معلومیږی غیر لدی چه په ځینو عقلونو او ارادو کښې ایمان او یقین یوه حقیقت ته تحول کړیدی بل شی ندی ، او دا کیفیت مونږ ته دا «نوربیا»

د افغانستان پخوانی تاریخ

۱۹

ویدی جغرافیائی معلومات

ښاغلی کهزاد

ویدی سرودونه که څه هم دمذهبی منظومو مجموعه ده مگر دجغرافیی له نقطهٔ نظره هم مفید معلومات ورنه اخستلی شو ، اریایانو چه په ویدی عصر کښې دهندوکش په دواړو خواؤ کښې ژوند کاوه دخپل ژوند صحنه او دخپلو عنعناتو دپرورش او روزنې ځای ئې ښه پېژانده ، اریایان ددې لامله چه ددین او معتقدات تو په لحاظ دطبیعت له مظاهرو سره زیات تماس درلود له خپلې خاورې او دغرو له عمومی خطو طو ، درود خانو له جریانه ، دمهاجرت له لارو او درو ، دبادونو او سیلیو دالوتلو له سمتو او دغرو له خودرویو گلونو ، دځینو بوټو لکه سوماله مخصوصو غرویو څخه ښه خبرو او ویدې باب کښې ئې ښه معرفت درلود . کوم معلومات چه دجغرافیې په باب کښې دسرودونو له متن څخه په لاس راځی ډېر مهم او مفید دی ځکه چه اریایانو لره ددوی دسکونت صحنو کله په بلهیکا او کله ده « کوبها » (دکابل رود) او « گوماتی » (دگومل رود) او « کرومو » (دکرمی رود) په غاړو کښې او کله دلوړو غرونو او رود خانو په لمنو او مستعد و ځمکو کښې د دوی دمادی او معنوی سجایا و او شخصیت په تشکیل کښې ډېر دخل درلود ، پدی کښې هیڅ شك او شبه نشته چه سره دپخوانیو سرودونو دور کاوه چه دسرودونو په مبحث کښې د « مجهولو سرودونو » له عنوان لاندې یاد شوه دهندوکش شمالی صفحات نسبت جنوبی منا طقو ته لږ زیاد شوی او معلوم ویدی سرودونه دجغرافیې په لحاظ له هر ځایه سندهو (سند) او غربی او شرقی معاونین ئې ښه پېژنی او دا مسئله دمتفرقو سرودونو په ټولولو او طبقه بندی پوری زیات ربط لری او هر کله چه دهغو دټولولو او تدوین په وخت کښې زیات هغه سرودونه اخستل شوی چه د (کاپیسا) او پنجاب ترمینځ ویل شوی دی طبعاً جغرافیائی معلومات هم ددې منطقی په نسبت زیات دی که له دی چوکاټ نه بهر شو گورو چه مثلاً (گنگا) په ټولو سرودو کښې له یو ځل نه زیاته نه ده یاده شوې ، او په دغه سبب ویلی شو چه سرودونه همدغه سرودونه دی چه په لاس کښې دی او مجموعاً دویدخلور کتابونه ورځنې تشکیل شو ویدی چه په ټولو کښې پخوانی او قدیم دریگ وید سرودونه دی چه شرقی او جنوبی اریانا چه له کاپیسا نه تر (اودریابو) پوری کېږی ښه پېژنی او سره له دی چه پخوانی سرودونه ورك شوی دی او زیات د تازه سرودونو په استناد خبری کوو بیا هم دسراسواتی حوره (ارغنداب) په جنوب غربی کښې او بلهیکا (بلخ) دهندوکش په شمال کښې یاد شوی او « حلبرانت » جرمنی او « شاند راس » هندی مدقق دغه نقاط دویدی په جغرافیائی قلمرو کښې شامل گڼی او دخپل هواد مربوطه نقاط یو یو مطالعه کوو . « نوربیا »

مشاهیر

دهبوا دنوموړی

علامه حمید الدین فراهی

زمونږ دوطن په علمی نوموړو کښې یو علامه مولانا حمید الدین فراهی دی، چه په دې آخر قرن کښې دده علمی شهرت په هند کښې دونی ډېر دی، چه لوی لوی اساتیدهم دده په علمی نبوغ قایل دی، او دا نوموړی پښتون دهند داوسنی عصر زمخشری گڼی.

ښائی چه زمونږ دوطن خلق به دا مشهور عالم نه پیژنې نو به دغو څو لیکو کښې به دی دخارجی مجلاتو دلیک په حواله ستاسی سره معرفی کړم.

علامهٔ فراهی یو ډېر زبردست دشرقی علومو پوهاند دی، چه تقریباً د (۱۳۰۰ ق) په حدودو کښې هند ته تللی، او اصلاً هم دفراه دی.

پسله هغه چه دی هند ته رسېدلی دی، هلته په علمی ټولنو کښې مشهور شوی، او دعلم او فضل آوازه ئې داسی خپره شوې ده، چه لوی لوی علماء هم دده لیدلو ته تېږی وه، علامهٔ شبلی نعمانی چه دهند یو متاخر عالم او استاد دی، د علامهٔ فراهی په خصوص کښې دېرش کاله د مخه هسی لیکی:

« خلق وایی، چه د کمال خاوند پټ او گمنام نه پاتېږی، مگر کله کله داسی هم کېدای شی، مولوی حمید الدین نومی چه نظم القرآن او جمهرة البلاغه کتب نشر کړی وی، ددې استثنا یو عمده مثال دی، ده په قدیم ډول تعلیم کړی، او له مولانا فیض الحسن صاحب څخه ئې دا دبیاتو تکمیل کړی دی، وروسته دعلمی گډه په مدرسه کښې داخل شوی، او د (بی، ای) سندئې په نوو علومو کښې اخیستی دی، بیا نو تر تعلیم وروسته په گراچی کښې دمدرسة الاسلام دعربی پروفیسر مقرر شو، او ډېر سفرونه ئې په عربستان کښې وکړه، مگر سره ددغه هم ده دشهرت شوق نه درلود، او دغسی پټ پاته شو.

علامهٔ فراهی دمولانا شبلی نعمانی له دغی معرفی سره سم ددې عصر یو نابغ عالم دی، او ده د قرآن عظیم په فهم کښې دابن قیم غوندی ملکه درلوده او ډېر کتب ئې دتفسیر په خصوص کښې ولیکل، او هم ئې د عربو پرادب باندی داسی آثار کښلې دی، چه دده تبحر او علمی نبوغ ښه لحینی څرگند ېږی.

دده مشهور علمی تالیفات دادی: (۱) دقرآن عظیم دسورتو تفسیر (۲) جمهرة البلاغه (۳) فلسفة البلاغه (٤) سلیقة العروض (٥) دلایل الی النحو الجدید والمعانی والعروض والبلاغه (٦) ملکوت الله (۷) الرابغ فی اصول الشرایع (۸) اسالیب القرآن (۹) احکام الاصول باحکام الرسول (۱۰) القاید الی عیون العقاید (۱۱) کتاب العقل ومافوق العقل (۱۲) الاکلیل فی شرع الانجیل (۱۳) اسباب النزول ای نزول القرآن (۱٤) تاریخ القرآن (۱٥) اوصاف القرآن (۱٦) فقه القرآن (۱۷) حجج القرآن (۱۸) کتاب الرسوخ فی معرفة الناسخ والمنسوخ (۱۹) رسالهٔ اصلاح الناس (۲۰) کتاب اصول التاویل (۲۱) مفرداة القرآن یعنی تحقیق معانی کلمات القرآن بالقرآن (۲۲) دلایل النظام (۲۳) الازمان والادیان (۲٤) کتاب الحکمه (۲٥) القسطاس فی علوم الجدیده (۲٦) دیوان العربی.

پاتی په ٥۰ مخ

رابیا او غمی

مور: - دا بادامی نقل چه دلته پراته وه په تاسی یوه د اکار کړی دی!

دوو کښې کم یوه وخواړه!

رابیا: - دا کار د غمی دی - غمی درواغ

رابیا: - مور جانی! ما نه دی خوړلی! وایی!

غمی: - ماهم نه دی خوړلی!

غمی: - ادې جانی! دا درواغ وائی، ما چه

مور: - درواغ مه وایاست په تاسی دوو کښې بادامی نقل خوړله، رابیا بالکل دلته نه وه!

د پخوا په فکر

سر کاتب: - کاتب صاحب! ته ډیر غولیږی - مادر ته وویل چه دا جرائیې مکتوب را کړه تا د علاقداری مکتوب را کړ؟

کاتب عفو غواړم - زه ملامت نه یم، ځکه چه پخوا د تیلفون په اداره کښې نو کروم!

دوه ملګری

بل ملګری: - صبر وکړه، چه لوی شی بیا راته ووایه؟

تازه انګور

راکړی وه ...

انګور والا: - هو، دا انګور هم د هغو انګور و باقی پاته دی!

رشید ... عالم په نامو ... او تحقیق علمی آثار نشر کوی

داسی معلومیږی چه علامه فراهی علاوه پر پښتو او فارسی چه وطنی ژبی ئی وې، په هندوستانی ژبو او اردو هم پوهیدی په انګلیسی کښې په اعلی درجه ماهر وو، او علاوه پر شرقی او اسلامی علومو ئی نوی علوم هم لوستلی وه. که تاسی فقط دده د تالیفاتو او فهرست و کوری نو به هم درته ښکاره شی، چه دا هموطن عالم په دې عصر کښې په عربی علومو کښې څنګه وتلی او نابغه شوی وو؟ او یو وخت به داسی هم راشی، چه دده خپل هموطنان به دده له آثارو څخه برخی واخلی، او وبه ئی مومی او وبه ئی اولی. اوس مونږ په دغو څو کرښو کښې تاسی ته معرفی کړ. (ح)

د پښتو ټولنې د خپرونې نمبر (٦٣)

ملي هنداره

دوهم ټوک

(۲)

ټولوونکی : محمد گل «نوری»

(د کابل په مجله کښې برخه برخه خپورشو .)

بسم الله الرحمن الرحیم

لمړی خبری

دملی هنداری لمړی توك دمخه دپښتو ټولنی له خوا خپور شوی و، ځکه چه دپښتو دملی افسانو اونکلو یوه مهمه برخه پاته وه، نو دادی، چه ښاغلی محمد گل خان «نوری» اوس هغه دوهم توك هم بشپړ کړ، او مونږ ئې د کابل دمجلې په پای کښې برخه برخه خپرو و.

«ملی هنداره» دپښتو ژبی ملی نکلونه دی، چه زمونږ دعامی ادب مهمه برخه گڼله کیږی، او دپښتو دادبی تاریخ غوره او خوږه ټوټه هم دغه ده.

هغه ښاغلی مشتر کین چه دپښتو ادب له دغی برخی سره مینه لری، دمجلې دپای دوې دوې پاڼی دی ساتی، هروخت چه گرده کتاب تمام شو، نو دې سره یو ځای کړی، او دملی هنداری د دوهم توك خاوندان به شی.

او که ئې دمجلې په کالنی مجموعه کښې پر ېږدی، هم به مسلسل وی، او کتاب به تکمیل شی دهری شمارې دوې آخرنی پاڼی اوس دملی هنداری لپاره تا کلی شوی دی، اودهرې گڼی هر جزوته مسلسل نمبرهم ور کول کیږی، چه په تسلسل کښې کومك وکړی.

(عبدالحی حبیبی)

کیسې او نکلونه

(۱)

د طالب جان نکل - یا - ملا عباس او گل بشره

ته واښه ! چه وو، یو سودا گروو ، درې ئې زامن وه دوه زامن ئې له یوې ماینې څخه وه، او یو زوی چه عباس نو میدی د گرانی ماینی څخه ئې وو؛ ددې سودا گر خورا ډېره دنیاوه ، وهیڅ شی ته نه وو اړ دغه د گرانی ماینی زوی ، یعنی عباس ئې په مسجد کښې پر ملا پر سبق کښېناوه ، نور د دنیا کار ئې نه په کاوه په هغه نورو زامنو ئې سودا گری کوله تجارت ئې په زده کاوه ، دا هلك هم خورا د سبق او د علم شوق درلود، گرده ورځ به ئې سبق وایه .

په دغه مسجد کښې یوه د باچالور ده چه گل بشره نومیږی داهم پر ملا سبق وایی؛ څه سردی گرزوم دا هلك چه عباس نومیږی او د باچالور گل بشره په دغه کو چنیوالی سره مین شوله ، څه سردی گرزوم عمر دی تیر یږی ، څو دواړه غټ شوله ، منگر په سبق کښې گل بشره تر تېره وه ،ولی چه هغه تر ده دمخه لا پر سبق کښېنستلې وه؛ په مابین کښې- سودا گر خدای وژلی وو، مړ سو؛ پس له څو عمر چه د پلار پاتا ئې واخستله شوه، دغو نورو ورو نو ئې بدور سره کول ،سبق ته ئې نه پرېښو ویل راشه زمونږ کار کوه، عباس ډېر په تنگ شو مور ئې ورته ویله چه زویه ! راشه خپل وېش ځنی و کړه، ولاړ به شو یو بل ځای ته ته به هم خپله سودا گری کوې - اوس نو بسته پخپل لمانځه واوداسه پوه شولې دغه د خپل پلار سودا گری کوه سبابه نه په رانیولو پوهیږې نه په خر څولو اریان به پاته یې پر یوه گوله ډوډۍ به قدرت نه لرې ورونه به دی سودا گری کوی خانان به وی !

عباس ورته ویل چه یه ، ادې چه زه ژوندی یم ، سبق وایم ، پرماد دنیا کار حرام دی که ئې و کم زه د سبق شوق لرم، د دنیا حب نه یم اخیستی دنیا دی ورونو ته پاته وی، تا ته دی یوه گوله ډوډۍ در کوی.

خو څه سردی گرزوم ، مور ئې هم ویل ښه دی زویه چه ستا خوښه ده زما خوښه ده ، لنډه دا چه عباس د ملا داسی خدمت کوی چه توبه ! هر ورځ مسجد جار و کوی ، او پاشی کوی ئې ، اوس عباس د « طالب جان » نامه مشهور شو. د دغه په هیسته باره کور ته هم نه ورتلی، دالته په مسجد کښې ئې حجره ونیوله ، څه سردی گرزوم د خدای شپې او ورځی دی تیر یږی د باچالور گل بشره غټه پېغله شوه، طالب جان هم لوی شو، ځلمی دی وروسته ملا راغی د گل بشرې پلار ته ئې وویل چه اوس نو بسته ، لور دی غټه شوله ډېر سبق ئې و وایه - اوس ئې نو کور کښېنوه ، په ستر ئې کړه مبادا انسان دی نفس و شیطان لری،

سبا یو څه پېښه نه شي، ستا به هم رنګ ژېړ شي زما به هم.

آبس باچا هم لور د مسجد څخه منع کړه، کور ئې کښېنوله دلته نو د طالب جان او ګل بشرې په زړه یو الله خبر دی، چه پر دوی څنګه شپې او ورځې تېریږي! یوه ورځ د طالب جان د توانه ووتل هیڅ رسد ئې نه ورته کیږي؛ خو ورغی د باچا د سرای دروازې ته کرار ئې د دروازې ځنځیر و شرنګاوه، چه ګوندی ګل بشره ئې واروی، راشي یو دیدن یو سوال و جواب سره وکو؛ ګل بشرې چه د دروازې د ځنځیر شرنګی واروېدی، راولاړه شوله، که ئې کتل تر دروازې ترچا کو ئې طالب جان ولید ناره ئې پرو کړه:

زه په مین سړی پو هېږم — د دروازې په ځنځیر ځان مشغولوینه

وروسته ملا عباس ناره پرو کړه:

د دروازې به دی ملنګ شم — دیدن به ستا کم رزق به خدای را رسوینه

وروسته ګل بشره پټه راغله ورته، د دروازې ترشه ئې خبری ورسره وکړې ویل ته بې تابی مه کوه نو ئې په دغه نصیحت کښې ناره پرو کړه:

صبر کوه خدای به می در کی — په بې صبری معشوقې چاموندلی دینه

بیا طالب جان ناره پرو کړه:

صبر په هر څه کی په کار دی — به عاشقی کښې بې صبری مزه کوینه

ګل بشرې په جواب کښې ناره پرو کړه:

صبر په هر څه کښې په کار دی — په صبر صبر معشوقو لاس ته راځینه

وروسته ئې طالب جان ته ښه د زړه ډاډ ور کړ، چه ته په دغه مسجد کښې اوسه، صبر وکړ، خدای به می در کړی، خدای به موسره یو ځای کړی، خدای مهربانه دی. زه به هر ماښام د مینځی په لاس ډوډۍ درلېږم، زما زړه خو هم تا راڅخه وړی دی، بی غمه اوسه، پر ما بل مېړه حرام دی؛ او دغه ډوډۍ زما وستا نښانی ده، که هر وخت دغه در څخه منع شوه نو پوه شه چه زه نه یم، یا یو څه پېښه ده؛ !!! ده ویل ښه دی! طالب جان بیرته حجرې ته راغی، زړه ئې خوشاله شو پس له دغه به هر ماښام ګل بشرې ښه دور جو دغو ښو غاب ډکاوه د مینځی په لاس به ئې ور کاوه مینځی به طالب جان ته راوړی ..... یوه ورځ طالب جان د حجرې پر بام پروت دی سبق ګوری؛ په زړه کښې ئې د خپلې مینی مینه ده ظاهره کتاب ته ګوری؛ د ځان سره ګډ دی چه دا د کتاب اشې لکه زما د مینو خالونه داسی دی؛ اها! د دې ترشنو خالو جار شم! هلته د باچا لور ګلبشره پر بام ختلې ده؛ مسجد ته ګوری چه ګوندی طالب جان ووینی، کې کتل چه طالب جان کتاب ګوری، او وایی چه د دې کتاب اشی لکه زما د مینی خالونه داسی دی، مینی ئې دا واروېدله د هغه ځای څخه ئې ناره پرو کړه:

طالبه خدای که به ملا شې — پر کتاب پروت ئې یا دوې شینکی خالونه

طالب جان چه پورته وکتل د بام د تیغې څخه ئې د ګل بشرې مینی سر ولید و ئې پېژندله چه دا ناره دې وکړه نو ده هم ناره پرو کړه:

تر دېوال دوې ګوتی سر لوړ که — د زنی خال به دی دېوال وسو لوینه

ګل بشره بیرته کښته شوله، ملا عباس فکر وکړ چه ولچی رشتیا ئې درته وویل سبا به امی پانه ئې یه ولچی دا پخپله راشی که باره زی یکښې ووهم وروسته به هره شپه پر کتاب پروت وو کتاب بې کوت، مینځی به ډوډۍ راوړه هلته به ئې ورته کښېښووله، دا به ورته ولاړه وه طالب جان چه به یو وخت سر را پورته کړ هغه به ګرده یخه پخه شوې وه ده به وخوړه یو ورځ ګل بشرې د مینځی څخه پوښتنه وکړه چه ته ډوډۍ وروړی طالب جان

ملي سندري

داکتاب په تقریباً (۲۰۰) مخکښې نوی چاپ شوی دی، ملی لندی، داتن ناری او دبابولالی سندری او مفصله مقدمه لری.

خو نوی تمام شوی له پانوځای څخه

ئې واخلیء

یادونه

دکابل مجله له تولو لوستونکو، او داخبارو او مجلاتو له خاوندانو څخه هیله لری، چه که کم مضمون له دې مجلې څخه اخلی، حواله دی ورکوی.

(دصحافت څانګه)

دکابل ګالنی

۱۳۲۲

له تاریخی، ادبی او اجتماعی، مهمو مقالو، دا خلی او خارجی وقایعو سره مصوره او په ډېره ښه او ښکلی قطع په دې ورځو تازه نشرشوې ده، له پانوځی څخه ئې په معین قیمت رانیسیء.

КГ